


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غازي امان الله خان

## د افغانستان د خپلواکۍ

## ستوری

PROPERTY OF
ARIC
Established
1988

د مقالو ټولګه

لیکوالان

بیلابیل

(c) ketabton.com: The Digital Library




## د کتاب ځانګړني:

د کتاب نوم :: غازي امان الله خان، د افغانستان د خپلواکۍ ستوری
(د مقالو ټولګه)

لیکوال :: بېلابېل

خپرندوی :: د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه ـ جرمني

چاپ کال :: ۱۳۸۴ ل (۲۰۰۵ ع)

چاپ شمېر :: ۱۰۰۰ ټوکه

د خپرونو لړ :: (۷۲)

کمپوز :: ذبیح الله شفق

د چاپ زیار :: سید عبدالله پاچا

چاپ او کمپیوټر ځی

د دانش خپرندویې ټولنې تخنیکي څانګه ـ پېښور

Tel:+92-91-2564513/Email:danish2k2000@yahoo.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست


| ګڼه | سرلیک | لیکوال ویناوال | مخګڼه |
|---|---|---|---|
| ۱. | سریزه | خپرندویه ټولنه ........ | ۱ |
| ۲. | د ټولنې د مشرتابه جرګې په استازیتوب پرانېستونکې وینا | زرین انځور ........ | ۳ |
| ۳. | اماني دوره ـ د افغاني رنسان دوره | لیکوال: احسان الله د افغانستان ژباړن: پروفیسر ډاکټر محمد اکبر وردګ | ۱۲ |
| ۴. | نقش روحانیت بنیادګرا در ضدیت با تجدد ګرایي رژیم امانی | کاندیدای اکادمیسن سیستانی .... | ۳۲ |
| ۵. | اعلحضرت امان الله خان او افغانستان ته د هندي مسلمانانو هجرت | ډاکټر عبدالعلي ارغنداوی ........ | ۷۹ |
| ۶. | خاطرات آخرین سالهای زنده گی شاه امان الله در اروپا | هندیه د افغانستان ........ | ۱۰۴ |
| ۷. | اقدامات شاه امان الله در زمینهٔ اصلاحات اجتماعی و عکس العمل های مردم | داکتر محمد اکرم عثمان ........ | ۱۰۹ |
| ۸. | امیر امان الله خان د پښتنو او پښتون په نظر کې | پروفېسر ډاکټر وقار علي کاکاخېل. | ۱۲۲ |
| ۹. | اماني دوره او په افغانستان کې د ملت جوړونې بهیر | محمد انعام واك ........ | ۱۶۶ |
| ۱۰. | د اعلیحضرت امان الله خان د اصلاحاتو د ناکامېدلو علتونه | عبدالباري جهاني........ | ۱۸۲ |
| ۱۱. | غازي امان الله خان او مدرنېزم | محمد اکبر کرګر ........ | ۱۹۷ |
| ۱۲. | په اماني پېر کې د لرغونو څېړنو | پوهنوال رسول باوري........ | ۲۲۹ |
| ۱۳. | اماني عصر او لویې جرګې | محمد معصوم هوتك........ | ۲۴۱ |
| ۱۴. | فرهنګي شاه امان الله | یوسف هېواد دوست........ | ۲۷۳ |
| ۱۵. | غازي امان الله خان ـ هغه څوك چې افغانستان يې خپلواك کړ (په انګلیسي ژبه) | پروفیېسر ډاکټر اسلم سید ........ | ۳۰۹ |

# سریزه

تېر کال (۲۰۰۴ع) د اګست په ۲۱ نېټه د جرمني د کولن په ښار کې د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې له خوا د افغانستان د خپلواکۍ د پنځه اتیایمې کالیزې په ویاړ د "غازي امان الله خان ـ د افغانستان د خپلواکۍ ستوری" په نوم یو علمي سیمینار جوړ شوی و. په همدغه ورځ د ننګرهار په تاریخي ښار جلال آباد کې هم د ټولنې او د ننګرهار د ځوانانو په همت یوه درنه غونډه جوړه شوې وه. موږ په همغه سیمینار کې ژمنه کړې وه، چې د مقالو ټولګه به یې په نږدې راتلونکي کې خپروو.

د خوښۍ ځای دی، چې د یاد شوي سیمینار د مقالو هغه ټولګه د افغانستان د تاریخ د یو بل ویاړ هوتکي پاځون د پیلامې د درې سومې کالیزې د جشن په مناسبت

چاپېږي او د افغانستان د تاريخ مينه والو ته وړاندې کېږي.

په دغه ټولګه کې د سيمينار دوه مهمې مقالې، چې يوه يې د ښاغلي ډاکټر عبدالصمد حامد او بله يې د ښاغلي پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ له خوا ليکل شوې وه، نه دي شاملې. هغه دواړه مقالې د حجم له کبله دواړه د جلا جلا رسالو په بڼه له همدغې ټولګې سره په يو وخت کې د چاپ پر ګاڼه سنباليږي.

موږ هيله لرو، چې ددې سيمينار مقالې د غازي امان الله خان د ژوند، شخصيت او دغه راز د اماني دورې د بيلابيلو اړخونو په اړه د يو لړ مهمو موادو په توګه خپل ارزښت ولري. هيله ده دا مقالې ددې دورې د راسپړنې او څېړنې په لړ کې تاسو ته نوي ټکي ولري او ددغې دورې د ځينو تيارو اړخونو په څرګندونه او روښانولو کې خپله ونډه ولري. دغه ټولګه به د اماني دورې په ښه تشريح او هر اړخيز سپړنه کې خپل ارزښت ولري.

په درناوی

د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه

جرمني ـ د کولن ښار

د ۲۰۰۵ کال د اپريل ۲۱مه

# د ټولنې د مشرتابه جرګې په استازیتوب

## د ښاغلي زرين انځور

## پرانيستونکې وينا

د لوی او مهربان خدای په نامه

درنو هېوادوالو،

قدرمنو مشرانو،

پتمنو خوېندو او ورونو،

د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه ځان نېکمرغه ګڼي، چې د افغانستان د سياسي خپلواکۍ د بېرته ګټلو او د پاچا امان الله خان د واکمنۍ د پنځه اتيايمې کاليزې په وياړ ددغه علمي سيمينار او درنې غونډې کوربنه ده، چې د غازي امان الله خان د سترو ملي خدمتونو په وياړ او درنښت جوړه شوې ده.

تر هرڅه دمخه د ټولنې د ټولو غړيو او د مشرتابه

جرګې په استازیتوب تاسو ټولو دوستانو ته د زړه له کومې ښه راغلاست وایم. کور مو ودان چې له لیرې او نږدې ځایونو مو په دغه ملي غونډه کې د ګډون له امله پرځان ستونزې منلې دي. موږ ځانونه بختور ګڼو، چې په دغه مهم ملي مناسبت ستاسو کوربانه یو.

ټولنه، په ځانګړې توګه د اعلحضرت غازي امان الله خان د کهول چې د ټول افغان اولس د درناوی وړ کهول دی، د دوو راپاتې نښو د غازي امان الله خان د زوی ښاغلي شهزاده احسان الله د افغانستان او د غازي امان الله خان د لور محترمې شهزادګۍ هندیه د افغانستان د راتګ له امله او د خپلو هېوادوالو په دغه درنه غونډه کې د دوی د ګډون له کبله ځان نېکمرغه ګڼي او له دوی څخه د راتګ له امله مننه کوي.

همدارنګه له ټولو هغو درنو پوهانو او څېړونکو څخه مننه کوو، چې ددغې غونډې په مناسبت یې مقالې لیکلې او له لیرې او نږدې ځایونو یې دې تاریخي سیمنار ته تشریف راوړی دی.

له هغو ګڼ شمېر نورو دوستانو، لیکوالو، مؤرخینو او څېړونکیو هم مننه کوو، چې زموږ په سپارښتنه یې دې سیمینار ته مقالې لیکلې، خو د ځانګړو معاذیرو له کبله په دې نه دي توانېدلي، چې دلته ځانونه راورسوي. د

هغوی درنې مقالې به دې سیمینار د مقالو په مجموعه کې په بشپړه توګه چاپ او خپرې شي. له تاسو ټولو دوستانو هم مننه کوو، چې مو ددې ملي ـ افغاني ویاړلي مناسبت د درنښت لپاره په دې غونډه کې ګډون کړی دی.

زموږ په نظر اماني دوره او خپله پاچا امان الله خان د افغانستان په تاریخ کې او د افغاني ټولنې د ښې پېژندنې په لړ کې ځانګړی ارزښت لري. امان الله خان یو داسې افغان واکمن و، چې نه یوازې د افغانستان د خپلواکۍ د بېرته ګټلو د مبارزو او سربښندنو اتل دی، ددې په څنګ کې د افغانستان په تاریخ کې یوازینی واکمن دی، چې د افغاني ټولنې د اساسي پرمختګ لپاره یې متې راونغاړلې او د نړۍ له نویو پرمختګونو سره یې د همګامه کېدو لپاره یو شمېر بنسټیز کارونه ترسره کړل. د افغانستان د صنعتي کېدلو، مدني کېدلو او په هېواد کې د عصري ښوونې او روزنې د ودې لپاره یې د ستاینې وړ هلې ځلې وکړلې، دغه راز د دیموکراسۍ او اولسواکۍ د پلي کېدو لپاره مقدماتي پروګرامونه جوړ او عملي شول، په تېره بیا د افغاني ښځو د حقوقو د ترلاسه کولو لپاره هڅې پیل شوې. په دغه دوره کې د لومړي ځل لپاره د دیموکراسۍ د اصولو په رڼا کې

لومړنی اساسي قانون او نور ګڼ شمېر قوانین تصویب شول.

موږ په دې باور یو چې ددې دورې څېړل او په تېره بیا د اماني واکمنۍ د سقوط پر عواملو تمېدل او څېړل یې، موږ ته دا امکان برابروي چې د نن ورځې ستونزې او د راتلونکو مدني، دیموکراتو او پرمختیایي هلو ځلو لپاره دقیق پروګرامونه او پلانونه ولرلی شو، اوس چې افغانانو یو ځل بیا باید د پرمختګ، اولسواکۍ او قانونیت پر لار ګامونه واخلي، د اماني دورې له دقیقې مطالعې څخه تاریخي درسونه اخیستل کېدای شي.

درنو دوستانو، قدرمنو پوهانو!

موږ په دې باور یو چې اماني دوره د افغانستان د تاریخ یوه ځلنده دوره وه، خو ددې په څنګ کې دا خبره هم منو، چې هغې دورې ته هم انتقادي کتنه لازمه ده، که په دغه دوره کې ځینې تېروتنې نه وای شوي، زموږ د ټولنې د یون لارې به داسې نه وای. له همدې کبله د تاریخ درسونو په عنوان دې دورې او نورو تاریخي بهیرونو ته انتقادي کتنه، موږ ته د خپلې ټولنې د ښې پېژندنې لارښوونه کوي.

موږ امید لرو، چې په دغه علمي ـ تاریخي سیمینار کې به ددغې دورې او خپله د غازي امان الله خان په

هکله ډېر جالب او نوي بحثونه واوریٔ. په تېره بیا د مقالو هغه مجموعه به د ټولو افغانانو لپاره ډېره په زړه پورې وي، چې د اماني دورې په اړه په کې د لومړي ځل لپاره په دومره تفصیل سره موضوعات څېړل شوي دي.

د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې ته د افغانستان د معاصر تاریخ د یو ډېر مهم او په زړه پورې څپرکي په عنوان "اماني دوره" ډېره ارزښتناکه ښکارېدله او له همدې کبله یې پرې د ځانګړي علمي ـ تاریخي سیمینار د جوړېدو پرېکړه وکړه. موږ بېلابېلو مؤرخانو او پوهانو ته په دې اړه د مقالو وړاندیز وکړ او یو کال مخکې مو د داسې یو مهم سیمینار د جوړېدو تدابیر ونیول. یو شمېر خورا مهمې مقالې راورسېدلې، چې په دغه لړ کې به یې ځینې تاسو ته نن واورولئ شي.

غواړم تاسو قدرمن دوستان خبر کړم، چې د ګران افغانستان د جلال آباد په تاریخي ښار کې چې په اماني دوره کې لومړنی اساسي قانون پکې تصویب شوی و او هلته غازي امان الله خان او ملکه ثریا څنګ پرڅنګ خاورو ته سپارل شوي دي، همدا نن، همدا اوس د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې له خوا د غازي امان الله خان پر مقبره یوه پرتمینه غونډه جوړه شوې ده. په دې توګه په جرمني او جلال آباد کې په یو وخت کې د دوو

سترو غونډو جوړول دغه ملي ـ تاريخي ارزښت لا درنوي او ځلوي يې. هلته هم د ټول هېواد له ګوټ ګوټه څېړونکي او د افغانستان د تاريخ مينه وال راغونډ شوي دي، چې تاسو به يې لړه شېبه وروسته يوه برخه د ټليفون له لارې له جلال آباده په ژوندۍ توګه واورئ. له جرمني څخه زموږ د سيمينار يوه ژوندۍ برخه به هلته هم په ژوندۍ توګه د ګرځند ټليفون له لارې خپره شي. موږ به دغه مقالې او ويناوې په يوه مهمه ټولګه کې يوځای خپرې کړو.

ددغه علمي تاريخي سيمينار لپاره موږ د لسو ټوکو مهمو تاريخي او علمي آثارو د خپراوي تابيا کړې وه، چې ددغو نهو ټوکو په خپراوي بريالي شول او له نېکمرغه په دې بريالي شولو، چې همدې سيمينار ته او همدې تالار ته يې تر تاسو راورسوو. ددغه سيمينار په مناسبت زموږ خپاره شوي کتابونه دا دي:

١ـ طالبان او اسلامي بنسټ پالنه: د نوميالي افغان مؤرخ پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ نوی مهم تحليلي او تاريخي اثر.

٢ـ علامه محمود طرزي، شاه امان الله و روحانيت متنفذ: د هېواد نامتو تاريخپوه کانديد اکاډميسين محمد اعظم سيستاني په زړه پورې اثر.

۳ـ تروریزم او جګړه: د نامتو امریکایي جګړې ضد شخصیت هوارد زین اثر، د ښاغلي محمد اکبر کرګر ژباړه.

۴ـ د جرمني امپراتورۍ افغاني جګړه:" د روسي مؤرخ تیخونوف اثر، د ښاغلي محمد طاهر کانې ژباړه.

۵ـ د پولادي امیر تر سیوري لاندې: د فرانک مارتین مهم اثر، د ښاغلي محمد معصوم هوتک ژباړه.

۶ـ په افغانستان کې د مشروطیت غورځنګ: د پوهاند عبدالحی حبیبي اثر، د ښاغلي عبدالقیوم حکیمزي ژباړه.

۷ـ د افغانستان جګړه او ګورکي ته زما تبعید: د روسي نامتو فزیک پوه د نوبل د سولې جایزې ګټونکي او پر افغانستان د شوروي د یرغل د کلک مخالف اندري ساخاروف د تبعید خاطرات، د زرین انځور ژباړه.

دغه راز مو په همدې مناسبت، دوه علمي ـ طبي آثار هم د افغانستان د پوهنتونو شاګردانو او د طب مینه والو ته چاپ کړي دي:

۱ـ د شکري ناروغتیا: د پوهندوی ډاکټر امان الله حمیدزي اثر.

۲ـ د کوچنیانو جراحي: د پوهنمل ډاکټر

له نیکه مرغه ددغه سیمینار او درنې غونډې په

مناسبت زموږ د کتابونو د خپراوي د بهير شمېره ۶۶ ټوکه کتابونو ته ورسېدله. په دې ټوکه موږ په دې توانېدلي يو، چې د خپلو کلتوري هلو ځلو د شپږ کلونو په اوږدو کې هره مياشت خپلو هېوادوالو ته يو نوی مهم اثر چاپ او ډالۍ کړو او له دې کبله د ټولنې ټول غړي ځانونه خوښ او بريمن ګڼي.

بايد څرګنده کړو، چې ددغو کتابونو د خپراوي، د بېلابېلو علمي غونډو، کنفرانسونو، مشاعرو او سيمينارونو په جوړېدو او د هېواد په داخل کې د کلتوري هڅو په ملاتړ کې موږ تراوسه پورې له هېڅ کومې کورنۍ يا بهرنۍ موسسې، حکومته يا کومې خيريه ټولنې مرسته نه ده اخيستې، دغه ټولې هڅې يوازې او يوازې د ټولنې د خپلو غړيو په ونډو او د ټولنې د غړيو او مينه والو په مرسته او ملاتړ ترسره شوي دي. موږ په دې نظر يو چې که د خپل وراڼ ويجاړ کلتوري بهير رغاونې ته هم خپله افغانان ترهر چا زيات، تاوان او قربانۍ ته چمتو شي، موږ د نورو له درويزې ځانونه ژغورلی او خپل سهم يو څه ادا کولی شو. له همدې امله يو ځل بيا له تاسو ټولو هيله کېږي، چې په دغه ستر ملي-کلتوري خدمت کې زموږ متې پياوړې کړئ. په ټولنه کې د زيات شمېر غړيو د غړيتوب له لارې موږ په خپلو کارونو کې پياوړي

کېدای او ډاډمن کېدای شو.

یو ځل بیا له تاسو ټولو مننه کوم، د افغانستان د خپلواکۍ د بېرته ګټلو د ۸۵ یمې کالیزې په ویاړ به د خپلو خبرو ځولۍ د استاد رشاد په هغه شعر راونغاړم، چې "حریت" سرلیک لري او وایي:

**د مجنون ژوندون به څه وي چې لیلا مري**
**څه په کار دی تش کالبوت چې زړه د چا مري**

**زړه ډیوه ده دا د خټو په قالب کې**
**خدا ومه کړه چې به دا ډیوه د چا مري**

**چې مرغه لاړ شي قفس د ماتېدو دی**
**که به زړه مري تش ګوګل دې لا پخوا مري**

**هیڅ ممکن نه دی پایښت د هغه پېړې**
**زړه چې مري کالبوت مجبور دی خامخا مري**

**"حریت" د هر ملت د بدن زړه دی**
**که دا نه وي هم ملت مري هم بقا مري.**

کور مو ودان

**احسان الله د افغانستان**

(د غازي امان الله خان زوی)

**له فرانسوي څخه ژباړه:**

پروفیسر ډاکټر محمد اکبر ستایلی وردګ

# اماني دوره
# د افغاني رنسانس دوره

ګرانو وطنوالو، زما ګران ووروڼو او خوېندو،

له تاسو څخه مننه کوم چې د افغانستان د بشپړې خپلواکۍ د لويې تاريخي نېټې د نمانځلو سيمينار ته مو رابللی يم، هغه خپلواکي چې زموږ ستر ټولواک، شاه امان الله، غوښتلې او لاس ته راوړې ده.

پر شاه امان الله خان او دده د پاچاهۍ په دوره، چې يوازې لس کاله وه، د هغو ځلوېښتو کالونو په کچه چې وروسته يې تېر شوي دي، خورا ډېر کتابونه ليکلي شوي، ځکه چې دا لسيزه له پرتمونو او هيلو څخه ډکه دوره وه.

**افغاني رنسانس:**

له انګرېزانو سره د ۱۹۱۹ کال جګړه، د بریتانیا له واکه خلاصون، د خپلواکۍ خوشحالي، له زړو اندونو او نالوستي توب سره مبارزه او په پای کې په ټوله نړۍ کې د افغانستان د ځلا، د افغاني رنسانس دوره ګڼله کېږي.

هغه سیاسي وضعیت ته چې امیر امان الله خان (ده د شاه لقب په ۱۹۲۶ کې واخیست) قدرت ته پکې ورسېد، یو لنډ نظر اچوو:

دا منو چې هغه مهال مو یو خپلواک هېواد، یو امیر، یو بیرغ، پیسې او ملي اردو لرل، باندیني عسکر مو په خاوره کې نه وو او د خپلواک هېواد ټول امتیازونه مو درلودل، خو له دې سره، سره له برتانیا سره د یوه تړون له مخې افغانستان له نورو هېوادونو سره دېپلوماتیکې، کلتوري او د سوداګرۍ اړیکې نه شوای ټینګولی. دې ټولو د هند انګرېز وایسرای تائید ته اړتیا لرله.

کله چې امیر امان الله خان په ۲۷ کلنۍ کې قدرت ته ورسېد، د خپلو عصري مفکورو له مخې یې غوښتل، چې افغانستان له هغه تکنالوجیک زوړوالي څخه راوباسي، چې له پېړیو راهیسې پکې ډوب و او له منځنیو پېړیو څخه یې شلمې پېړۍ ته ورورسوي.

دی غواړي چې د یوه خپلواک هېواد مشر وي او داسې څرګندوي:

"زه غواړم چې په یوه بشپړ خپلواك هېواد کې خپلواك مشر وم".

دی خپله توره له چړتانه څخه راباسي او بیا داسې پسې وایي:

"زه به خپله دا توره تر هغه بېرته په چړتانه کې نه ږدم، چې افغانستان یو بشپړ خپلواك هېواد نه وي شوی".

او خپله وینا داسې پای ته رسوي:

"افغانستان د افغانانو لپاره".

ددې کار لپاره ده ته ښايي، چې هغه زنځیر وشلوي چې له لويې برتانيا سره پرې تړلی شوی وو، نو د هند له وایسرای څخه غواړي هغه تړون چې د خپل هېواد لپاره یې سپکاوی ګڼي، لغوه کړي: خو منفي ځواب تر لاسه کوي.

نو د ۱۹۱۹ کال د مې د میاشتې په دوهمه افغانستان له برتانیا سره جنګ پیلوي. افغاني لښکرې په مېړانه جنګېږي، که څه هم د دوی وسلې (یو څو توپونه، په سیمه کې جوړ شوي ټوپك او څه نور ټوپك چې واړلو نومېدل او انګرېزانو مخکېني امیر حبیب الله خان ته ورکړي وو) ډېرې لږې او زړې وې، د انګرېزانو کوټونه نیسي. په بله خوا کې انګرېزان په ډېره ښه وسله سنبال وو. دوی الوتکې لرلې، چې افغاني لښکرې او همدا رنګه د کابل او جلال آباد ښارونه یې پرې بمبار کړل.

امیر تمه درلودله، چې د هند مسلمان رضاکاران به

عمومي پاڅون وکړي، خو د هند له ګڼ شمېر پښتنو څخه پرته چې د افغاني لښکرو په ننګه، څنګ په څنګ وجنګېدل، نور وګړي ونه خوځېدل، ځکه چې برتانيايي حکومت د هند د مسلمانانو د غورزنګونو افغان پلوي مشران په جېل کې اچولي وو.

له بله لوريه انګرېزانو لږ موده دمخه لومړۍ نړېواله جګړه پای ته رسولې وه، له جګړې څخه ستومانه شوي وو او نه يې غوښتل، چې په يوه بله شخړه کې راګير شي او پردې سربېره يې له افغانانو سره په دوو پخوانيو جنګونو کې کلکې ماتې خوړلې وې.

نو د هېڅ يوه لوري په ګټه نه وه، چې جنګ اوږد شي او د ۱۹۱۹ کال د جون د مياشتې په دريمه د جګړې پای لاسليک شو.

له اوږدو خبرو اترو څخه وروسته، د ۱۹۱۹ کال د اګست د مياشتې په دوهمه، لومړنۍ موافقه لاسليک شوه، چې بيا وروسته د ۱۹۲۱ کا د نوامبر د مياشتې په دوه ويشتمه د افغانستان او د لويې برتانيې ترمنځ د سولې وروستنی تړون لاسليک شو.

ددې تړون له مخې، د خپل هېواد په ټولو کورنيو او باندنيو چارو کې د افغانانو واکمني د برتانيا د حکومت له خوا منله کېږي.

ټولو وګړو جشن کړی و، ملايانو او د بېلو، بېلو ټبرونو

خلکو په خپل امیر شاباسی وایه او امیر دوی ته داسې ویل:

"تاسې زاریېږ، تاجك، اوزبك او پښتانه نه یئ، تاسې ټول افغانان یئ. مور بېل، بېل ټبرونه خو یو ملت یو". یو وطن.

او بیا وایي:

" نور مور د چا تر واك لاندې ملت نه یو مور په بشپړه توګه خپلواك یو او د نړۍ د آزادو هېوادونو په ډله کې ولاړ یو. مور به ددې لويې خوشحالۍ په دې شيبه کې هغه څوك نه هېروو چې زمور د ارمان د سرته رسېدو په لياره کې په جګړه کې مړه شوي دي. زمور برى د دوى له برکته لاس ته راغلى، نو اوس به دعا ورته کوو."

د امان الله خان لپاره دا يو داسې شخصي برى و، چې لويې اغېزې يې لرلې. ده يوازې له څو مياشتو پاچاهۍ څخه وروسته، دا جرئت کړى و، چې يو داسې زړور کار وکړي او له څه ناڅه يوې پېړۍ څخه وروسته د خپل هېواد خپلواکي پر انګرېزانو د يرغل له لياري لاس ته راولي، په داسې حال کې چې په دوو مخکېنيو جګړو کې انګرېزانو پر افغانستان يرغل کړى و.

افغانستان له ګوښه والي څخه ووت، د خپلواك سياست د غوره کولو او له لويې برتانيا سره يې د مخې (سيال) په څېر د معاملې حق لاس ته راووست.

د همدې حق له مخې يې د ترکانو په ننګه، چې لا تر دې

وخته له لومړۍ نړېوالې جګړې څخه وروسته د متحدينو تر ژغ لاندې وو او همدارنګه د هند د خلکو په پلوۍ چې په هغه وخت کې د برتانيا تر لاس لاندې وو، د لويې برتانيا پينځم جارج ته داسې وليکل:

"زه هېڅکله له هغه څه څخه بيغمه نه شم پاتې کېدای چې په اسلامي نړۍ کې تېرېږي... د برتانيا حکومت دې تر هغه وخته پورې يوه شېبه هم زموږ په دوستۍ نه باوري کېږي، تر هغو چې مسلمان وګړي د دوی د تېروتنو له لامېله ځورېږي... زه ټينګ باور لرم، چې ددې بدلون نېټه رانېږدې ده، دا بدلون به د هندوانو په ګټه هم منځ ته راشي، چې موږ يې کلکه هيله لرو او د دوی کړاوونه مو ځوروي."

د افغانستان يو امير، چې د ګواښنې په لهجه يوه انګرېز وزير ته وايي، چې د ترکيې او هند د خپلواکۍ درناوی وکړي او انګرېز وزير په ځواب کې ورته وايي، چې لويه برتانيا به له ترکيې سره په ډېره مهربانۍ چلند وکړي او هند به له لسو کالونو څخه دمخه بشپړه خپلواکي ولري او... د لندن کابينه به د آسيا د اولسونو د ارادې درناوی وکړي.

دا وه زموږ د هېواد ننداره، چې په نولسمه پېړۍ کې له تصوره پورته برېښېده. هېڅکله د افغانستان يو امير د لويې برتانيا پاچا ته دا ډول نه و غږېدلی، د افغانستان اميرانو د هند برتانيايي وايسرای ته مراجعه کولی شوای.

په ۱۹۲۰ کال کې افغانستان د منځنۍ او لوېديزې

آسيا يوازينی بشپړ خپلواك هېواد و.

ترکيه د لومړي نړيوال جنګ د ګتونکو يعني د متحدينو (انګرېزانو او فرانسويانو) ترمنځ د قيموميت يا د مستعمرې په څېر ويشلې شوې وه، ايران ليا په شمال کې روسانو او په جنوب کې انګرېزانو نيولی و او هند د برتانيا د امپراتورۍ يوه برخه و. يوازې افغانستان مستقل او خپلواکه و.

له دې نه وروسته امير خپله ټوله انرژي د هېواد د پرمختګ او سوکالۍ لوې وظيفې ته وقف کوي. دده پروګرام څلور موخې لرلې:

۱ـ په لنډ مهال کې : د هېواد خپلواکي،

۲ـ په منځمهال کې: ټولنيز ريفارمونه،

۳ـ بيا په منځمهال کې: د هېواد بيا ودانول او عصري کول او

۴ـ په اوږده مهال کې: له ګاونډيو مسلمانو هېوادونو سره سيمه ييزو اړيکو ته پراختيا ورکول.

۱ـ لومړنۍ موخې ته: د خپلواکۍ د اعلانولو په واسطه ليا دمخه رسېدلی و.

۲ـ دوهمې موخې ته: رسېدل خورا ګران ورته برېښېدل، ځکه دا د يوې دوديزې، زوړپالې، قبيله يي او ملايانو ته د تابع ټولنې له دودونو سره ډغره وهل وو.

خو له دې سره سره يې له سياسي او اداري لحاظه يو

داسې رژیم غوره کړ، چې څه ناڅه یو مطلق نظام او یو ممثل سیستم یې سره پخلا کول.

په ۱۹۲۳ کال کې یو اساسي قانون پاس شو او یو داسې حکومت جوړ شو، چې پر مسئولیت او د کار پر وېش ولاړ و او وزیرانو کارونه د امیر تر ریاست او مشرتابه لاندې، سره وېشلي وو.

د دولت شورا چې مشر یې د وزیرانو په مجلس کې ګډون کاوه، درې څانګې لرلې:

- یوې څانګې یې اداري کارونه څارل،
- دوهمې یې قضایي چارې او
- درېمې یې، چې تر ټولو مهمه وه، هغه ریفارمونه او قوانین چې باید په پام کې ونیول شي څېړل او د سم تطبیق څارنه یې کوله.

د نورو قوانینو په ډله کې د افغانو ښځو د حقونو څخه د دفاع قانون او د کورنۍ مقررات، چې د واده، کوزدې او ولور په برخه کې یې ترتیبات لرل، پاس شول.

خو د هر نوښت او ریفارم، په تېره بیا د ښځو په برخه کې ملایانو له همکارۍ څخه ډډه کوله او ورته بلوسېدل به، چې بې اعتباره یې کړي.

تلیګراف او تلیفون شیطان اختراع کړی!

کله چې امیر امان الله خان د رېل پرزې، پر هاتیانو بار هېواد ته راوړې، چې د کابل ښار له نویې پلازمېنې،

دارالامان سره وتړي، ملايانو به ويل *"دا د اوسنپي مار دی، چې په منځ کې يې لمبې بلې دي او له غتې نېغې پوزې څخه يې تور لوګی خېژي، نو دا له شيطانه پرته بل څه نه شي کېدای"*. د ساده خلکو باور پرې راته، نو ملايانو ځينې قومونه، چې په مذهب او فيوډاليزم ټينګ ولاړ وو او د ګاونډي انګرېز له خوا (چې د عصريتوب پلوي ټولواك ته، چې په هره وينا کې د هند خپلواکي غواړي، په ښه سترګه نه کتل، په وسله ښه سنبال کړل شوي وو) پاڅون ته وهڅول.

که غواړې، چې هېواد مخکې لاړ شي بايد دا بلواګانې وځپل شي.

دا خبره شاه ته ډېره ځورونکې وه، چې خپل اولس يې په اسرو نه پوهېږي!

امير له فساد او رشوت سره هم مبارزه پيل کړه او ويې غوښتل، چې مامورران د دوی د لياقت او پاکنفسۍ له مخې وټاکل شي، نه د واسطې او شخصي دوستۍ له مخې.

د دولت لوړ مقامونه لويانو او اشرافيانو ته نه ورکول کېږي، که چېرې د هغه مهال رسمي کالنامې وکتلی شي، د بيلو، بيلو طبقو، نژادونو او سيمو وګړي پکې ليدل کېږي، خو امير غواړي چې له هرڅه نه لومړی پوهنې او روزنې ته وده ورکړي او دا خبره به يې تل کوله:

"ټوپک پرېږدئ او د ليکلو لپاره قلم راواخلئ. په دې پوه شئ چې يو بې تعليمه اولس هېڅکله مخکې نه شي تلای او

نه په رښتيا خپلواك وي".

په ټول هېواد کې د هلکانو لپاره او په کابل کې د ټولواکمنۍ ثريا، د هغې د مور او د شاه د خوېندو په مرسته د نجونو لپاره ښوونځي پرانېستل شول.

ټولواك به مدام ويل: "زه پاچا يم، خو د پوهنې وزيره زما مېرمن: ستاسې ټولواکمنه ده".

د نجونو د لومړني ښوونځي په مهال ټولواکمنې په رسمي توګه داسې وويل:

"تاسې ښځې، د افغانستان د خلکو نيمګۍ جوړوئ، خو تاسې له هېڅ ډول حق څخه برخمنې نه ياست، خو کله چې له بېوزلۍ، ناروغۍ او زده کړو څخه غرېږو تاسې د هېواد دېرکيان ياست.

لازمه ده، چې تاسې تعليم وکړئ، زامنو او لوڼو ته مو تعليم ورکړئ، چې يوه ورځ د شاه تر څير نظر لاندې مو د ګران هېواد په راتلونکې وده کې، برخه واخلئ".

په ۱۹۲۷ کال کې شاه يو فرمان لاسليك کړ، چې ټولو دولتي مامورانو ته پکې امر شوی و، چې خپلې لوڼې په دولتي ښوونځيو کې واچوي ګنه نو له وظيفې څخه ايستل کېږي. په همدې نېتمه اووه سوه نجونې ښوونځي ته تللې او دا شمېر تر ۱۹۲۹ کال پورې ورځ په ورځ مخ په ډېرېدو و.

۳_ درېيمه موخه: د باندينيانو په مرسته، د هېواد

ودانول، شاه ته تر ټولو اسانه ښکارېدل. په ۱۹۲۱ کې یو هیات اروپا ته واستول شو، چې افغانستان خلکو ته ورو پېژني او دېپلوماتکې، کلتوري او تجارتي اړیکې ټینګ کړي.

له تورتمونو څخه د خپل هېواد د رااېستلو لپاره یې لرې هېوادونو ته لاس وروغځاوه، ځکه چې ګاونډي هېوادونه هرڅه یوازې له سیاسي نظره کسي.

کابل ته دېپلوماتیک نمایندګان او همدارنګه انجینران، مهندسان، ډاکتران، د کرنې کارپوهان او د ورېښمو د چینجیو د روزنې متخصصان راغلل او همداشان پانګوال، چې دې ته چمتو وو چې په هېواد کې پانګونه وکړي او هغه مالونه رانیسي، چې د افغانانو له خوا وروپلورل شي. هغه هېوادونه چې په امیر ډېر ګران وو، ترکیه او پارس وو. امیر یو لوی پارك درلود، چې دوه کورونه پکې وو، دواړه یې دې دوو هېوادونو ته وروبښل، چې خپل سفارتونه پکې جوړ کړي. ترکیې د کابل عسکري ښوونځی په غاړه واخیست. له کابله د لوی کاروبار ځاله جوړه شوه.

یوه نوې عصري پلازمېنه (دارالامان) ودانه کړی شوه، چې د اوسپنې د پټلیو په یوه کرښه له زاړه ښار سره وتړله شوه. په هېواد کې د موټر د چلولو ړ لارې جوړې شوې، د ځمکو د خړوبولو پروژې جوړې شوې او د برېښنا د تولید زړې فابریکې نوې کړی شوې. موږ نشو کولی، چې په

تفصيل سره تړول هغه کارونه ياد کړو، چې په دې لسيزه کې پای ته ورسېدل. په دې دوره کې صادرات او واردات لس چنده شول.

۴ـ خو چې له څلورمې موخې يعنې له سيمه ييزو اړيکو څخه وغږېږو، امير د هند مسلمانانو او د شوروي اتحاد د مرکزي آسيا د مسلمانانو د حامي په څېر راوړاندې شو.

په ۱۹۲۳ کال کې په ترکيه کې د خلافت له پای ته رسېدو څخه وروسته د خلافت وړانديز ورته وشو. دی چې د يوه مسلمان، سني مذهبه او بشپړ خپلواک هېواد پاچا و او د هند د مسلمانانو له اصرار سره سره، چې دی يې په مذهبي چارو کې هم رهبر ومني، انګېره، دا عنوان ونه مانه ځکه چې ده غوښتل د خپل هېواد د ستونزو اوارولو ته اوږه ورکړي.

په ۱۹۲۸ کال کې يې د درېګونو هېوادو (افغانستان، ترکيې او پارس) ترمنځ د يوې اتحاديې د جوړولو پر پلان پيل وکړ او موخه يې دا وه، چې په دې شان د لوېديز له اغېزو څخه ځان خوندي کړي. دې اتحاد به له افغانستان څخه يو لوی سيمه ييزه ځواک جوړ کړی وای.

دا د يوې اوږدې مودې موخه وه، خو شاه امان الله خان ددې وخت ونه موند، چې دا پروژه عملي شي. د مصر، اروپا او ترکيې د رسمي سفر څخه له راستنېدو وروسته، شاه خورا بې صبره و چې زر افغانستان شلمې پېړۍ ته

وروړسوي.

په پروګرام کې دا لاندې کارونه په نظر کې نيول شوي وو:
په کليو کې د نويو ښوونځيو حتی د نجونو لپاره، د روغتونو او د قابلګۍ ښوونځي جوړول، له حجاب ښځه آزادي او د اروپايي هېوادونو او ترکيې غونډې، د ټولو لپاره تر بېرغ لاندې د عسکري مکلفيت د دورې د تېرولو اجباري کول. دا پروګرام لږ څه د خيال په ټالونو زنګېدل وو، د وګړيو د ذهنيت بدلول لوی جرئت غواړي.

شاه په يوه وينا کې داسې اعلانوي:
"زه له ملت څخه غواړم، چې زما ريفارمونه ومني، ځکه چې دا زموږ وظيفه ده چې پرته له دې چې خپله پرتمينه ماضي هېره کړو، د خپلو ځانونو په مقابل کې د وظئفې په شان له خپل (اوس) سره ډغره ووهو. دا د هېواد د راپورته کولو ګران کار چې د اولس په ضد نه دی، له خلکو څخه پرته په يوازې ځان سرته نه شي رسول کېدای. موږ ته ښايي، چې خپله راتلونکې مرحله په مرحله سنبال کړو. د ناکامۍ او د نېست کېدو د مخنيوي لپاره بدلون ته اړ يو".

خو ملايانو او کليوالو چې ډېر وروسته پاتې او له خپلو زړو دودونو سره يې مينه درلوده او ددې پرېکړو په ارزښت يې د پوهېدو وس نه لاره، ددې پروګرامونو بد هرکلی وکړ، خو ټولواك د هېواد د پرمختګ لپاره له خپلې هيلې سره وفادار پاتې شو او هغه سلا يې هېره کړه، چې دده "دوست"

اتاترك، ترکيې ته دده د رسمي سفر په مهال، ورکړې وه:

"تاسې غواړئ چې يوه ښکلې ماڼۍ جوړه کړئ، ښه بنسټ يې يعنې اردو مه هېروئ. لومړی دا اردو جوړه کړئ، بيا نو کولی شئ، چې بې له ويرې د خپل هېواد په پرمختګ کې وړاندې لاړ شئ."

لږ څه وروسته بلواګانې پيل شوې. دا هغه د ورځې او شپې، د رڼا او تورتم ترمنځ ابدي جګړه ده. په دې جګړه کې ملايانو چې نه يې غوښتل، چې خپل د پېړيو، پېړيو برم له لاسه ورکړي او پر خلکو خپله اغېزه کمه کړي، ورانۍ ته لا نور هم زور ورکړ. شا په دې جګړه کې تقريباً يوازې دی.

دی، دا ګوربت ليا تراوسه هلته پورته، د هندوکش له څوکو څخه لوږ ناست او هغه هېواد ته کسي، چې ده غوښتل بدلون پکې راولي، خو له هر لوري څخه د خپلو هېوادوالو له خوا او د ګاونډيو هېوادونو له لوري غېښې پرې راوربې او په زرګونو پرهارونه يې اخيستي. ګوربت پرهارژلی دی، غواړي چې د بيا الوتلو لپاره مهلت وپلټي، خو راپربوزي او هرڅه پای ته رسبږي.

دی هغو کسانو ته چې ترينه راچاپېر دي او تراوسه باور پرې لري وايي:"دا دی هغه وروستنی ځل چې د خپل شاه لاس په لاس کې نيسئ او ستاسې سترګې دده په لور کږې دي. که په دې خبره اعتراف ونه کړو، چې غوني مو نه دي

راډك شوي، درواغ به مو ويلي وي. موږ نه شو کولای چې ددې اوږدې لسيزې د تاريخ پاڼې بې له تاثر څخه وتړو. ما غوښتل، چې خپل هېواد ته په سياسي، کلتوري او ټولنيزو ډګرونو کې بدلون راولم. ما غوښتل چې خپل هېواد د خپلې هغې مفکورې له مخې چې ستاسې دا هم ده، بدل کړم. ما غوښتل چې افغانستان د زغم يوه داسې خاوره وي، چې ټول پکې ګډ ژوند وکړای شي، دا زما ارمان و. ما چې غوښتل خپل هېواد عصري کړم، د ملايانو له کبله چې نه يې غوښتل زما په موخو ځان يوه کړي او ننګه مې يې ونه کړه، په خپلو خلکو کې مې ډېر غليمان ځانته پيدا کړل. په دې لسيزه کې، زه خوشحاله او وياړمن وم چې ددې هېواد د سرنوشت په ټاکلو کې برخه واخلم، د ودانولو په برخه کې يې يوه تيره کېږدم او ستاسې دې کور ودان وي، چې ددې ګران اولس د راتلونکې په برخليك کې راسره شريك واست.

او په پای کې له خپلو خلکو سره د يوه لوی هوښيار په خبره خدای پاماني کوم:

"زه درنه لاړم، نور به مې نوم وانه ورې، خو خدای دې تاسې نېکمرغه لري".

او زه، زه د يوه داسې لوی انسان زوی، خپله وينا په دې خبره پای ته رسوم:

زه دې انسانانو ته د ډېرې شاباسۍ په سترګه ګورم، دا زموږ د پېړۍ برلاسي دي، پياوړي ټولواکان، چې د نورو

عصرونو لـه واکمنو څخـه ليـا ډېـر ګټـور دي، هغـوی چـې غـوارې چـې نـاپوهـې پـرګنې، چـې هرڅـه تـه سـرغړاندي دي، د دوی لـه تـل تـر تلـه، آرام خوبـه راوباسـي او د نـوي تمـدن د بتـې انګار تـه يې ورواچوي.

## د شوروي جمهوريتونو اتحاد او افغانستان:

ډېـر ځلـه اورېـدل کېـږي، چـې شـاه امـان الله شـوروي اتحـاد تـه ډېـر ورنـېـژدې و. دا دي يـو څـو واقعيتونـه، چـې دا تورونـه ردوي:

دا ريښتيـا ده، چـې شـوروي اتحـاد لومـړنی هېـواد و، چـې د افغانسـتان بشـپړه خپلـواکي يـې پـه رسـميت وپېژندلـه او شـاه امـان الله غوښتـل، چـې شـوروي اتحـاد تـه د ورنـېـژدې کېدو پـه واسطه د انګرېزانـو د اغېـزو انډول راتيـټ کـړي، خـو دا بـه نـه هېـروو چـې لـه شـوروريانو سره د لاسليك شوي تـړون لـه مخـې د بخـارا او خيـوا هېوادونـه هـم پـه رسـميت پېژنـدل شـوي وو، نـو د پرنسـيپ لـه مخـې ددې هېوادونـو ضـميمه کولـو پخپلـه دا تـړون لـه اعتبـاره غورځـاوه. افغانسـتان پـه دې ضـميمه کولـو اعتـراض وکـړ او د شـوروي پـه مقابـل کـې يـې مقاومـت تـه د مرسـتې لپـاره يـوه پـوځي قطعـه، وسـله او جبـه خانـه ورولېـږل. کـه ريښتيـا وايـو دې تـړون د افغانسـتان او شـوروي اتحـاد پـه منـځ کـې سـتونزې نـه وې کمـزورې کـړې، ځکـه چې شوروي اتحـاد مـدام افغانسـتان پـه دې تورنـاوه، چـې

ددې ضميمه کړی شوو هېوادو مهاجرو تـه مرسته ورکوي او پـه خپلـه خاوره کې مخالفو کسانو او د مقاومت مشرانو تـه ځای ورکوي. پردې سربېره د ځينو سيمو پر مالکيت هم ستونزې موجودې وې. لـه بلـه لوريـه روسانو تـه د بدګومانۍ پـه سترګه کتـل کېدل، ځکـه چې د منځنۍ آسيا مهاجرو مسلمانانو بـه د کمونستانو لـه خوا د دوی خاورو او ځارويو د ضبطولو کيسې کولې.

پردې سربېره د افغانستان پـه برخـه کې د انګرېزانو سياست هېڅکلـه د اعتبار وړ، ريښتينی، د زړه لـه کومي او درست نـه و. د برتانيا سياست داسې و چې پـه يوه لاس بـه يې ګل دروړاندې کاوه (هغـه لـه برمـه ډك هرکلي تـه وګورئ چې د برتانيا شاهي کورنۍ، حکومت او ټـول انګرېز اولس پـه ۱۹۲۸ کال برتانيا تـه د افغان ټولواك د سفر پـه موقع، کړی و) او پـه بل لاس کې بـه يې د ګواښ لپاره، چاړه درتـه نيولې وه.

لـويې برتانيا دې ځوان امير تـه دا پـه زړه کې اچولې وه، چې ولې يې د دوی تر حمايې لاندې ټوب پـه مقابل کې پاڅون وکړ او لـه دوی سره د سيال پـه څېر کړه وړه کوي، نو سر لـه پيلـه يې لـوړلي وو، چې زر يـا وروستـه بـه دا ټولواك، چې لـه خپل بري څخه پـه ځوښ راغلی و، لـه منځه وړي.

لـه بلـه لوريـه او دا ډېره مهمـه ده چې انګرېزان لـه دې څخـه وېرېدل، چې د امـان الله خـان لـه افغانستان څخـه پـه هغـو

پښتني سيمو کې چې د برتانيا تر جغ لاندې وې او پردې سربېره د ټول هند ناسيونالېستانو ته د خپلواکۍ او ناسيونالېستي مفکورو د خپرېدو لپاره د پنا اډه جوړه نه شي. ددې احتمال د مخنيوي لپاره دا لازمه شوه، چې له امان الله خان څخه ځان خلاص کړل شي.

په ۱۹۲۳ کال کې، که څه هم افغاني-انګليسي تړون يې اجازه ورکوله، چې د هند له لیارې افغانستان ته وسله وارده شي، برتانيايي مامورانو يوه الماني بېړۍ، چې د امان الله خان اردو ته يې وسله راوړله، له بمبيې څخه بېرته جرمني ته ورو‌شړله، څو مياشتې وروسته دا کار بيا وشو.

همدا شان، په ۱۹۲۸ کال کې هغه شپېته توپونه، دوه زره ټوپك او يو ميليون کارتوس، چې شاه يې د خپل س[illegible] په موقع (برمنګهم سمال آرمز ګن کمپني) ته فرمايش ورکړی و، د کراچۍ له بندر څخه راپرې نهښودل. په داسې حال کې چې د کوهاټ په سيمه کې په لاسي ډول ډېره ښه وسله جوړېده او ياغيانو به د انګرېزانو په خوښه په ډېره اسانۍ رانيولی شوای. د مرکزي دولت په مقابل کې د بلوا تقريباً په ټوله موده کې ياغيانو له دولت څخه عصري وسله لرله.

شاه ددې لپاره چې يو خپلواکه سياست غوره کړي، لرې هېوادونو ته، چې د افغانستان له نننی سياست سره علاقه نه لري، مخ ورواړاوه. نظامي زده کوونکي يې يو ګڼ شمېر ترکيې او همدارنګه په فرانسه کې د (سن سير) او بيا د

(سومیور) د سپرلۍ ښوونځي، له بلې خوا په ایټالیا کې د (کازېرتا) عسکري اکاډېمۍ ته او یا المان ته واستول. افغان حکومت له لوېدیزو هېوادونو څخه انجینران، معماران، ډاکټران او لرغونپوهان استخدام کړل.

یو محصل هم شوروي اتحاد ته ونه لېږل شو، یوازې څو پیلوټان شوروي استادانو وروزل. په دې لسیزه کې په کابل کې یوه فرانسوي-افغاني لېسه او له دې څخه یوه وړه، آلماني او بله انګلیسي لېسې پرانیستلې شوې، خو هېڅکله نه، یوه روسي دا!

دا د نولسو پینځوسمو کالونو برعکس وو چې په سلګونو محصلین او نظامي شاګردان شوروي اتحاد ته ولېږل شول او د کابل پولي تخنیك زده کړې شورویانو رهنمایي کولې، نو څوك روسي پلوه وو: شا امان الله خان او که هغوی، چې له ده څخه وروسته راغلل؟ داسې ښکاري چې حربي پوهنتون هم روسانو رهنمایي کاوه (دا خبره سپیناوي ته اړتیا لري).

له بله لوریه شاه امان الله خان، شوروي اتحاد ته په ۱۹۲۸ کال کې د خپل رسمي سفر په موقع، د باندنیو چارو لپاره د خلکو د کومېسار (چیچېرین) هغه شرطونه په توندۍ رد کړل، چې د دواړو هېوادونو ترمنځ یې د نظامي تړون لپاره وړاندې کړي وو.

ده نه غوښتل، چې په یوه داسې نظامي پروژې کې راښکېل شي، چې د وسلو، مهماتو، الوتکو او معلمانو د

بې کچې مرستو شنه او سره باغونه پکې ښودل شوي وي. دی په دې ښه پوهېده، د بخارا پاچا ته دې ډول مرستو څه ورکړل.

کله چې شورويانو وغوښتل، چې يو تجارتي برلاسی پر افغانانو وروتيي او يو د امتياز خاوند هېواد وګڼل شي، شاه ورسره ونه منله. که څه هم هغه مالونه چې په اروپا کې رانيول شوي وو، د شوروي اتحاد له لياري څخه د هند د لياري په کچه هم زر او هم ارزانه رارسېدل.

دی په دې پوهېږي، چې دا يوه لومه ده او نه غواړي چې په هغه لاتجه کې بند شي چې د انګرېزانو او روسانو ترمنځ شته ده. دی پر دواړو خواو بدګومانه دی، ځکه چې پوهېږي چې د دوی احتمالي مرسته د افغانستان د پرمختګ لپاره نه، بلکې د منځنۍ آسيا د رازمولولو لپاره يوه سيالي ده. دا ډېر وروسته وو، چې افغانستان د شورويانو غېږې ته ځان ورواچاوه.

نو مونږ چې د تاريخ ورپسې دوره پېژنو، څرنګه به شاه امان الله خان په شوروي پلوۍ ګرم کړای شو؟

*(د زوريخ) په يوه کلېنيک کې، د ژوند په وروستيو ورځو کې، زمونږ ټولواك، له افغانستان او ددې هېواد لپاره يې له خپلو ارمانونو څخه پرته له بل څه څخه نه غږېده. دده وروستۍ خبره دا وه. "کابل، کابل".*

*ګوربت يو ځل بيا راپرېوت، خو نوم يې د ټولو افغانانو په خاطرو کې تل تر تله پاتې دی او پاتې به وي.*

کاندیدای اکادمیسین سیستانی

# نقش روحانیت بنیادگرا در ضدیت با تجددگرایی رژیم امانی

روحانیان در کشورهای اسلامی و بخصوص در کشور ما از احترام و اهمیت چشم گیری برخوردار اند. تا آنجا که تاریخ گواهی میدهد، روحانیان متحد ترین صنف یا طبقه را درر جوامع اسلامی تشکیل میدهند و بنا برین در تمام کشورهای اسلامی نقش بسیار موثری در بسیج نیروهای جامعه بسوی نهضت های مذهبی، ملی و ضد استعماری داشته و دارند. دولت های اسلامی نیز پایداری و ثبات نظام های اجتماعی خود را وابسته به تائید روحانیان و چهره های مذهبی پر نفوذ کشور خود میدانند و این سنت را که تاریخ درازی دارد، هنوز هم احترام میکنند. البته در افغانستان دو

عنصر جداگانه ولی مهم به حاکمیت دولتی مشروعیت می بخشد: یکی توافق قبایل و دیگری تائید روحانیت سنی.

از همین جهت است که دولت ها این دو عنصر مهم را از نظر دور نداشته و سعی کرده اند تا آنها را از طریق دادن تیول و معاش مستمری به آنها راضی نگهدارند. معمولاً هنگامی که منافع و امتیازات روحانیان از طرف دولت با خطر مواجه شده، شورش های مردم در برابر قدرت مرکزی از طرف همین قشر روحانی (که نسبت به عوام الناس در توجیه و تفسیر قوانین جاری و مسایل مذهبی آگاه تر اند) صورت گرفته است. مثال های برجستهٔ این ادعا در تاریخ معاصر ما، اغتشاش خوست در مارچ ۱۹۲۴ بر ضد اصلاحات اجتماعی دولت امانی برهبری ملا عبدالله مشهور به ملای لنگ و سایر ملاهای آن سمت به تحریک و رهنمائی روحانیون پر نفوذ مرکز است. در اغتشاش خوست یکی از مریدان حضرت صاحب شور بازار بنام عبدالغنی قبایل سلیمانخیل را در کنار ملا عبدالله و ملا عبدالرشید سهاکی قرار داد. این دو ملا در دستی قرآن و در دست دیگر قانون جزا را گرفته در میان قبایل که متاسفانه از سواد و دانش بی بهره بودند فریاد میزدند: کدامیک را قبول دارید! قرآن یا قانون را؟ و طبعاً مردم میگفتند: قرآن را و سپس مردم را بشورش دعوت میکردند.(۱) علاوه بر قانون جزا، تاسیس مکتب برای دختران و مکلفیت موسوم به "هشت نفری"

(یعنی از هر هشت نفر مرد یک قریه فقط یک نفر بخدمت عسکری باید اعزام میشد) دلایل دیگری بودند که بر توسعهء اغتشاش می افزود. با ورود یک مدعی سلطنت بنام عبدالکریم پسر امیر محمد یعقوب خان از هند برتانوی به پکتیا، شورش بزودی وسعت گرفت و دامنهء آن به غزنی و وردگ و لوگر کشیده شد. در غزنی و شیخ آباد وردگ ملا عبدالاحد و ملا عبدالسبحان وردکی و ملا عبدالحلیم چهارآسیابی و ملا نور علی کهنه فروش و ملا نعمت الله قادیانی نقش مرکزی و موثر داشتند.(۲) در حالی که شورش دوام داشت، دولت لویه جرگه را تدویر و راه حل معضلهء را جستجو کرد، لویه جرگه با تعدیل برخی مواد برنامهء اصلاحات، هیاتی را به ریاست نورالمشایخ غرض مذاکره نزد شورشیان فرستاد تا تذکر بدهند که تمام مواد قانون با شریعت اسلام تطبیق داده شده و هیچ ماده یی نیست که بااسلام در تضاد باشد، ولی مذاکره با شورشیان نتیجهء مطلوب به بار نیاورد، زیرا نورالمشایخ قسماً اعتراضات ملای لنگ را تائید کرده بشاه بازگو نمود، مگر شاه حاضر نشد تا به خواهش شورشیان نظامنامهء اساسی و قانون جزا را لغو کند.

غبار متذکر میشود: هنگامی که وزیر حربیه محمد ولی خان در گردیز تحت محاصرهء شورشیان قرار داشت، از کابل یک قوت ۷۰۰ نفری بنام "عسکر جان فدا" با دو غند مشر برای نجات وزیر حربیه بسوی گردیز فرستاده شد، مگر این

قوت در بیدک لوگر مورد شبیخون شورشیان قرار گرفت و تا فرد آخر از دم تیغ گذشتند. والی علی احمد خان از ننگرهار بکمک وزیر حربیه شتافت و اگر او با شبه نظامیان خوگیانی و مومند از ننگرهار به کمک وزیر حربیه به موقع نمی رسید، بدون شبهه وزیر حربیه با شکست مواجه میشد و پایتخت مورد تهدید جدی شورشیان قرار میگرفت. به هر حال والی احمدخان با ورود به گردیز محاصرهٔ شورشیان را درهم شکست و با تدابیر مقتضی شورشیان را مجبور به عقب نشینی و فرار به کوه های اطراف نمود. سپس والی علی احمد خان و وزیر حربیه برای خاموش کردن شورش تدابیری سنجیدند و تصمیم گرفتند تا خانه و قریهٔ شورشیان به آتش کشیده شود و زنان و اطفال شورشیان اسیر کردند. این تصمیم عملی شد و بزودی خود مردم محل رهبران شورش را دستگیر و به دولت تسلیم کردند. بدینسان شورش سرکوب و رهبران آن دستگیر و به مرکز اسیر آورده شدند. رهبران شورش چون ملا عبدالله و ملا عبدالرشید و سایر ملاهای دخیل د ر شورش با ۲۵ تن دیگر از سران اغتشاش در محکمهٔ نظامی محکوم به اعدام شدند و تعدادی از اسرا در خود کابل یا در منطقهٔ قره باغ شمالی مجبور به اقامت گردیدند.[۳]

اعلیحضرت امان الله خان قبل از تطبیق حکم محکمهٔ نظامی مبتنی بر اعدام رهبران شورش خطاب به آنان

گفت:"شما افغانهای اصیل هستید، مرا ببخشید اگر به خشونت و شدت با شما اتباع افغانستان و فرزندان خود پیش آمد میکنم، مگر شما بعد از این اولاد من نیستید، زیرا که شما علیه من بغاوت کردید، شما بر اعمال مخلصانهٔ من، انگشت اعتراض گذاشتید: من مکاتب تاسیس کردم، آیا شما فکر میکنید که این مکاتب را برای خود باز کرده ام! انها را برای اطفال شما گشوده ام شما خواستید که مکاتب جدید التاسیس دختران را بسته کنم. اکنون علمای تمام دنیا به من نوشته اند که مکاتب برای دختران یک امر حیاتی و ضروری است. من پروژهٔ آبیاری را روی دست گرفته ام، این کار را هم برای خود نکرده ام، بلکه برای شما و فرزندان شما کرده ام. شما برمن، حکم قادیانی کردید (مذهب خاصی که مردم حیدرآباد پاکستان از آن پیروی میکنند)، من قادیانی نیستم. شما گفتید که قوانین جدید من، مخالف قرآن کریم است، من از شما خواهش کردم تا نزد من بیایید و در این موضوع با هم بحث و مذاکره کنیم، مگر شما نیامدید، در عوض دنبال شخص ماجراجوی دهشت افگنی چون عبدالکریم (که مدعی بود پسر امیر محمد یعقوب خان است) رفتید و بر علیه من برخاستید و بغی کردید. شما باعث قتل یک تعداد زیاد عسکر (بشمول ۷۰۰ تن عسکر جانفدا) اولاد من شده اید، بنا بر آن نمی توانم شما را عفو کنم، پس شما باید کشته شوید!"(۴)

در جریان محاکمهٔ همین ملاها و سران شورش بود که

معلوم شد دست نورالمشایخ (فضل عمر مجددی) در شورش خوست دخیل بوده است، شاه امان الله قصد کرد تا او را بزندان بسپرد. اما به احترام برادرش شمس المشایخ (فضل محمد مجددی، شخص ضد استعمار و طرفدار غازی امان الله بود و مورد احترام عمیق او قرار داشت) غازی امان الله خان از حبس او صرف نظر کرد، اما شرط گذاشت که از کشور خارج شود. نورالمشایخ نیز به بهانهٔ حج از کشور خارج شد و پس از ادای حج در دیرهٔ اسماعیل خان اقامت گزید و از آنجا برضد اعلیحضرت امان الله خان به تبلیغات خود ادامه داد.[۵] اغتشاش خوست قریب ده ماه بطول انجامید تا خاموش گشت. این اغتشاش کمر دولت را از لحاظ اقتصادی خم کرد و در حدود پنج میلیون پوند خساره بر دولت نوپای افغان تحمیل نمود[۶] همین فشار اقتصادی بود که دولت را مجبور نمود تا تعداد اردوی ملی را به نیم تقلیل دهد و این یکی از اشتباهات بزرگ رژیم، در حالی که میخواست در راه تحقق ریفورمها گام بردارد، محسوب میشود.

بقول لودویک ادمک "خانوادهٔ حضرت شوربازار در ۱۸۷۰ میلادی از سرهند هندوستان به افغانستان آمده بود. این خانواده پر نفوذ ترین خانوادهٔ روحانی در افغانستان بود و مریدان بی شماری در هر دو طرف سرحد افغانستان (با هند برتانوی) داشته و بر قبایل حاکمیت و آمریت مطلق داشت.

فضل عمر حضرت صاحب شور بازار بنام شیر آقا جان هم مشهور بود و در هند به او لقب نورالمشایخ داده بودند. ادمک علاوه میکند که او در اغتشاش خوست دست داشت و مجبور بود تا به هند فرار کند."(۷) مگر چنانکه از اسناد این خانواده بر می آید، لقب نورالمشایخ از جانب اعلیحضرت امان الله خان بعد از پیروزی در جنگ استقلال به وی داده شده است. این خانواده که در مبارزه بر ضد استعمار انگلیس در نبرد استقلال کشور از خود شهامت و فداکاری نشان داده بودند مورد احترام فراوان شاه امان الله قرار داشتند و از طرف شاه فرمان مورخ ۱۲ سال ۱۲۹۹ ش (۲ اپریل ۱۹۲۰) مبنی بر اعطای القاب شاندار مذهبی و عالی ترین نشانهای دولتی (نشانهای لمر) موازی با پنجهزار و سه صد جریب زمین صالح الزراعت سه فصله آبی را با تاکستان در منطقهٔ کوهدامن پروان نیز بطور تیول به آنها اهدا نمود به امید اینکه در آینده نیز این خانواده در تطبیق پلانها و برنامه اجتماعی دولت را یاری رسانند. فرمان ذیل بیانگر قدردانی دولت از رهبران حضرات شور بازار است:

فرمان پادشاهی ـ ۱۲ حمل ۱۲۹۹ش

فضیلت پناهان، حقایق آگاهان المر عالی نشانان حضرت شمس المشایخ (فضل محمد) و حضرت نورالمشایخ (فضل عمر)

حضور ما چون جنابان تانرا از راد مردان بزرگ محاربهٔ استقلال افغانستان عزیز میداند. این سربازی و جان فشانی که

حضرات کرام شما در راه حصول استقلال فرموده اید، حضور ما، شمایان را به اعطای نشانهای المر عالی و القاب فوق الذکر تقدیر و تمجید مینمائیم. و هم املاک خالصهء الغوئی را که از خالصه های قدیم دولت بوده و مشتمل بر پنجهزار و سه صد جریب در سه فصل میباشد با باغات انگوری آن که مربوط حکومت کوهدامن است بطور بخشش و مکافات منظور فرمودیم چنانچه بفرمان جداگانه بنام نظارت مالیه امر فرمودیم تا املاک خالصهء الغوئی و باغات را بحضرت فضایل مابان تسلیم نمایند. خدمات قابل قدر شمایان را در حصول استقلال افغانستان حضور ما و ملت نجیب افغان هیچگاه فراموش ننموده از خدای توانا سعادت و بقای افغانستان را در تحت لوای اسلام طالبیم و برای حضرتین شما که از مجاهدین بزرگ انصاری وطن می باشید، دوام رهنمائی تان را برای ملت نجیب افغان را قادر توانا در ساحه های ارتقای معنوی و مادی وطن عزیز خواهان بوده و خواهان می باشیم. (امضای شاه امان الله (۸)

یگانه شخصیت روحانی ایکه طرفدار امان الله باقی مانده بود، شاه آغا (شمس المشایخ حضرت شور بازار) بود که لنگی سلطنت را نیز بر سر امان الله خان بسته بود و در تمام مراسم رسمی در پهلوی شاه قرار داشت. یک روز بعد ازادی نماز جمعه به تاریخ ۱۹ نومبر ۱۹۲۰ شاه آغا اعلان کرد که امان الله خان یگانه شاه مسلمان در دنیای اسلام است یعنی شاه آزاد،

پس باید به نام خلیفهء جهان اسلام شناخته شده و خطبه بنام وی خوانده شود. اما در تاریخ ۲۳ نومبر یعنی چهار روز بعد از آنکه حضرت شور بازار امان الله خان را خلیفهء اسلام خوانده بود، امان الله خان در دربار اعلان کرد که از این موضع صرف نظر کردد، زیرا نمی خواهد که با توطئه های انگلیس روبرو و باعث سقوط دولت افغانستان گردد.(۹)

"اولیورروی" اسلام شناس معروف فرانسه معتقد است که: با اعلام سیاست مدرنیزه کردن جامعه افغانی از جانب شاه امان الله مناسباتش با روحانیت متنفذ برهم میخورد و این در واقع پایان اتحادی است که بنام پان اسلامیسم میان قبایل، جامعهء روحانیت و قدرت حاکم تجدد طلب برقرار بوده است. علت اصلی عدم توافق در بارهء رابطه میان دفاع از اسلام و غرب گرایی است. از نظر علمای بنیادگرا، دفاع از اسلام عبارت از هدایت جامعه به سوی اسلام و شریعت است، مگر از نظر امان الله خان، دفاع از اسلام یک مقولهء سیاسی ضد امپریالیستی است و لازم است با گرایش به سوی غرب جامعه را به سوی تجدد رهنمون شد.(۱۰)

بدینگونه پس از آنکه دولت امانی (مشروطه خواهان) دست به اصلاحات اجتماعی زد و یک سلسله ریفورمها را برای تحرک جامعه به پیش کشید، خانواده مجددی، چون سدی در برابر تحقق برنامه های تجدد طلبانه قرار رفت. نخستین شخص مخالف با اصلاحات اجتماعی شاه از خانواده

مجددی، همانا نور المشایخ بود که در اغتشاش خوست برهبری ملای لنگ دستش دخیل بود. نورالمشایخ مخالف تعلیم پسران و روی لچی زنان بود و میگفت: رفتن پسران به مکتب نتیجه ای جز کافر شدن آنان در بر ندارد. واقعیت این است که وقتی پسران به مکتب بروند و از دانش و آگاهی لازم برخوردار شوند، دیگر زیر تاثیر سخنان ملا و پیر و مرشد قرار نمیگیرند و دکان پیری و مریدی رو به کساد می نهد.

در اغتشاشهای ۱۹۲۸ و ۱۹۲۹ نیز همین قشر روحانی بشمول نورالمشایخ مجددی مقیم دیرهء اسماعیل خان و محمد صادق مجددی و محمد معصوم مجددی و فضل رحیم خواهر زاده محمد صادق مجددی همراه با ملا عبدالرحمن پغمانی قاضی القضات و ملا عبدالقادر و ملا فضل الحق و ملا عبدالحنان (که هر چهار نفر اخیر در محاکم شرعی قاضی بودند) و محمد علم شنواری و محمد افضل شنواری و صاحب زاده عبدالغفور جان و صاحب زاده عبدالله جان (هر دو از خانوادهء مجددی) و آخندزاده ملا حمیدالله تگاو و حضرت عبدالحلیم جان مجددی مرشد حبیب الله کله کانی و حضرت بزرگ جان مجددی وعده یی دیگر از روحانیون در آن دست داشتند.(۱۱)

در نظام روشنفکران چپی (حزب دموکراتیک خلق) نیز اولین فریاد اعتراض (جهاد) بر ضد آن رژیم از طرف روحانیون پر نفوذ (از جانب حضرات مجددی و پیر ۷۵ ساله

تگـاو میاگلجـان در روز جمعـه ۲۶ جنـوری ۱۹۷۹) صـورت گرفت کـه بـه بازداشـت و نـابودی خـانوادهٔ مجـددی و بمبـاران قلعهٔ و اقامتگـاه میاگـل جـان و دهکـدهٔ او در تگـاو انجامیـد.(۱۲) امـا میاگلجـان توسـط مریـدانش از بمبـاران تانکهـا و طیـارات دولـت نجـات یافـت و مصئون بـه پاکسـتان انتقـال داده شـد. در جنـبش مقاومـت برضـد تجـاوز شـوروی (در دهـه ۸۰) شخصـیتهای روحـانی معـروف مثـل: پیـر سـید احمـد گیلانـی رهبـر محـاذ ملـی، مولـوی محمـد یـونس خـالص رهبـر حـزب اسـلامی، مولـوی محمـد نبـی محمـدی رهبـر حرکـت انقـلاب اسلامی، صـبغت الله مجـددی رهبـر نجـات ملـی، برهـان الـدین ربـانی سـابق اسـتاد فاکولتـهٔ شـرعیات کابـل رهبـر جمعیـت اسلامی، عبـدالرب رسـول سیاف سـابق اسـتاد فاکولتـه شرعیات کابل رهبـر اتحـاد اسـلامی، شـیخ محمـد آصـف قنـدهاری رهبـر حرکـت اسـلامی، قاضـی وقـاد رهبـر شـاخهٔ حـزب اسـلامی، قاضـی محمـد امـین وردگ رهبـر بخشـی از جنـبش اسـلامی مقاومـت و گلـدین حکمتیـار عضـو برجسـته و نامـدار اخـوان المسـلمین مصـر رهبـر حـزب اسـلامی، هـر یـک در وجـود تنظیمهای اسلامی و بـا اشـتراک جانبازانـهٔ تمـام اقشـار و طبقـات مـردم نقـش چشـم گیـری داشـتند. صـبغت الله مجـددی رهبـر تنظیم نجات ملـی، از خـانوادهٔ حضـرت شـور بـازار بـا صـراحت میگوید که اولین کسی اسـت کـه قیـام برضـد رژیـم خلقـی را در مـارچ سـال ۱۹۷۹ در هـرات اعـلان نمـوده و تـا آن نظـام را

سرنگون نساخت از پای ننشسته است.

بنابرین تمام رژیم ها و نظام های اجتماعی افغانستان برای تحقق طرح های مهم اصلاحی و فرهنگی و گاه اقتصادی خود برای تحول جامعه به پیش تائید روحانیان را یک امر لازمی شمرده اند، زیرا که در جوامع بی سواد و نافهم و ناآگاه مانند کشور ما، عوام الناس چشم به دهن روحانیان دارند و هرچه که رهبر مذهبی یا ملا و مولوی و شیخ و مرشد بگوید مدار اعتبار و باور مردم است. از این است که شاه امان الله با تمام دین دوستی و خداپرستی اش و با تمام افکار پان اسلامیستی خود، وقتی از طرف روحانیان با نفوذ کشور (خاندان حضرت شور بازار کابل) متهم به کفر و بد دینی شد، مردم عوام چه از قبایل و چه از سایر اقوام از وی رویگردان شدند و به پادشاهی مردی تن در دادند که به اندازهٔ یک صدم شاه امان الله، از اسلام و خداشناسی آگاهی نداشت.

فعالیت های سیاسی خانوادهٔ حضرات مجددی دو خصوصیت برجسته داشت: یکی بنیادگرایی و دیگری ضدیت با تجدد خواهی و تحول طلبی. این خاندان البته در هنگام نبرد استقلال با انگلیس نقش مثبتی بازی کردند و از اندیشه های ضد امپریالیستی شاه امان الله طرفداری نمودند، اما پس از استقلال با اصلاحات شاه امان الله مخالفت ورزیدند و پیروان خود را در ضدیت با اصلاحات و تحولات اجتماعی به

قیام و اغتشاش واداشتند.

روحـانیون متنفـذ سـمت مشـرقی افغانسـتان کـه در آغـاز طرفدار سردار نصـرالله خـان بودنـد، وفـاداری قابـل ملاحظـه ای بـه امـان الله خـان در طـول دورهٔ حاکمیـت او نشـان دادنـد. رهبران مـذهبی ماننـد حـاجی صـاحب ترنگزائـی (کـه در قلمـرو هند برتـانوی قـرار داشـت) و مـلای چکنهـور در اوقـات مختلـف میان قبایل از شـاه امـان الله حمایـت و در فرونشـاندن نـاآرامی هـا کمـک مینمودنـد. و حتـی در دسـمبر سـال ۱۹۲۸ گـزارش شـد کـه در جرگـه منعقـده در منـزل نقیـب صـاحب (افنـدیجان) در چاربـاغ، غـلام صـدیق خـان و میر سـید جـان پاچـای اسـلامپور جانشـین آخنـدازاده صـاحب هـده (نجـم الـدین آغـا) بـه منظـور رسـیدن بـه مصـالحه بـا اغتشاشـیون بـه نماینـدگی از حکومـت اشتراک داشـتند کـه نتیجـه یـی در بـر نداشـت. اگرچـه رهبـران مذهبی فوق الذکر جانبـدار رفـورم هـای شـاه امـان الله نبودنـد، امـا بـه هیچوجـه بـه تبلیغـات علیـه او متوسـل نشـدند. بـرعکس نخست آنها بـه حمایـت از او تـا آن وقـت ادامـه دادنـد کـه بیشـتر از آن در میان مردم محل کاملاً بی اعتبار می شدند.

حمایت از غازی امـان الله خـان در طـول سـرحد دچـار تـردد نشد و راپورهای برتانیـه نشـان میدهـد کـه تبلیغـات بـه نفـع امـان الله توسط اعلام ایـن فتـوی کـه امـان الله کـافر نیسـت، حمایـت گردیـد. افغانهـای مقـیم پشـاور کـه در تمـاس بـا "طرفـداران خلافـت" بودنـد، کتـابی را تحـت عنـوان "خکـم شـریعت در

مورد امان الله" نشر نمودند و در آن امان الله خان مسلمان واقعی و بچهٔ سقاو عصیانگر که باید سرش قطع گردد، اثبات شده بود. از این رو محبوبیت امان الله خان بحیث رهبر پان اسلامیستی در خارج از سرحدات افغانستان تا مدت طولانی دوام نمود و قشرهای وسیع قبایل سرحدی تا هنوز او را بحیث شخصیت قهرمان می شناسند. منابعی که از آن زمان در دسترس است در مورد موضع گیری رهبران شیعه و منجمله رهبر فرقه اسماعیلیه در درهٔ کیان اشاره یی نمی کند، اما هر گاه نظر به اشتراک هزاره ها در دفاع از شاه امان الله قضاوت شود، رهبران مذهبی اهل تشیع طرفدار او بودند و این کاملاً طبیعی بود که شاه باید از این حمایت برخوردار می شد، چونکه هدف رفورم های او از بین بردن تبعیض قومی و مذهبی بود.(۱۳)

## اغتشاشها ۱۹۲۸_۱۹۲۹و روحانیت بنیادگرا:

یکی از ضربات کشندهٔ افغانها بر انگلیسها، استرداد استقلال افغانستان بود که شهرت شکست ناپذیری انگلیس را در شرق به زمین زد و مردمان مستعمرات انگلیس را برای احراز استقلال شان بیدار ساخت. انگلیس برای انتقام کشی از ملت سلحشور افغان و دولت ضد امپریالستی آن، در صدد برآمد تا یک بار دیگر از سلاح مذهب، کار بگیرد و بجان مشروطه خواهان حمله ببرد و آن را از پای در آورد. برای اینکار طبعاً انگلیس خود وارد صحنه شده نمیتوانست، بلکه

توسط عناصر روحانیت متنفذ وابسته بخود وارد عمل میگردید. البته در این زمینه انگلیس تجارب فراوانی در کشورهای اسلامی چون عربستان سعودی، اردن، سوریه مصر و ایران داشت. برای درک موضوع بهتر است در اینجا نقطه نظرهای دیپلوماتان انگلیس را ملاحظه کنیم.

دکتر شفا، بخشی از گزارش محرمانهٔ وزیر مختار انگلیس در تهران را در مورد روحانیت شیعه نقل میکند و مینویسد: "غیر از دربار و مامورین دولتی، دستهٔ متنفذ دیگری در ایران هستند که باید همیشه آنها را حفظ کرد، و اینها علما و روحانیون عالم تشیع هستند. این طبقه موقوفات سرشار و فراوانی در اختیار دارند که روحانیون و مدرسین و طلاب در سرتاسر ایران از درآمد این موقوفات و سهم امام و نذور مختلف بهرهٔ کافی میگیرند. ما (انگلستان) باید برای نفوذ در این طبقه از دستگاه حاکمهٔ ایران با اعزام عده ای سید و ملا و درویش از هندوستان به مراکز دینی و اماکن مقدسهٔ و متبرکه شیعه، بتدریج دستگاه عالیه روحانیت ایران را بر طبق دلخواه خود اداره کنیم." (سرهوارد جونس، وزیر مختار انگلستان در ایران، گزارش محرمانه به وزارت خارجهٔ انگلیس، نقل از اسناد منتشر شدهٔ وزارت امور خارجهٔ انگلستان).

"در ایران علاوه بر نیروها و سازمانهای سیاسی و اقتصادی یک سازمان موثر و کاملاً متنفذ دیگری هم هست که از تمام

منابع دیگر قدرت در این کشور قویتر و از لحاظ ما مورد اعتماد تر است و آن روحانیت شیعه است که سالهای طولانی در ایران نقشی بنیادی و کارساز داشته است و خوشبختانه ما در میان آنها دوستان خوب و نزدیکی داشته ایم و داریم. این نیرو میتواند در ایران کار آمد باشد و هر وقت لازم بشود حتی بر نیروهای دیگر از قبیل دربار و دولت و ارتش اثر بگذارد و با سلاح مذهب و جهاد هر مشکلی را حل کند. مهم آنست که توقعات آنها از ما زیاد نیست. هر وقت لازم باشد می توانیم آنها را وارد صحنه کنیم و هر وقت هم مقتضی باشد به آسانی ساکت و خانه نشین سازیم." (لرد ویول وزیر امور خارجهء انگلیستان، در جلسهء سری در سفارت بریتانیای کبیر در تهران، ۱۱ اکتوبر ۱۹۴۱، نقل از کتاب (اسرار و عوامل سقوط ایران) خاطرات مکردیج" (۱۴)

این سیاست انگلیس در دیگر کشورهای اسلامی و از جمله در کشور ما نیز صدق میکند. انگلیسها پس از روی کارر آوردن امیر عبدالرحمن خان، سیاست نفوذ بر دولت را از طریق روحانیون پر نفوذ بکار بستند و با اعزام برخی از شیوخ هندوستان به کشور ما نقش موثری در سرنوشت داخلی کشور بازی کردند. به گواهی برخی از تایخ نویسان افغان، خانوادهء روحانی حضرات شور بازار در اواخر قرن ۱۹ میلادی، ابتدا به ننگرهار و سپس به کابل آمده در شور بازار سکونت اختیار کردند.(۱۵) در آغاز خانواده حضرات مجددی

تنها با مسایل دینی سر و کار داشتند، ولی پس از نبرد استقلال بزرگان این خانواده در مسایل سیاسی دست زدند و اقدامات دولت را در پروسهٔ رشد اجتماعی و فرهنگی کشور به انتقاد نشستند و درد سرهای برای دولت ضد امپریالیستی امانی فراهم کردند.

در بحبوحهٔ اغتشاش خوست در ۱۹۲۴ یک شیخ دیگر بنام سید سعدی افندی، که خود را به شیخ عبدالقادر گیلانی منسوب میکرد (یعنی نقیب صاحب پدر پیر سید احمد گیلانی) نیز از هند برتانوی به افغانستان در ننگرهار وارد شد و به تقویت حلقهٔ پروان و مریدان خود در میان پشتونهای سمت شرقی کشور پرداخت و حتی با استقبال شاه امان الله روبرو شد و چوب دست آبنوس بسیار نفیسی با یک ساعت طلائی از شاه امان الله انعام گرفت.(۱۶)

روحانیون متنفذ با عده یی از ملاهای سمت جنوبی و حومهٔ کابل که مریدان خانوادهٔ حضرات شور بازار بودند، در سالهای که دولت امانی در راه تطبیق ریفورمهای اجتماعی گام گذاشت، چون سدی در برابر اصلاحات و ریفورمها قرار گرفتند و هر عمل دولت را بشمول تاسیس مکاتب برای دختران و پسران و اعزام شاگردان بخارج و مسئلهٔ رولچی ملکه ثریا را بشدت تقبیح و آنرا به کفر تعبیر میکردند و با تبلیغات زهرآگین خود ذهنیت عوام را علیه دولت امانی تغییر دادند. بویژه هنگامی که شاه به سفر

د افغانستان د حکومت له خوا د کلو ملکانو ته هدايت ورکړل شو، چې د هند د سرحد څخه تر جبل السراج پورې په هر کلي کې د مهاجرينو هرکلی وکړي. په جبل السراج کې د مهاجرينو د اوسېدلو لپاره پوره تياری نيول شوی و.

د اتحاد مشرقي ورځپاڼې د ۱۹۲۰ ميلادي کال د جولای د مياشتې د پينځلسمې نېټې په ګڼه کې د اعلحضرت امان الله خان يو ليك خپور کړی، چې د هندي مهاجرينو په برخه کې وايسرای ته ليکل شوي وو: "د هند

مسلمانان او هندوان چې زموږ ورونه دي په دې ورځو کې په ډېر غم او مصيبت کې ژوند کوي. هغوی ددې مقدسې وینا په مطابقت چې وایي د الله پاك په لاره کې هجرت وکړئ د نجات لاره بللې ده او د افغانستان د اسلامي دولت خاوره یې د خپل هجرت ځای ګڼلی دی. ما هم د خپلې خواخوږۍ او مقدسو متونو د هدایت سره سم د هند دا حقیقي بچیان تر خپلې محافظې لاندې ونیول او ورته مې د خپلې شاهي مځکې څخه پېنځلس زره جریبه مځکه ورکړه.

په هغه وخت کې د مالیې د وزارت له تخمین سره سم د هر جریب مځکې بیه پېنځه سوه افغانۍ وه او ټوله مځکه چې مهاجرینو ته وېشل شوې وه د اوه نیم میلیونو افغانیو ارزښت درلود.

د هند د پولې څخه تر راتېرېدلو وروسته په ټوله لار او ښارونو کې د افغانستان حکومت د اوسېدلو د ځای او د ډوډۍ بندوبست کړی و. ځیني بډای مهاجرو د خپلو دوستانو او نژدې کلیوالو خرڅ ته غاړه ایښې وه. د تاکال بالا ارباب غلام رضا خان د کابل په ښار کې کوتوالۍ ته نژدې ځای نیولی وا وورسره (۲۰۰۰) تنه مهاجر یوځای وو. ددې مهاجرو مصرف د هغه پر غاړه و.

په برتانوي هند کې د هجرت تحریك د خلکو او سیمې پر ټولنیز ژوند او اقتصاد پوره اثر وکړ. د هند حکومت د هجرت د تحریك په هکله په یوه لیکلي بیان ومنل، چې دا

تحریك هر اړخیزه او په خاصه بیا په پېښور کې ډېر عام او د سیمې هر ګوټ ته رسېدلی دی. په اعلامیه کې اضافه شوي وو چې خلك خپل شته او جایدادونه خرڅوي او د سیمې حالات ګډوډ دي. په اعلامیه کې د هجرت پر مشرانو تور لګول شوی و، چې د دروغو آوازې یې خپرې کړې دي. د هند د برتانوي حکومت دا خبره، چې د هجرت تحریك په ټولو خلکو کې احساس راپیدا کړی دی، ددې حقیقت منونه وه چې د هجرت تحریك مذهبۍ انګېزو نور پیاوړی کړی و. د هجرت تحریك د موجوده صوبه سرحد په کلیوالو علاقو کې سخت اثر کړی و او کلیوال اقتصاد ته یې لویه خطره متوجه کړې وه. ددې ځایونو ښځه په زرونو کروندګر د پېښور په لور روان وو چې په هجرت کې ګډون وکړي. د چارسدې علاقه د هجرت د تحریك له کبله ډېره متاثره شوې وه. په دوابه او آشنغر کې د ۷۰% ښځه ډېرو پټواریانو (د مالیې ماموران) استعفی ورکړه او همدا سبب شو چې مرستیال کمېشنر په ټوله علاقه کې وګرځېده او د علاقې خلکو ته یې د ډاډ ورکولو خبرې وکړې. د صوبه سرحد اداري مشر حاملټن ګرانټ د هند وایسرای ته د هند د مسلمانانو د شکایت یادونه وکړه، چې د خلافت استقرار او د مسلمانانو پر مقدسو ځایونو د ترکیې د سلطان اداره د هند د مسلمانانو غوښتنه ده. هغه وایسرای ته دا خبره هم وریاده کړه، چې آیا د ترکیې سره به د سولې د معاهدې په

مادو کې د تغير امکان وي او که څرنګه. ګرانټ زياته کړه چې تر هغه وخته پورې چې پر حجاز، بين النهرين او فلسطين د خلاقت اثر نه وي، نو تر هغه وخته پورې به په شمالي هند کبې د پوره امن امکان مشکل وي.

د هند حکومت پر حالاتو تر پوره غور وروسته کمېشنر ته سپارښت وکړ، چې د اوسني صوبه سرحد څخه حجاز ته د حکومت په مصرف خلك ولېږي چې حالات په خپلو سترګو وګوري. ددې کاروايي ترڅنګ حکومت د هجرت د تحريك په هکله په منفي تبليغاتو لاس پورې کړ او هڅه يې وکړه چې افکار عامه واړوي. د هند حکومت همدا ډول وړانديز وکړ چې د صحي معاينې په پلمه خلك د هجرت څخه راوګرځوي ترڅو حکومتي پروپاګنډې ته وخت پيدا شي، چې د خلکو احساسات د زوره ولوېږي. په هند کې د انګليس طرفداره ورځپاڼو د هجرت په هکله منفي تبليغات کول او د راپورونو په ترڅ کې پر افغانانو تور لګاوه، چې له مهاجرينو سره مرسته نه کوي. په اخبارونو کې په دروغو راپورونه نشر شول چې ډېر مهاجرين د افغانستان پر لاره له ګرمۍ څخه مړه شول. د هند د بهرنيو او سياسي چارو د څانګې يوه مخفي راپور دا شمېر دېرش تنه ښوولی و، خو تر نيم ډېر ددې خلکو څخه د برتانوي هند د پولې دننه مړه شوي وو. په افغانستان کې دننه هم د مهاجرو په منځ کې د برتانوي حکومت خلك فعال وو او د هجرت د ناکامۍ لپاره

يې هر ډول هڅې کولې.

اعليحضرت امان الله خان غوښتل، چې مهاجرينو ته د کرهنې ځمکې، کار او په تجارت کې برخه ورکړي، خو هغوی ټينګار کاوه او ويل يې چې هغوی د کرنې ځمکو ته نه دي راغلي او غواړي چې د انګليس پر ضد جهاد وکړي. د دا ډول مهاجرينو په جواب کې اعليحضرت امان الله خان وويل، چې د هغه سره دومره زور نشته چې د انګليس پر ضد بيا جنګ پيل کړي. ده وويل چې انګرېز تور کوبرا مار دی او افغانستان پر آرامه نه پرېږدي. امير هڅه کوله، چې مهاجرين په افغانستان کې مېشت شي او د هغوی هر ډول غوښتنې يې منلې.

لاندينې مقررات د مهاجرينو له خوا پېشنهاد شول او د امير له خوا ومنل شول:

۱_ په کابل کې د مهاجرينو درې فوځي غونډونه جوړ شي، چې معاش به يې له افغاني فوځيانو سره برابر وي.

۲_ځوان خانزاده مهاجرين به په فوځي ښوونځيو کې شامل شي او تر فراغت وروسته به د مهاجرينو په فوځ کې د ضرورت سره سم ومنل شي. په دې فوځيانو کې به مسلمانان او هندوان برابر حق ولري.

۳_ډاکټران، ښوونکي او نور د کسبونو خاوندانو ته به په اړونده ادارو کې ځای ورکول کېږي. معاشونه به يې د افغانانو سره يو شان وي.

۴_ د افغان حکومت بې اجازې مهاجرين نشي کولای چې اناتوليې ته ولاړ شي.

۵_ د مهاجرينو کميټه به قطغن ته د مهاجرينو د سفر ترتيبات ونيسي او خوارو مهاجرو ته يې د ۳۰ زرو افغانيو د مرستې سپارښت وکي.

۶_ د ژمي لپاره به آسانتياوې برابرې شي.

۷_ مهاجرينو ته به غلې دانې ورکول شي چې مځکې وکري او تر بل فصل پورې به ګوزاره پرې کوي.

۸_ مهاجرينو ته به نظامي زده کړه په خپلو مرکزونو کې ورکول شي او د زده کړې په وخت کې به معاش ونه لري.

۹_ مهاجرين به د کميټو د لارې د امير سره تماس نيولای شي.

۱۰_ غلام صادق خان د مهاجرينو رئيس او عبدالجبار خان د هغه مرستيال وټاکل شو.

ځينې مهاجرين په دې نظر وو چې د انګليس د استعمار پرضد مبارزه بايد په هند کې دننه جاري وي. دوی فکر کاوه چې له هند څخه افغانستان ته مهاجرت يو ډول تېښته ده. خان عبدالغفار خان چې په هغه وخت کې په صوبه سرحد کې د خلافت د کميټې مشر و، هجرت وکړ. وروسته هغه فيصله وکړه چې له افغانستان څخه د آزادۍ مبارزه هند نشي آزادولای. پاچا خان بېرته صوبه سرحد ته ستون شو او هلته يې د انجمن اصلاح افغانه ټولنه جوړه کړه، چې

په پښتنو کې تحول راولي. د خلافت د تحريك نورو مشرانو لکه مولانا ابوالکلام آزاد، محمد علي او شوکت علي خلك تشويق کړل، چې هجرت وکړي ولې دوی په خپله هجرت ونه کړ. که د هجرت تاريخ وکتل شي، نو مشرانو له خپلو خلکو سره يوځای په هجرت کې برخه اخيستې ده. رسول اکرم ص په خپله مديني ته مهاجر شو. شيخ الهند مولانا محمدالحسن د هند له ديوبند څخه حجاز ته هجرت وکړ او د عثماني امپراتورۍ تر سقوط پورې هلته پاتې شو.

د هندي ليکوالو په قول د ۱۹۲۰ ميلادي کال د هجرت تحريك پر احساساتو ولاړ و، چې په اسلامي نړۍ کې د انګليس د زورزياتي له کبله منځ ته راغلی. ملايانو او د خلافت د کميټې ځينو مشرانو د هند مسلمانان تشويق کړل، چې هجرت وکړي. ډاکټر سيف الدين کيچلو چې د خلافت د تحريك يو مهم مشر و، د هجرت ملاتړ ونه کړ. هغه باور درلود چې د هجرت تحريك د خلافت د کميټې بې سلا مشورې شروع شوی دی او پارېدلي خلك به په داسي حال کې جهاد شروع کړي، چې مشر ونه لري او په نتيجه کې به ګډوډي جوړه شي. هغه دا هم وويل چې د هند اويا (۷۰) ميليونه مسلمانانو ته نامکمنه ده، چې هجرت وکړي.

تر هجرت يو کال دمخه په هند کې وچکالي راغلې وه، د بزګرو اقتصادي حالت ښه نه و. لومړۍ نړېوالې جګړې او د افغانستان د آزادۍ جنګ د برتانوي هند کاروبار سوکه

کړي و. نو په دې ډول اقتصادي ستونزو کې هجرت پیل شو او څنګه چې د افغان ټول واك هيله وه نتيجه يې هغومره په زړه پورې نه وه. ډېر مهاجرين بېرته هندوستان ته ستانه شول ولې يوه برخه پاتې شول چې ځينو يې د ښوونې او روزنې په څانګه او نورو بيا په اداري څانګو کې کار پيل کړ.

هندي استادان او فني خلك لا د پخوا څخه په افغانستان کې پاتې وو او د نوي افغانستان په جوړولو کې په زيار لګيا و. په ۱۹۲۳ ميلادي کال د حبيبيې ليسه د عليګړ د اسلامي پوهنتون پر موډل واړول شو او په لوړو ټولګيو کې په انګرېزي ژبه تدريس کېده.

که څه هم د افغانستان د ريفورمونو د پروګرام په لومړۍ مرحله کې د فرانسې، آلمان او ترکيې سره اړيکې ډېرې شوې، خو د هند د اولس او په خاصه بيا د مسلمانانو سره ښې اړيکې ساتل شوې وې.

په فني او تخنيکي برخو کې ډېر هنديان په کار لګيا وو. ښه مثال ددې هنديانو څخه ميستري عزيز الله دی، چې د وسلو جوړولو په کارخانه کې يې کار کاوه. د تدريساتو رئيس محمد حسين خان په خپل کتاب کې وايي، چې د ميستري عزيزالله د نورو خدمتونو ترڅنګ يو هم د سپينو بارودو جوړول وو چې د اروپا له توليد سره يې ډېر تفاوت نه درلود.

په هندي اولس کې اعليحضرت امان الله خان ډېر محبوب و او د هغه د وروستي سفر په وخت کې چې د هند د لارې له افغانستان څخه د تل لپاره مهاجر کېده، په زرونو خلك ورو تللي وو. د هنديانو د اخلاص او پېرزويني په ياد کله چې د ايتاليا پر لاره د بمبۍ په Saint George روغتون کې يې لور پيدا شوه، نو د هغې نوم يې "هنديه" کښېښود.

**هندیه د افغانستان**

(دختر شاه امان الله)

# خاطرات اخرین سالهای زنده گی شاه امان الله در اروپا

این بیانیه از کست ویدیویی سیمینار استخراج گردیده است

هموطنان عزیز، خواهران و دختران مهربان، دوستان محترم،

در قدم اول میخواهم برای شما بگویم که نهایت خوشحالم که در میان شما هستم و از بودن شما در اینجا افتخار میکنم. اما امروز باهم متحد و یکجا هستیم تا یاد غازی امان الله خان را یکجا باهم گرامی بداریم و از همین خاطر از عمیق قلب احساس خوشی میکنم. از آقای انخور و همکاران شان از صمیم دل تشکر میکنم.

همیشه راجع به افغانستان، راجع به تاریخش، راجع به

پــدرم و تغییــرات ده ســالهء ســلطنت شــان، از پــروژه هــای انکشــافی آن دوران صــبحت میکــنم. همچنــان در کنفــرانس هــا راجــع بــه حادثــات غمبــار کشــور مصــیبت دیــده، راجــع بــه زنــده گــی زنــان و اطفــال افغانســتان و از اوضــاع کنــونی کشــور در اروپــا معلومــات میــدهم. بعــد از ایــن در کنفرانســها نخــواهم گفت کــه شــنیده ام، در اخبــار خوانــده ام، بــرای مــن گفتــه انــد. بعد از ایــن خــواهم گفت کــه بــا چشــم خــود همــه چیــز را دیــده ام، بــه خــاطر اینکــه فعــلاً از کابــل برگشــته ام، تقریبــاً چیزیکــه دیــدنی بــود بــا لیلــی دختــر مامــایم (همســر بــرادرم احســان الله و دوســت مــن) همــه را دیــدم و بــر ســر مــن تــاثیر غمگــین نمــود و خاطرم را پریشان ساخت.

ولــی امــروز راجــع بــه ایــن مســایل و راجــع بــه رول تــاریخی اعلیحضــرت غــازی و مترقــی امــان الله خــان حرفــی نمیــزنم، فقــط راجــع بــه اعلیحضــرت غــازی بــه حیــث رئــیس فامیــل صحبت میکنم.

از پــدر مرحــومم خــاطرات فرامــوش ناشــدنی دارم، در عــین زمــان خــاطرات جالــب و پرمحبــت دارم. در دوران طفولیــت مــا هــر روز رخصــتی مــا را بــرای قــدم زدن بــه پارکهــای مقبــول روم میبردنــد. در جریــان ســال هنگامیکــه روزهــا طــولانی میشــد مــارا بــا مــوتر بــه بیــرون از شــهر و در تابســتان بــه لــب بحــر میبردنــد. بــرای مــا اطفــال جشــن بــود، بــه خاطریکــه بــا مــا بــازی میکردنــد و بــا مــا خــوش و مهربــان بودنــد. وقتــی کــه هــوا صــاف میبــود، پــدرم خــوش داشــت کــه غــروب را تماشــا کنــد. وقتــی کــه

افتـاب نزدیـک بـه غـروب میشـد و رنـگ سـرخ و نـارنجی و گلابـی میشـد ، ایشـان بـه حالـت اکـرام تـا آخـر تماشـا میکـردنـد. ایـن لحظـات او را حتمـاً بـه یـاد خـاطرات دیگـر میبـرد. مـا دور پـدر جمـع میشـدیم اگرچـه اطفـال شـوخ بـودیم ولـی در ایـن لحظـات خـاموش مـی بـودیم، چـون میخواسـتیم بـه حالـت متفکر پدرم احترام بکنیم.

از وقـت طفولیـت مـارا تعلـیم اسـلامی دادنـد ، سـعی میکـرد مـا بـه وطـن عزیـز خـود و ملـت افغانسـتان عشـق و علاقـه پیـدا کنـیم. مـارا در مقابـل خـود ایسـتاده میکـردنـد ، مثـل یـک معلـم خـوب مـارا درس تـاریخ و دیـن اسـلام میـداد ، بـرای مـا درس تـاریخ قـدیم و جدیـد افغانسـتان میدادنـد ، تشریح میدادنـد راجع بـه پـروژه هـای خـود و راجع بـه آرزوهـای خـود بـرای یـک زنـده گـی بهتـر و ارامتـر و خوشبختر بـرای زنـان و مـردان افغانسـتان و بـرای یـک افغانسـتان نـوین، و مخصوصـاً بـرای زنـان، بـرای مـا میگفتنـد: تـا وقتیکـه زنـان تعلـیم نداشـته باشـند ، هیچوقـت نمیتواننـد اطفـال سـالم بـه محـیط خـانواده و بـه جامعـه تقـدیم نمایـد. قبلگـاه مـا همیشـه در غـم تحصـیل مـا ، در غـم صـحت مـا بودنـد. واقعـاً بـه اثـر تشـویق ایشـان همـه خـواهران و بـرادران مـن بـه تحصـیلات عـالی رسیدند ، مثـل انجنیـر احسـان الله، همیشـه از مصـارف اضـافی جلـوگیری میکـردنـد ، مگـر در قسـمت تحصـیل هیچوقـت دریـغ نمیکـرد ، باوجودیکـه شـرایط خـوب اقتصـادی نداشتیم.

از طفولیت برای ما عشق پایان ناپذیر به وطن را انتقال دادند. همیشه می گفتند که برای هر فرد افغانستان احترام داشته باشید، غریب یا پولدار، مهم یا غیر مهم و به تمام اقوام احترام بگذارید. این توصیه ها را من هرگز فراموش نکرده ام و فراموش نخواهم کرد.

ملکه ثریا مادر شیرین در عین حال بسیار جدی بودند برای ما رفتار مرتب اجتماعی یاد دادند. مثلاً میگفتند، چیزیکه من هیچوقت فراموش نمیکنم: حتی وقتی که در میان خود حرف میزنید مواظب باشید، آن نفریکه تصادفاً تیر میشود حرف های شما برای شان بر نخورند. میگفتند: باید کمبود طرف مقابل را درک کند، ولی خود تان جدی و عادل باشید. این قوانین برای زنده گی خیلی مهم است. من کوشش میکنم اینها را مراعت نمایم ولی خیلی مشکل است و بعض اوقات نمیتوانم. من همین توصیه ها را که از والدین خود به ارث برده ام، کوشش کرده ام که به اولادهای خود انتقال دهم.

به مرور زمان ما همهء اولادهای غازی امان الله خان با زنده گی خود مصروف شدیم، ولی همیشه با پدر رابطهء خطی داشتیم، تا زمانیکه متاسفانه در سال ۱۹۵۹ ایشان مریض سخت شدند در یک شفاخانه به ساعت هفت صبح روز ۲۵ اپریل ۱۹۶۰ چشم از دنیا بستند. چند روز قبل از فوت شان خواهش نمودند که یک بار دیگر ساز وطن به صدای استاد قاسم (یک بیت خوان قدیم بود) بشنود، به

خاطر اینکه خیال کند که در وطن خود میمیرد، همین وطن که از همه چیز دنیا آنرا زیاد تر دوست داشتند. وطنی که باشنده گان آن زمان طرفداری از شاه امان الله نکردند و حالا متاسف هستند که مدت سلطنت شان زیاد طول نکشید.

بعد از ۷۵ سال هنوز هم ملت افغانستان همیشه با احترام و با افتخار از ایشان یاد میکنند و در قلب هر افغان جا دارند. به حیث یک زن افغان و به حیث دختر امان الله خان پدر بزرگوارم همیشه در قلبم و در خاطراتم زنده هست.

منته

داکتر محمد اکرم عثمان

# اقدامات شاه امان الله در زمینه اصلاحات اجتماعی و عکس العمل های مردم

شاه امان الله همینکه با روسیه شوروی و حکومت هند انگلیس قرارداد هایی در زمینه تحکیم و تثبیت موضع سیاسی افغانستان به امضاء رسانید در صدد تطبیق اصلاحات برآمد که مبتنی برخواست های دیرینه جمعیت جوانان افغان بود. پیاده کردن این اصلاحات برای پادشاه ترقیخواه افغانستان عواقب ناگواری دربر داشت که ما بعد از توضیح و برشمردن اصلاحات مورد بحث بدان اشاره خواهیم کرد.

در این زمینه نخستین قدمی که شاه امان الله خان برداشت اصلاحات امور مالی بود. قبل از اوسلاطین افغانستان تمام عواید حاصله از کشور را خزانه شخصی شان تصور میکردند. و در حیف و میل آن هرگز ابائی نداشتند اما شاه امان الله به منظور تنظیم امور مالی قانونی برقرار کرد که بموجب آن تا حدودی صلاحیت و اختیارات مطلق شاه در قسمت مصرف درآمد مملکت محدود شده بود. همینطور او مالیات جنسی بر زمین، و مالیات بر مواشی را به مالیات نغدی تعدیل کرد. و تا حدود شکایت و نارضایی کشاورزان را که از این ناحیه موجود بود برطرف کرد. اما با اعلام آزادی خرید و فروش زمین، زیان شدیدی بر دهقانان کم زمین وارد آمد و شکل طبیعی اقتصد کشور به زیان تولید کنندگان کشاروزی دگرگون شدو زیرا به این ترتیب از جانبی دهقانان تابع داد وستد پولی شدند و از جانب دیگر ملاکین بزرگ از طریق اعمال فشار برخورده مالکان و خرید زمینهای شان بر تعداد دهقانان زمین افزودند و به اجبار گروهی را ورشکست کردند. از سوی دیگر شاه امان الله خان حقوق مستمری سرداران و روحانیون را لغو نمود و وجوه حاصله از آن را در خزانه کشور ذخیره کرد. چنانکه در سالهای ۱۹۲۳ و ۱۹۲۴ موازنه پرداختهای افغانستان به کلی متعادل بود و هیچ کسر و کمبودی نداشت. اما در این قسمت باید متذکر گردید که نصف عواید کشور از راه

تحصیل مالیات های گوناگون از دهقانان بخصوص کشاورزان روستاهای ولایات شمال افغانستان بدست میآمد که این خود باعث نارضایی کشاورزان آن منطقه بود. در دهم اپریل ۱۹۲۲ مصادف به سال ۱۳۰۵ خورشیدی نخستین قانون اساسی افغانستان بنام "نظامنامه اساسی" به توشیح شاه رسید و متعاقب آن اصلاحات دیگری از جمله ایجاد مدارس پسرانه و دخترانه، رفع حجاب از زنها، اعزام شاگردان دختر و پسر بخارج، ساختمان بناهای باشکوه در نظر گرفته میشود که تقریباً مصارف تمام این خرج ها از راه از دیاد مالیات بر دهقانان تامین میگردید. همچنین در مواردی چون برقراری روابط سیاسی با کشورهای خارج اصلاح تاسیسات قضایی و اداری و عقد قرارداد های بازرگانی از جمله کارهای مهمی بود که در عهد شاه امان الله خان صورت گرفت. برخی از اصلاحات فوق که باعث خسارت و زیان گروه های ذینفوذ از جمله روحانیون فیودالها و سردارها میشد باعکس العمل شدید آنهایی روبرو شد که حقوق مستمری و صلاحیت مطلق شانرا از دست داده بودند. این تغییرات یک سیاسی ملوک الطوایفی کشور را که در حال تغییر بود سرعت بخشید و سرمایداری تجاری را با مظاهر فکری و فلسفی آن تا حدودی گسترش داد. اما اکثریت ملت بعضی

دهقانان و شبانان و پیشاوران کماکان در زیر فشار مالیات و اجحاف حواله جات "غله گی[1]" فیودالها و دولت، ارباب ها و مستاجرین و تحصیل داران قرارداشت. با اینکه پادشاه کار رایگان (بیگار) را ملغی نموده بود با این وصف مامورین بزرگ دولت و فیودالها به نحوی از انحاء رعیت را به اجبار به کارهای شاق و بدون مزد وادار میکردند سیاست دولت را سیاهتر مینمودند[2]. بورژوای تباری کشور که طالب توسعه و انبساط خود بود از امتیازاتی که دولت به تجار صراف و دلال خارجی (هندی ها) داده بود شکایت داشتند و از بلند بودن سطح تعرفه گمرکی شاکی بودند و الغای حقوق گمرکی داخلی و محلی را تقاضا داشتند[3]. و اما قشر روشنفکر که بسیاری از آرزوهای خود را در وجود شاه امان الله و جمعیت جوانان افغان برآورده بودند همچنان بر ضد دسایس دشمنان داخلی و خارجی دولت وقت مبارزه میکرد و سعی می ورزید تا جنبش بورژوا و مکراتیک و ملی افغانستان در جریان و مسیر اصلی آن سوق کنند، از همین جهت تعداد کثیری از نویسندگان تحصیلکرده و ضد

---

[1] غله گی در افغانستان بخشی از حقوق سربازان را که بصورت ندم یا آرد پرداخته میشود به این نام یاد میکنند.

[2] میر غلام محمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، چاپ اول (کابل: مطبعه دولتی، شهر پور ماه ۱۳۴۶) ص ۷۵۱_۵۵۶

[3] همان، ص ۷۵۰_۷۵۷

استعمار مقالاتی در جراید (امان افغان[1])، (انیس[2]) و (اتحاد مشرقی[3]) در باب پشتیبانی از دولت شاه امان الله و نکوهش از ستم فیودالیزم و امپریالیزم به چاپ میرساندند لیکن تعداد آنها در مقام مقایسه با گروه کثیر توده مردم که در جهل و تاریکی کامل غرق بودند قلیل و ناچیز بود و نقش چندانی در ثبات دستگاه های ذیصلاح دولتی نداشت. و از جانب دیگر ملاکین بزرگ از طریق خرید زمینهای خرده مالکان، آنها را بسوی دهقانان بی زمین می راندند.

شاه امان الله که خود سرگرم نوسازی پایتخت و اصلاح سنن و رواجهای قدیمی مردم شهرها بود چندانکه لازم است به مسائل روستاها رسیدگی نمی توانست بنماید و مانند

---

[1] امان افغان جریده بود که بعد از مرگ امیر حبیب الله خان جای سراج الاخبار را گرفت و در ۱۲ اپریل ۱۹۱۹ به مدیریت و مسئولیت عبدالهادی داوی که اکنون رئیس مجلس سنای افغانستان است به نشرات آغاز کرد. (نقل از صفحهء ۸۵ کتاب سیر ژورنالیزم در افغانستان تالیف محمد کاظم آهنگ، در سال ۱۹۷۰ کابل).

[2] انیس در پانزدهم ثور (اودیبهشت ماه) ۱۳۰۶ خورشیدی (پنج مه ۱۹۲۷ میلادی) بعنوان یك جریده (فعلاً روزنامه) خصوصی و آزاد به امتیاز و مسئولیت مرحوم محی الدین انیس به نشرات آغاز کرد و تا هنوز هم از روزنامه های معتبر افغانستان بشمار میرود. (نقل از کتاب سیر ژورنالیزم در افغانستان، صفحهء ۱۹۶).

[3] اتحاد مشرقی اولین روزنامه ولایتی افغانستان است که در سال ۱۹۲۰ به مسئولیت و مدیریت برهان الدین کشککی نشر شد (نقل از صفحه ۱۱۱ کتاب سیر ژورنالیزم در افغانستان).

گذشته دست مامورین باج بگیر و مالیه بگیر دولت باز بود و طبقات تحت ستم، همچنان یوغ بندگی نائب الحکومه ها حکام، قضاوت و فیودالهای مقتدر را بگردن داشتند. اما اگر این نقص دستگاههای اداری آنزمان را نادیده بگیریم در مجموع، این حکمدار روشن ضمیر تاجائیکه برایش مقدر بود از سامان دادن به امور کشور دریغ نمی ورزید. چنانکه معارف نوین را بر طبق اصول تدریس اروپایی رواج داد و در مرکز به علاوه مکاتب (امانی) و (امانیه) و نسوان دارالمعلمین و مکتب عالی همت گماشت و تعدادی از شاگردان افغانی را به کشورهای آلمان، فرانسه، انگلستان، ایتالیا و اتحاد شوروی فرستاد. همین طور در شهرهایی چون قندهار، هرات، مزارشریف وغیره مدارسی دایر کرد و عوض دانش سکولاستیک و مسجدی دانش تجربی و پیشرفته را تعمیم بخشید.

همچنین مادر شاه[1] سرور سلطان که زنی دانشمند و کاردان بود و همیشه در تنظیم نقشه ها و طرح های پسرش سهمی به سزاداشت مستقیماً در تربیت و تعلیم زنان مملکت دخالت کرد چنانکه در نخستین سالهای تاسیس مدارس دخترانه به همه و توجه این زن (۱۵۰) دانش آموز دختر مشغول تحصیل بودند و از آن ببعد این رقم فزونی

[1] سرور سلطان (علیاحضرت) یکی از چهره درخشان تاریخ معاصر افغانستان است. او اولین زنی است که نخستین بار در نیم قرن اخیر برای احقاق حقوق و آزادی های دموکراتیك زنان افغانستان پیکار و مجاهدت کرده است.

یافت و با احداث مکاتب دخترانه در ولایات و شهرها تعداد قابل توجهی دختر و زن به فراگرفتن دانش مشغول شدند. همچنین در سال ۱۹۲۵ عده ای از دختران افغان به اروپا اعزام شدند که باعث تحریک روحانیون شد و زمزمه های مخالفانه در بسیاری از نقاط افغانستان بالا گرفت.

اما بزرگترین و مهمترین رفورم دوران امانی، رفع حجاب والغا اصول بردگی و خرید و فروش کنیز و غلام بود. همچنین بر اثر کوشش او ازدواج با دختر نابالغ ممنوع شد[1]. و از مردانیکه بیشتر از یک زن میگرفتند مالیات خاص گرفته میشد. به این ترتیب که مرد بخاطر زوجه های دوم، سوم و چهارمش ناگزیر بود مبلغی پول به دولت بپردازد. وضع این مقرره در امر جلوگیری از تعدد زوجات موثر واقع شد و بسیاری از مردان از بیم پرداخت مالیات صرفاً با یک زن اکتفا میکردند. مختصر اینکه قانون حمایت زن در مواد آتی خلاصه میشد:

الف: چگونگی عهد نکاح و پرداخت مهریه بر طبق دستورات دولت در نکاح نامه درج میگردید.

ب: به میراث بردن زن منزله مال منقول منع شد.

ج: درخواست طلاق از طرف زن مجاز گردید و زن بعد از گرفتن طلاق میتوانست به ازدواج مرد دیگری درآید.

---

[1] این قانون در سال ۱۹۲۴ از میان رفت چه روحانیون و عناصر دست راستی امیر را تحت فشار قرادادند.

د: ازدواج بدون موافقت جانبین ممنوع گردید.

برقراری قوانین جدید مالیاتی باز هم دهقانان را تحت فشار قرارداد چه از جانبی ناگزیر به پرداخت عوارض گزافی بودند و از جانب دیگر بمنظور تهیه مالیات نقدی برای دولت مقداری از غله و علوفه شان را به قیمت نازل در بازار میفروختند و در عوض متاع زیادی که حاصل دسترنجشان بود بدهی نقدی شانرا برای مالیات بکیران آماده میکردند.

شاه امان الله در سیستم نظام وظیفه و تربیت افغانستان نیز کارهایی انجام داد. چنانکه قبل از دوران سلطنت اوامر و سلاطین افغانستان سپاهیان دایمی استخدام میکردند، در صورتیکه او تعدیلاتی در این قسمت پدید آورد. شاه امان الله نخست دوران خدمت اجباری نظام وظیفه را سه سال تعیین کرد و بعد آنرا به دو سال تقلیل داد. علت این تغییرات آن بود که عساکر دایمی چون کارمندان ادولت، وظایف اصلی شانرا کنار می گذارند و مشغول کارهای شخصی از جمله چاپیدن مردم میشدند. از جمله اصلاحات دیگری که شاه امان الله در کشور انجام داد یکی تعمیر سدهای آب[1] و جاده ها بود که اغلب توسط روستانشینان بدون مزد و اجرت انجام میشد و فشار ستم هئیت حاکمه

[1] سد بتخاک، سد غزنه جاده کابل، پیشاور کابل، بامیان، کابل ـ قندهار، و کابل ـ پلخمری از جمله کارهایی است که این پادشاه بصورت بیگار بالای مردم درست کرده است.

(c) ketabton.com: The Digital Library



را چندین برابر میکرد.

یکی از کارهای دیگری که باعث نابسامانی اوضاع مالی کشور شد تعمیر قصر های دارالامان، قصر تپه تاج بیگ و منازل شخصی اراکین دربار و امرای دولت بود که در حدود ۴۰ میلیون افغانی صرف آنها شد و این رقم دو برابر وجوهی بود که برای شبکه های آبیاری کشور به مصرف رسید. عمران قصر دارالامان زیر نظر مهندسین آلمانی به انجام رسید که اغلب وسایل و اسباب تعمیرآن از هندوستان به قیمت گزاف خریداری شد. تجارت "پوست قره قلی" که یکی از اقلام عمده صادراتی کشور بود در سالهای ۱۹۲۸، ۱۹۲۷، ۱۹۲۶ سخت زیان دید چه کاهش قدرت مبادله پول افغانی در برابر پوند استرلینگ[1] بهای فروش قره قل افغانی را در بازارهای اروپا پائین آورد و به صادر کنندگان این متاع لطمه شدیدی وارد کرد. توسعه تجارت و دادوستد و فزونی سرمایه تباری، ایجاب میکرد تا دولت شاهراه ها و راههای شوسه تازه تری اعمار کند. از این جهت با تحصیل نقدی از کشاورزان زمینه را برای تسریع و بهبود تجارت داخلی را آماده کرد اما دهقانان را باز هم در مضیقه گذاشت بعلاوه در سال ۱۹۲۴ دولت مالیات بر زمین و مواشی را دو تا سه برابر کرد چنانکه

---

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| [1] در مارس ۱۹۲۶ | ۱ پوند | انگلیسی | برابر با | ۲۷ | افغانی بود |
| در مارس ۱۹۲۷ | ۱ | // | // | ۲۸ | // |
| در مارس ۱۹۲۸ | ۱ | // | // | ۳۱ | // |

قبل از سال ۱۹۲۴ از هر راس اسب ۳۰ پول و بعد از این سال دو افغانی تعیین شد. همین طور قبل از سال ۱۹۲۴ از هر الاغ ۱۲ پول گرفته می شد در حالیکه بعد از این سال، دارندگان الاغ ناگزیر بودند که از هر راس الاغ یک افغانی بدولت بپردازند. همچنین مالیات برهر جریب زمین از پنج تا ده افغانی تعیین شد که این رقم با رقم قابل پرداخت قبل از سال ۱۹۲۴ تفاوتی بسیار داشت. در سال ۱۹۲۸ مالیات بر اراضی باز هم فزونی یافت چنانکه در این سال از هر جریب زمین خوب پانزده تا بیست افانی تحصیل میشد.

در لویه جرگهء دورهء امانی اعتراضاتی از طرف برخی از نمایندگان اقوام بر سیاست شاه امان الله خان وارد آمد که او را ناگزیر به عقب نشینی و دادن امتیاز به روحانیون فیودالها و از میان بردن برخی اصلاحات اجتماعی نمود در این میان شاه امان الله تحت فشار گروه های ارتجاعی از اصلاحاتی چون برقراری مالیات بر شوهرانی که دارای چندین زن بودند موجودیت مدارس دخترانه، الغاء قانون نکاح دختر نابالغ وغیره چشم پوشید که ما در این مختصر بمنظور مطالعه تاریخ اجتماعی افغانستان در آن زمان و تضاد های موجود بین نظریات امیر و عناصر دستراستی کشور اشاره کردیم و بر مبنای همین مخالفت ها گلیم دوران "امانی" برچیده میشود و مخالفین او که دست آموز امپریالیسم انگلیس بودند، بر دوران طلایی تاریخ

افغانستان که در واقع دوران (رنسانس) آنکشور بود چیره میشوند. با این حال برخی از رفورم های شاه امان الله که ماهیت قشری و شکلی داشت با حزم و احتیاط لازمی صورت نگرفت و باعث بر افروختگی متعصبین و فتنه انگیزی ایادی و عمال انگلیس در دستگاه دولت گردید. توده های مردم که دور از مرکز زنده گی میکردند و صورتهای شان از شلاق تعدی و ستم حکام دولتی و خوانین محلی خونین بود از نوآوریهای امیر دل خوش نداشتند و تبلیغات زهرآگین ملاها و ملاکین در روح شان کارگر می افتاد. چه پادشاه مصارف پایتخت را از ولایات و قریه ها تکافو میکرد و خود بجز افزایش مالیات چیزی به آنها نمیداد. از این رهگذر دهقانان غریبکاران و بسیاری از روستانشینان بی زمین و کم زمین چون گوسفندانی رام و دست آموز مورد استفاده مخالفین داخلی و خارجی پادشاه نو طلب و خیر اندیش واقع شدند و اشتباه در محاسبه نیروهای داخلی و اشتباه در تشخیص و درجه بندی ضوررت های مبرم و غیر مبرم مردم بوسیله شاه امان الله باعث شد که حکومت از سپر حمایت قاطبه مردم محروم بماند و روز روز دستخوش آسیب گروه های ارتجاعی بشود.

دولت انگلیس که از مرد آزادی خواه و دلیری چون شاه امان الله خان همیشه در هراس بود به انواع دسایس و لطایف الحیل در صدد برانداختن مقام سلطنت در

افغانستان برآمد و از هیچ کوششی در این راه دریغ نورزید.

وقوع این حوادث چنانکه قبلاً نوشتیم باعث شورش ملای لنگ[1] و فتنه انگیزی مردی بنام عبدالکریم که فرستاده انگلیسها بود شد. ولی پیروزی نیروهای دولتی بر اغتشاشیون پکتیا (در سابق جنوبی) درد اصلی را که همان مالیات کمرشکن و ستم کارمندان دولت بسرمردم بود چاره نکرد چه در سال ۱۹۲۵ که خشکسالی و قحطی دامن کشور را گرفته بود مردم بیشتر به ستوه آمدند و دست به عصیان و غارت و چپاول اموال دولت و ملاکین زدند چنانکه شورش (شغنان) صرفاً معلول خشکسالی همین سال و بلند بودن سطح عوارض بود.

در سال ۱۹۲۶ در "خوست" شورش کوچکی به ظهور رسید و در سال ۱۹۲۷ مردم بدخشان سر به عصیان زدند و ماموران دولت را فراری ساختند. در سال ۱۹۲۸ که دولت در عدد جمع آوری سلاح های جنگی مردم "قندهار" و "پکتیا" برآمد با زد و خوردهای بین ارتش و جنگجویان محلی بوقوع پیوست اما دراین میان جالب توجه اینست تمام این شورشها را جاسوسان انگلیسی و روحانیون غیر مترقی رهبری کردند و خواستهای مردم را در جهت غیر

---

[1] ملا عبدالله طقب به "ملای لنگ" و ملا عبدالرشید با ۲۰ نفر دیگر در سال ۱۹۲۴ مصادف با چهارم جوزای ۱۳۰۴ خورشیدی در کابل اعدام شدند.

مترقـی سـوق دادنـد ، چـه انگلیسـها معتقـد بودنـد کـه قبایـل عقــب مانــده افغانســتان وســیله دفــاع، در برابــر تهــاجم احتمـالی شـوروی هـا میباشـد و از روی تجربـه دریافتـه بودنـد کــه در هــر مــوقعی کــه بخواهنـد میتواننـد روحـانیون غیـر مترقــی را کــه در روح و فکــر مــردم نفــوذی عمیــق داشــتند تطمیع کنند و بوسیله آنها اغتشاشاتی را براه اندازند.

پروفیسر ډاکټر وقار علي شاه کاکاخېل

# امير امان الله خان د پښتنو او د "پښتون" په نظر کې

امير امان الله خان د هندوستان له پښتنو سره ډېره زياته مينه لرله. پښتنو هم هغه يو مثالي بادشاه ګڼلو. امان الله خان د خپل شهزاده توب له وخت نه د استعمار او برتانوي امپرياليزم په ضد شهرت درلود. امان الله خان د افغانستان نه يو مثالي مملکت جوړول غوښتل. هغه په خپل قام کې هم د ځان لپاره د عزت ځای پيدا کړو. له پرنګي سره د استقلال د جنګ نه پس امان الله خان اعلان وکړ چې د نن نه پس افغانستان آزاد شو او افغانستان د خپلواکۍ جګړه

وګټله او د خپل دوست او دښمن ترمنځ توپير به اوس افغان ولس پخپله کوي. موږ نور هيڅ چاته دا حق نه ورکوو چې هغه دې د افغانستان د مستقبل فيصلې کوي.

امان الله ان د افغانستان نه يوه مثالي مملکت جوړول غوښتل. په ملك کې دننه هم هغه ډېر اصلاحات وکړل او افغانستان يې د پرمختګ په لاره روان کړ. هغه اراده وکړه چې افغانستان په بهرنيو هېوادونو کې هم په ښه نوم وپېژندل شي. هغه غوښتل چې ځان ته په خارجي دنيا کې څه د عزت مقام پيدا کړي او افغانستان ته څه ملګري هم وګوري. هغه فيصله وکړه چې د نړۍ په دوره ووځي. ځان سره يې خپله ښځه ثريا، چې د محمود طرزي لور وه، هم په دې سفر کې بوتله.

په دې ورځو کې دلته باچا خان او د هغه ملګرو د صحافت په ميدان کې يوه نوې تجربه وکړه او د پښتنو د ښېګړې لپاره يې هم په پښتو کې "پښتون" رساله خپره کړه. په دې مضمون کې هم چې "پښتون" کې د شايع شوي مضمونونو په رڼا کې په پښتونخوا کې د امان الله سره د مينې او د افغانستان د روانو چارو سره د مينې په باره کې ليکل کېږي دا خبره د يادولو وړ ده، چې دلته د پښتنو لپاره امان الله خان د يوه آئيډيل بادشاه حيثيت لاره چې په پښتو، پښتون قام او په پښتونولۍ مين و. د امان الله خان د يورپ د دورې نه واخله د هغه د هندوستان په لاره اتلې ته د

تـګ تـر وختـه پـورې پـه "پښتـون" کـې ډېـر څـه لیکـل شـوي دي. پـه لانـدې ډول د هغـې يـوه لنډه شـان ارزونـه کېږي. دا خبـره هـم د ذکـر وړ ده چـې د کـوزې خـوا پښتنـو پـه خيـال د امـان الله روشـن فکـري، د قامولـۍ مينـه او د رجعـت پسـندۍ نـه کرکـه او د هغـه پـه جـار د برتـانوي امپريـاليزم غندنـه د هغـه دښمنـان سپوا کـړل. پرنګـي د اسـتقلال پـه جنګ کـې خپلـه بې عزتـي نـه وه هېـره کـړې. دوی هېـڅ قسـم داسـې موقعـه لـه لاسـه نـه ورکولـه، چـې امـان الله خـان تـه پـرې نقصـان ورسـوي او هغـه پـه خپـل قـام کـې بـدنام کـړي. پرنګـی پـه دې ډېـر ښه پوهېـده چـې د افغانسـتان پـه ترقـۍ د هندوسـتان پښتانـه خوشـالېږي او دوی هـم لـه امـان الله خـان نـه ډېـره تمـه لـري. د هغـوی پـه خيـال امـان الله خـان د هندوسـتان د پښتنـو مرسـتې تـه هـر وخـت تيـار و، ځکـه خـو د پرنګـي دا کوشـش و چـې پـه هـر ډول کېـږي امـان الله خـان د لارې لـرې کـړي، ځکـه چـې هغـه د پرنګـي اسـتعمار د سـترګو ازغـی و. پرنګـي دا کلـه زغملـی شـول، چـې افغانسـتان دې پـه خپلـو پښـو ودرېـږي او د نـړۍ لـه نـورو آزادو قـامونو سـره دې د پـرمختګ او ترقـۍ پـه لار کـې څنـګ پـه څنـګ روان وي.

پـه "پښتـون" کـې د امـان الله خـان د دورې د تفصـيلاتو سـره سـره د هغـې پـه اثراتـو بانـدې هـم بحثونـه شـوي دي. لکـه چـې وويـل شـول لانـدې بـه ددې مضـمونونو پـه رڼـا کـې د امـان الله خـان د يـورپ دوره او د هغـې لـه نتـايجو سـره سـره د امـان الله

خان د افغانستان پرېښودو او د هندوستان په لاره اټلي ته دتګ پورې ځينې تفصيلات ورکول کېږي.

د "پښتون" په لومړۍ ګڼه کې د پېښور د مشن کالج يوه طالب علم د عبدالمجيد افغاني مضمون "د افغانستان ملکه او د يورپ لباس" د سرخط لاندې چاپ شو. په دې اوږد مضمون کې ليکوال اول خو د امان الله خان د اروپا د دورې تفصيلات بيانوي او د هغه عزت او درناوی ذکر کوي، چې امان الله خان ته په دې دوره کې د اروپا نورو باچايانو ورکړی و. ليکوال وايي، چې د امان الله خان د ازادۍ سره مينه او د خپلې خاورې عزت ده ته د نړۍ په نورو هېوادونو کې د عزت ځای پيدا کړو. امان الله خان هم دا ثابته کړه چې د هغه قام پښتون يوازې وحشي او جاهل نه دی لکه چې پرنګي مشهور کړې دي، بلکې هغوی هم د نورو مهذبو قامونو په شان د دنيا په ژوند ژواك ښه پوهېږي.

عبدالمجيد ليکي، چې "زموږ بادشاه اروپا په خوب کې هم نه وه ليدلې نه د کور نه بهر وتلی و، مګر کوم وخت چې هغه د اروپا خاورې ته ورسېد هم هغه وخت نه، نه دی مشرقي بادشاه و او نه هغه امر و، چې يو ځو ورځې وړاندې د مومندو په جرګه کې ولاړ و، خبرې يې کولې او يو خوارکي مومند ورته ووېل "امير صاحب بل چا له هم وار ورکوې که نه؟ ډېر مه ګړېږه چې زه هم خبره وکړم" او ده

ورته وویل "ډېره ښه نه به کړېږم" بلکې دلته داسې معلومېده، چې دی هم د اروپا بادشاه دی او په همدې آب و هوا کې پیدا شوی، لوی شوی او دومره خود راز چې معلومېږي تمامه اروپا دده زیر فرمان دی. دا ټول سفر دده په خلاصېدو دی. د اروپا تمام متعصب اخبارات په دې انتظار کې دی چې کله به د امیر صاحب نه څه غلطي کېږي او دوی به پرې اعتراض کوي او سپکوي به یې، مګر هېڅ عېب په کې نه پیدا کوي او نه د هغې په خودداری کې څه عېب مومي نه په لباس کې نه په خبرو کې څه نقصان او نه د یورپ د تهذیب نه خلاف څه کمی شته. نه د هغو کارخانو دد نیا د تباهی سامان دریابي بېړې په ده باندې څه وېره راولي. تمام یورپ حېران دی چې دا څه رنګ سړی دنیا ته راغلی دی"(۱)

د ملکه ثریا په باره کې هم لیکوال خپله رایې داسې ورکوي:

"همدارنګه د افغانستان ملکه چې کوم وخت د مغرب په زمکه قدم ایښی دی دا نه معلومېږي، چې دا هغه مادر وطن ده چې د کابل په کوڅو کې به په جینکو پسې ګرځېده او په یو څو ورځو کې یې اته سوه جینکۍ په مدرسه کې داخلې کړې او د هغو د تعلیم انتظام یې وکړ بلکې داسې معلومېږي چې د یورپ یوه ملکه ده او ټول عمر یې په یورپ کې تېر کړی دی. نه د یورپ قومونه د هغې په

وضعې اعتراض کولی شي، نه په خبرو باندې. نه په لباس باندې او نه د هغې په شاهانه خودداری باندې. د یورپ تمامې ملکې د هغې هرې ادا ته ګوري او حیرانیږي، چې د کابل په غرونو کې دې څرنګ دا تهذیب پیدا کړی دی او دا تمامه تبدیلي د شاه افغانستان په حکم او اجازت سره وه.

هغه ته دا معلومه ده چې دا ټول تصویرونه به افغانستان او هندوستان ته ځي. هغه ته خپل قومي غیرت معلوم دی. هغه ته دا هم معلومه ده، چې پښتون ته په ښځه څومره غیرت ورځي. هغه ددې نه هم خبر دی چې دښمنان به په دې بهانه سره په افغانستان کې د فساد پیدا کولو کوشش کوي او د هغو خلکو لپاره چې د زماني له رنګ سره ناآشنا دي دا یو لوی سند دی. دا هرڅه غازي امان الله خان ته معلوم دي، مګر بیا هم دی هیڅ پروا نه لري".(۲)

ښاغلی لیکوال دا زیاتوي چې دا کومه پرده چې دلته پر هندوستان کې رایجه ده او د کومې مطابق چې ملکه ثریا "بې پردګي" کوي دا نه په اسلام کې شته او نه په پښتو کې.

وایي چې "د کوم قوم چې د ګلونو په شان جینکۍ غرونو ته ځي او په خپلو سرونو لرګي راوړي، په وچو میرو کې لوونه کوي د جنګ په میدان کې په مخکې رواني وي او خاندان د دوی په اوږو باندې ټوپکونه ایښي وي، دښمن ولي او دوی په سرو لمبو کې ولاړې وي. د داسې قوم ملکه به څه پرده وکړي؟ نه ورله پرده کول مناسب دي."(۳)

په دې مضمون باندې هم په دې ګڼه کې يوه خدايي خدمتګار ميا احمد شاه د خپلې رايې اظهار کوي او ليکي، چې:

"د ګونګوسي نه داسې معلومېږي چې د بعضو روح مړو، ړوند زړو خلکو په سترګو کې د افغانستان آزادي او ترقي غړېږي او دا خيرن مخي کوشش کوي، چې په څه چل سره زمونږ د سر ګل، زمونږ د زړه آرام، زمونږ د حجرې شته، زمونږ د کنډك شپون، زمونږ د محفل شمع غازي شاه امان الله خان په خلکو کې بدنام کړي. په خپله خو مو دا ايمان دی، چې عزت دده کېږي او د خوشحالۍ نه مونږ باغ باغ کېږو"(۴)

د جون کال ۱۹۲۸ د "پښتون" په ګڼه کې هم دا عبدالمجيد افغاني د امان الله خان له قوم سره مينه ستايي او د برمنګهم (انګلستان) واقعه بيانوي چې کله امان الله خان په برمنګهم کې و، نو هلته ځيني پښتانه هلکان چې د تعليم په سلسله کې دېره وو او يکې سعدالله خان (ډاکټر خان صيب زوی) هم و، هغوی چې خبر شو چې امان الله خان دلته راغلی دی، نو هرکلي ته ورغلل. امان اله خان د خپلو مصروفياتو نه وخت وويستو او په دې ډېر زيات خوشاله شو، چې کله ورته وويل شول چې دلته په ګڼ شمېر کې پښتانه هلکان د تعليم په سلسله کې دېره دي. امان الله خان دې زلمو ته بلنه ورکړه چې کله دوی په رخصتي وي، نو

ضرور دي افغانستان ته په سيل راشي.(۵)

کله چې امان الله خان د يورپ د دورې نه واپس راغی، نو بيا "پښتون" ورته تودهرکلی ووايه. د ۱۹۲۸ م کال د جولايي په ګڼه کې د ميا احمد شاه يو مضمون "د افغانستان ملکې او بادشاه ته هرکلی" د سرخط لاندې چاپ شو. ليکوال ډېر په وياړ او فخر د امان الله خان د دورې ستاينه کوي، چې ددې په برکت پښتانه هم لکه د نورو قومونو په خارجي هېوادونو کې په ښه شان وپېژندلی شول. ولې ددې سره سره امان الله خان ته خبرداری هم ورکوي، چې:

"اګرکه مشرق هم نن ورځ د ترقۍ ميدان ته راکوز شوی دی، ولې لا په خرپوسو دی. کوشش کوي چې ډېر زر د ګرځېدو او د منډو شي. پښتانه هم په ننګيالۍ او سيالۍ شوي دي. دا سيالي يې مبارك شه. خو ګوره د سردارۍ تاج يې ستا په سر دی، هسې نه چې قدم دې خطا نه شي او دا خپلې قام قبيلې درته بلا نه شي او دا غېرتمند ننګيالی قوم د چا د خندا نه شي."(۶)

ميا احمد شاه امان الله خان ته خبرداری ورکوي، چې په هره طريقه چې وي ځان او خپل هېواد دې د جنګ نه وساتي، ځکه چې جنګونه له ځان سره تباهي او بربادي راوړي. هغه ليکي، چې:

"جنګ په حقيقت کې يو ډېر لوی مصيبت دی. کل کاروبار ګډوډ شي اګرکه نن ورځ داسې ډېر مهذب قومونه

شته دی چې جنګ یې خپل کسب ګرځولی دی، ولې چې د بل بربادي د ځان وداني ګڼي لیکن دا انصاف ته قریبه خبره نه ده. په خپلو خپلو نصیبونو صبرېدل باعث د آرام او د امن ګرځي. پاتې شو افغانستان، تر ډېرو کلونو پورې افغانستان له په څه جنګ کې حصه اخیستل په کار نه دي که چېرې په جنګ کولو باندې مجبور نه کړی شي. ولې چې مجبوري لویه بلا ده. بېشکه د ژرندې پلونه د افغانستان نه یو خوا او بل خوا پراته دي او زوګ دی، چې په ګرځېدو دې هسيءِ نه چې افغانستان دل نه کړي ولې چې افغانستان ته امن امان په کار دی. اول د کور وداني ده چې ریښتینې ځوانمردي ده. د هر ممکن کوشش نه کار اخیستل په کار دي، چې د ملك مالي حالت ښه شي او بعد د هغې نه چې څومره کېدی شي په فوځي او تعلیمي کارونو باید د حد نه زیاتې روپۍ خرڅول په کار دي."(۷)

هم په دې ګڼه کې په لندن کې د پښتنو هلکانو (طالب علمانو) له خوا بادشاه لپاره تیاره کړې شوې سپاسنامه (هرکلي نامه) شایع شوه. دوی په څه وجه دا د بادشاه په خدمت کې هلته پېش نه کړی شوه او دلته د "پښتون" په ذریعه یې ورورساندې کړه. د دوی د ستړي مشي نه پس لیکي، چې:

هم ستاسو په سعې او کوشش سره پښتون قوم نن ورځ په دنیا کې لکه د نور هسې ښکاره شو. موږ د سرحد پښتنو

کې هم د یو نوي ژوندون روح پیدا شو. ستاسو قومي او ملي کوششونه دې همېشه کامیاب وي.

مورږ د سرحد پښتانه اګرکه په ظاهر بېل ښکارو ولې زمورږ او زمورږ د نورو وروڼو خواه هغه په افغانستان کې دي یا علاقه غیر کې د ټولو زړونه یو تر بله سره ګنډلي دي. ظاهر بېلتون مورږ نه شي بېلولی. نسل، قومیت، ژبه، عادتونه، خویونه، زمورږ د ټولو یو دي. بېشکه نن ورځ تاسو آزاد یې مورږ درته ګورو او زهیرېږو. ولې بیا هم په "لا تقنطوامن رحمة الله" باندې پوره پوره ایمان لرو. نن که په مورږ غم دی، دا به تېر شي". دوی دا هم زیاته کړه، چې:

"بل زمورږ دا عرض دی، چې د قومیت بنیاد په غیر متزلزل عصبیت ایښودل پکار دي او دا دواړه د یو صحیح قومي تعلیم چې هم د قوم په خپله ژبه کې وي په موجودګۍ کې په وجود کې راتلی شي. پښتنو له په خپله ژبه کې تعلیم ورکول پکار دي. د هرې ژبې د ترقي د هغې په ویونکو باندې موقوف وي. دا به څه رنګ ښه وي، چې د پښتو طرف ته خاصه توجه وکړی شي. دلته په انګلستان کې او په نورو مغربي ملکونو کې خپلې خپلې ژبې رایجې دي. علم او هنر او اخبارات او رسایل ټول په قومي ژبه کې خپرېږي. که آسانتیا په کور پیدا شي، نو به ډېره ښه وي." (۸)

لکه چې لیکل شوي دي پرنګیانو خپل بې عزتي نه هېروله کوم چې هغوی د امان الله خان دلاسه په کال ۱۹۱۹

کې لیدلې وه. هغوی هیڅ داسې موقعه د لاسه ورکول نه غوښتل، چې امان الله خان ته پرې نقصان ورسوي. امان الله خان د هغوی د سترګو ازغی و او بیا اوس خو نور هم پرنګیان د امان الله خان په ضد شول کله چې هغوی دا ولیدل، چې خارجي دنیا کې د هغه څومره عزت او درناوی وشو. "پښتون" په بار بار امان الله خان ته خبرداری ورکولو، چې ګوره بې غمه نشې ځکه چې ستا عزت او درناوی د پرنګي د سترګو ازغی دی. هغوی د خپل مقصد لپاره په افغانستان کې "د دین ستنې" ترلاسه کړې او ډېره منظمه پروپاګندا یې د امان الله په ضد شروع کړه.

د ۱۹۲۸ز کال د اګست په "پښتون" کې یو مضمون د "د شاه افغانستان پرخلاف سازش د پرنګیانو د شر نه ډك کارونه" د سرخط لاندې چاپ شو. په دې کې امان الله خان ته ویل شوي دي، چې خان د پرنګي د چلو نه بچ ساته، ځکه چې هغوی لګیا دي او ستا په خلاف یې د خپلو "تنخواه خورانو" په ذریعه "په خلکو کې د شر او فساد د پیدا کولو کوشش کېږي. دا د دین ستنې ملایان ددې پلیت کار د پوره کولو لپاره د بادشاه د ښځې ملکه ثریا هغه خیرې چې کومې هغې په ولایتي جامو کې ایستلي دي، په خلکو کې خوروي او دا رنګ خلك ترینه اړوي... اګرکه دا خبره تر اوسه پورې هسې مشهوره وه، ولې اوس رښتیا شوه او دا پټه خبره څرګنده شوه، چې پرنګیانو په پیسو باندې ملایان

ساتلي دي او دا ملایان د دین په جامو کې د پرنګیانو لپاره د افغانستان د مسلمان بادشاه په خلاف دا خبره خوروي، چې د بادشاه اراده ده، چې د افغانستان ټوله زمکه او جماعتونه د خلکو نه واخلي او د ټول قام ملکیت یې کړي او بله دا چې په مدرسو کې د مذهبي تعلیم په ځای څه بل تعلیم شروع کړی شي."(۹)

هم په دې مضمون کې دا هم لیکل شوي دي، چې پیرنګیان دا هرڅه ددې لپاره کوي، چې امان الله خان د هغوی هیڅ خبره نه مني او نه یې د دوی ملګرتیا قبوله کړې ده، پیرنګیان په دې هم پوهېږي چې ترڅو پورې چې امان الله خان په پاچاهۍ ناست وي، د دوی مقاصد پوره کېدل ناممکنه دي. په امان الله خان د پرنګي د طاقت هیڅ اثر ونه غورځېد او دا ځیز په پیرنګي بد ولګېدو، ځکه خو یې دده په ضد سازشونه پیل کړل.

د ۱۹۲۸کا د نومبر په "پښتون" کې د عبدالغفار خان (باچا خان) مضمون د "عربستان بې تاج بادشاه په افغانستان کې " سرخط لاندې لیکل شوی دی. په دې مضمون کې باچا خان د بمبۍ د یوه انګریزي اخبار "ټایمز آف انډیا" په حواله خبر ورکوي (دا خبر ددې اخبار په ۲۸ اکتوبر شایع کړی دی) چې کرنل لارنس چې عربو ورته د ډېرې مینې نه د خپل "بې تاج بادشاه" خطاب ورکړی دی او چا چې د ترکو خلاف عرب راپورته کړي وو او په کامیابۍ سره یې دا بغاوت

ترسره کړی و، هغه اوس په افغانستان کې د انګرېزانو لپاره د افغانانو د ژوند د مطالعې کولو لپاره دېره دی. ددې اخباري خبر مطابق د هغه د کار یوه اهمه خبره دا هم ده، چې وګوري چې امان الله خان د یورپ نه په واپسۍ کوم اصلاحات په افغانستان کې نافذوي او ددې په خلکو څه اثرات پرېوځي. باچا خان لیکي، چې:

"موږ ته د کرنل لارنس یا د "بې تاج شا لارنس" ناپاک کارونه او کارنامې معلومې دي. خدای دې خیر کړي چې زموږ خوش اعتقاده او ساده پښتنو رونو ته به یې کوم کوم حسن د ځان زبرګ جوړ کړی وي او خپل مطلب به وباسي."(۱۱)

هم په دې ګڼه کې د میا احمد شاه مضمون "شاه امان الله او پښتانه" چاپ شو. په دې مضمون کې لیکوال د افغانستان او د پښتنو ترقي د امان الله خان په وخت کې لیکلې ده. هغه وریادوي چې هغه ورځې لا د خلکو هېرې نه دي، چې د افغانستان خلك هم د غلامۍ په تورو تیارو کې پراته وو. بیا یې د غازي امان الله د لاسه آزادي ومونده، خو په ځای د خوشحالېدو د پښتنو ترقي او پرمختګ باندې د ډېرو خلکو زړونه وچاودل. لیکوال د هندوستان د یوه انګرېزي ورځپاڼې "سول اند ملټري ګزټ" ذکر کوي، چې په هره ځلورمه_پینځمه ورځ به داسې مضمون ضرور شایع کوي چې پکې افغانستان او د امان الله خان سپکاوی

ښکاره شي. ولې افغانستان د امان الله خان لاندې دنیا ته ورښکاره کړه، چې دوی دداسې قسم ته خنداګانو هېڅ پرواه نه کوي او غواړي چې هندوستان ته هم د ازادۍ سبق وروښايي.([12])

د ۱۹۲۸کال د دسمبر "پښتون" ګڼه کې هم د "افغانستان" د سرخط لاندې د میا احمد شاه يو ډېر اوږد مضمون شايع شوی دی. ليکوال د غازي امان الله ستاينه کوي او ليکي، چې د غازي امان الله خان په برکت نن د نړۍ په ګوټ ګوټ کې پښتون قام هم پېژندل کېږي. ليکي، چې په امان الله خان قسم قسم تورونه لګي، چې هغه جماعتونه ورانوي او د ښځو د پردې خلاف دی. دا هرڅه ځکه دي چې هغه د افغانستان ترقي او پرمختګ غواړي. هغه د شينوارو نه هغه ماليه غواړي کومه چې هغوی د تېرو څو کلونو راسې نه ورکوي، نو په دې کې څه بده خبره ده. په هغه باندې ددې ماليې د غوښتلو سره د کافر، ملحد او بې دين تورونه ولګېدل. ولې په نورو ملکونو کې خلک ماليه نه ورکوي څه؟ ليکي، چې:

"غير غماز ته هم ډېره ښه موقعه په لاس ورغلې ده، کوشش کوي چې د بادشاه امان الله خان ټول کوششونه، چې د قام لپاره په ډېر اخلاص او نېك نيتۍ سره کوي تباه او برباد شي. زه وايم که چېرې پښتانه د امان الله خان غوندې مخلص بادشاه دلاندې ترقي ونه کړي، نو بيا هېچېرې څه

امید کېدی نه شي."(۱۳)

ښاغلی لیکوال د هغه خلکو او په خاصه توګه د هغه ملایانو، چې د امان الله خان په ضد راولاړ شوي وو، غندنه کوي او وایي چې:

"پاتې شو ملایان، تراوسه پورې چې په غرة او سمه دا ټول پښتانه بغیر د څه پردې نه بهر ګرځي راګرځي او خپل کاروبار کوي، نو ملایان دوی ته نه وایي، چې تاسو پرده ولې نه کوئ؟ زه تپوس کوم چې د ملا صاحب د کور خلک ولې پرده نه کوي"(۱۴) او دا چې "لور په لور جوارۍ، زنا، قتل، لارې شوکېدل د دروغو ګواهۍ کول جاري دي، ملایان چرې هم په دې بدو خلکو پسې شوي دي. او یا یې د یو بدکار سرې جنازه پرېښې ده؟ چې جماعتونو کې هلکان څوک ساتي او ګډوي. د دروغو ګواهۍ پسې چا ملا تړلې ده؟ د مخبرۍ په کار کې څوک وړاندې وړاندې دی؟ ماته په خپله معلومه ده چې کوم ملایان ډېر ډېر پیش دي هغه ټول مخبران دي باقاعده تنخواه ګاڼې خوري".(۱۵)

ښاغلي لیکوال د امان الله خان د تقریرونو نه اقتباسات راخیستي دي او دا ترینه ثابتول غواړي، چې بادشاه په هر حال د پښتنو ښېګړه غواړي. امان الله په جار جار دا وینا کړې ده، چې "ای پښتنو وروڼو! راغونډ شئ او د خپل وطن ودانۍ ته ملا کلکه وتړئ. زه ستاسو ورور یم. څه خدمت چې په ما اچوئ هغې ته تیار یم، خو ګورئ چې د چا په

لمسه پسې لاړ نه شئ ګڼې نو بیا به ارمان کوئ او وخت به تېر وي."(۱۶)

په دې ورځو ګې افغانستان کې د امان الله خان په ضد بغاوت شروع شوی و. دلته په "پښتون" کې داسې مضمونونه ورکول شروع شو چې خلکو ته دا ووایي، چې د خپل وطن په بربادۍ کې د چا په لسمون برخه مه اخلئ. دوی د امان الله خان هغه اصلاحات وستایل، چې د افغانستان د پرمختګ او د اولس د ښېګړې لپاره یې کړي وو. غالباً چې ددې غټ مقصد هم دا و چې دې خلکو ته ووایي، چې امان الله خان د ذاتي ښېګړې او مفاداتو لپاره دا کارونه نه کوي، بلکې دا خو د قوم او وطن د فایدې لپاره دي.

میا جعفر شاه د ۱۹۲۹ کال د جنورۍ د "پښتون" په ګڼه کې یو مضمون د "په افغانستان کې د تعلیمي ترقۍ دور" د سرخط لاندې شایع کړو. په دې اوږد مضمون کې ښاغلی لیکوال په افغانستان کې د امان الله خان په وخت کې د تعلیمي ترقۍ تفصیلات بیانوي. په دې مضمون کې لیکوال د تعلیم د ځینې څانګو یوه جایزه په ژور نظر اخلي او د امان الله خان ددې قدم ډېره زیاته ستاینه کوي، چې هغه تعلیم په ټولو خلکو په زور زده کول غواړي. وایي، چې:

"اوس لکه چې د اعلی حضرت دا خیال دی چې تعلیم جبري شي نو که عمل پرې شروع شي توقع دا ده چې د

افغانستان به د سلو نه سل تعلیمیافته یعنې ټول خلك به لیکونکي او لوستونکي شي او په مخکې لس کاله کې افغان قوم به په مقابله د هندوستاني قوم چې یو نیم سل کاله د دې نام نهاد تهذیب دعویدار او د علم علمبردار حکومت دلاندې اوسېدلی دی، ډېره زیاته ترقي وکړي. په شرط ددې که د دښمنانو د شیطانۍ او د جبر نه بچ پاتې شو".(۱۷)

هم په دې ګڼه کې یو مضمون "د شینوارو غوبل او د سپین مخو مراد بل" په نوم د راحت الله زاخیلي له طرف نه چاپ شو. ښاغلي لیکوال په دې ډېر اوږد مضمون کې د مشرق د مسلمانانو په ساده توب او د دوی د دښمن په مکارتوب رڼا اچوي. وايي، چې:

"له پېړیو راسې دَ مغرب د سپین مخو قامونو یو ټولی د اسلامي ملکونو بربادولو لپاره ملا تړلې ده. او دې مار په دنیا کې په ډېرو دروغو باندې د مسلمانانو دښمنان پیدا کوي او زیاتوي دی خوا د مشرق بې علم، وهمیان، په رسمونو رواجونو کې بوخت او وېشلي قامونه په دې دروغو داسې یقین کوي او داسې د دښمنانو مراد ترسره کوي، چې هغو ته لاخوند ورکوي، ځکه ورځ تر ورځ ددې دروغو مزی اوږدوي او اوږد یې کړ."(۱۸)

لیکوال ډېر اوږد بحث په دې کړی دی، چې څنګه یورپي قومونو په رنګ رنګ ترکان بدنام کړل. د هغوی د بدنامۍ

نـه وروسـتو يـې د افغانسـتان د بدنامـۍ پسـې بـدې ووهلـې او دا كوشـش يـې روان دی، چـې پـه ځـه طريقـه هـم وي د افغانسـتان د ترقـۍ او پـرمختګ مخنيـوی وكـړي. وايـي چـې:"د افغانسـتان پـه بـاب كلـه دا شـتۍ هـم ويشـتل كيـږي، چـې درې ماشـينونه يـې راغـوښتي دي پـه هغـو كـې بـه مـړی سـوزوئ. كلـه وايـي چـې سـيكانو او مسـلمانانو نـه يـې پـه زور ږيـرې او سـرونه وخرېـل، كلـه وايـي ښځـې يـې بـاهر تـه وويسـتې، كلـه وايـي ټولـو تـه يـې د پيرنګيـانو ټوپـۍ پـه سـر كـړې، كلـه وايـي ملايـان يـې توپـو كـې والـوزول او كلـه وايـي جماعتونـه يـې وران كـړل. د مسـلمانانو پـه عقـل هـم كـانې پرېوتي دی، چې پـه دې خبـرو بـاور كـوي. شـكيان خلـك خـو بـه دا وايـي، چـې هسـې ځـوك چـا پسـې خبـرې نـه كـوي. ځـه تـور سـپين خـو بـه وي. ولـې زه وايـم چـې كومـه خولـه پـه دروغـو عـادت وي د هغـې رښتيـاو سـره ځـه دي. پښتـو كـې متـل دی چـې "رښتيـا راځـي، نـو دروغـو بـه كلـي وران كـړي وي" ولـې اوس دا متل هم جوړ پښتنو نه هېر دی."(١٩)

راحت زاخيلي د شنوارو د غوبل متعلق ليكي، چې:

"پـه افغانسـتان كـې كـه د چـا كـور كـې دوه لـوښي وګرېـږي، نـو دلتـه كارغـان ملـك پـه سر واخلـي، هـم دا ټوكـه د شنوارو پـه غوبـل شـوې ده، شـينواري د هندوسـتان سـرحد سـره نـزدې پراتـه دي. لـس دولـس زره بـه پـه شـمېر وي. دوی د سـړك پـه سر د كابـل بادشـاه نـه پخوا داسـې وظيفـه خـوړه او ځـه شـوكه موكـه

به یې نه کوله یعنې د سرك ساتنه د دوی په ذمه وه. اوس بادشاه دا کار خپلو حاکمانو ته حواله کړ، نو د دوی وظیفه بنده شوه. دوی په دې مرور شول او تاو ورغی. بس خبره دومره ده. نه خو اعلیحضرت جلال آباد ته راغلی دی نه خو باغیانو د هغه د سر لپاره انعام مقرر کړی دی، نه هغو جلال آباد سوی دی نه ۸۲ سیکانو پرې ډزې کړې دي او نه بادشاه له باغیانو نه په تېښته خلاص شوی دی."(۲۰)

بیا زیاتوي، چې امان الله خان کلك مسلمان دی، قبلې ته لمونځ کوي، کلمه وایي، د مسلمان کره او په یوه مسلمان ملك کې پیدا شوی دی. دا صرف د دښمنانو پروپاګنډه ده، چې د هغه بدنامول غواړي او دا ځکه چې هغه د خپل ملك او قام ترقي غواړي. هغه ددې ملك اوسېدونکی دی او "دا د هغه کار دی چې د قام اوچتولو وینښولو قابلولو نوې نوې لارې وباسي او خرابې خبرې او ناکاره دستورونه له ملك نه لرې کړي. هسې خو په افغانستان کې دا نوې نوې خبرې له ډېرې مودې راسې شروع دي ولې کوم وخت نه چې غازي امان الله خان په تخت ناست دی، نو دا کارونه یې ډېر په تندۍ راخیستي دي."(۲۱)

ښاغلی لیکوال دا ثابتول غواړي، چې په مسلمانانو کې درې داسې په زړه کې د قوم درد لرونکي پیدا دي، چې هغه د یورپ په خلکو ښه نه لګي. دا درې کسان د ترکیې

مصطفی کمال اتاترك، د ایران رضا شاه پهلوي او د افغانستان امان الله خان دي. دوی غواړي چې "دا د پېنځو سوو کالو راسې په خواره خوب اوده مسلمانان، د مړژواندي او بې ښې مسلمانان دا بېخوده او سرسام وهلي مسلمانان، دا د چیرړو جوړ شوي مسلمانان وېښ شي، تکړه شي، په خود شي، سم شي، هوښیار شي، پوه شي او بیا لکه د خپلو مشرانو او پخوانو نیکونو په شان نران شي، بهادران شي، بادشاهان شي او د خپل خدای او رسول په لار روان شي، چې دنیا او اخرت یې ودان شي".(۲۲)

راحت زاخیلي په دې خبرې خپله حېرانتیا ښکاره کوي، چې:

"په افغانستان کې ددې خبرو نه چرته اور لګي، نو هغه په داسې علاقه کې لګي چې د هندوستان سرحد ته نزدې پرتې دي. د افغانستان په بادشاهۍ کې چرته بلې ډډې ته هیچېرې داسې اړې ګړې جوړ نه شو، چې خلك پرې مجلسونه ګرم کړي. دا انتظامي خبرې هر څومره چې جاري شي، نو د کندهار، هرات، ترکسان او د کابل خلك یې په چپه خوله مني، لیکن د سوېل ډډې خلك چې د هندوستان سرحد ته پورې اوسېږي، دوی په هغه خبرو یاغیان شي. دې خرابو کارونو لرې کولو او ښو کارونو شروع کولو باندې ټول افغانستان کې هېڅوك څه نه وایي، خو که مرچکی لګي، نو د ډکې ګیرچاپیره شینوارو باندې چې د سرحد نه

پوري را پوري پراته دي؟ هر سړی نه خپل عقل نه تپوس کوي، چې ای په ټول افغانستان کې نور هیڅ‌پېرته ملایان زبرګان او په دین باندې مین خلك نشته، خو بس که د دین دنیا ټیکیداران دي، نو دا د سرحد کرښې خواوشاه خلك دي، چې د هندوستان وړمه وررسي. چې دې خبرو ته بنده وګوري، نو سمدستي یې دا شك په زړه کې پرېوځي، چې د مغرب او مشرق خبره جوړ پېښه ده او په دې غاړه باندې ضرور داسې پلیتان شته دی، چې هغوی تل په دې فکر او سودا کې لګیا دي کوششونه کوي، چې د خلکو زړونه خپل بادشاه نه وتکوي. دا لویې وړې خبرې، چې بنده ځان ته مخکې کړي او فکر په کې وکړي، چې ای دا کوم قامونه چې تل خپل بادشاه پسې ټوپك واخلي، د هندوستان سرحد ته نږدې پراته دي او هغه قامونه سره یې تله راتله دي چې د هندوستان لکۍ پورې نښتي دي، نو خامخا به دا خیال د هغه مغزو کې وګرځي، چې خدای مې دې غاړه نه نیسي دا قامونه پورته کول او همېشه یې په خپل بادشاه وراچول، د غر غمازو لسمون دی". (۲۳)

راحت زاخیلی په دې خبره هم ډېر حیران دی، چې کله هم داسې غوبل راپورته کېږي نو د پښتنو د سیمې نه راپاځي. لیکي، چې:

" عقل خو دا وایي چې د افغانستان د منځ یا د لمر پرېواته ډډې خلك دې د امیر صاحب په خبره بد ومني، ځکه

چې د امیر صاحب دا نوي اصلاحات هغو لپاره د بلې دنیا خبرې دي او بالکل ناآشنا دي او څومره چې د هندوستان سرحد ته نزدې قامونه دي هغوی دې پرې بد نه مني، ځکه چې دوی د هندوستان علاقې ته ځي راځي او داسې نوو خبرو سره يې خوی بوی اخیستی دی اوویني ګوري، چې په دنیا کيې نوي کارونه کېږي ولې دلته دا خبره اپوته ده، هغه خلك خو هیڅ نه وايي، چې څه يې لیدلي نه دي او چې څوك بلد دي، په هغو اور بلېږي دا ولې؟

په افغانستان کې به هر قسم خبرې پیښېږي او هرې بادشاهۍ کې داسې ماتې ګوډې راځي. قامونه مرورېږي، بادشاه غوسه کېږي، ډاکه مار پیدا کېږي، لارې شوکېږي، غلا غلتۍ قتلونه خونونه پیښېږي، ولې هغو نه داسې لویه خبره جوړول د بدناموسۍ کاغذونه خورول او داسې بند په بند دروغ پیوندول د دښمنانو کار دی. هر چا سره پکار دي، چې خپل عقل وچلوي او خپل دوست دښمن وپېژني نیك خواه بد خواه بېل کړي.

*خلك به هرڅه هرڅه وايي*

*جانانه مه د چا منه نه به يې منمه"*[۲۴]

د مضمون په پای کې راحت زاخیلی پښتنو نه غوښتنه کوي، چې:

"په امن و امان سره خپل عملونه سم کړئ، د اسلام په بادشاه پسې چې ستاسو د دین ورور دی، د سپکو خبرو

ملاتړ مه کوئ. د هغې شرمولو پسې مه ګرځئ، زړه تړې مه بدوئ، د غیر غماز په خبره خپل ایمانونه مه ډوبوئ. دې خپلې بدې ورځې ته خو وګورئ، خدای خو داسې پېژندلي یئ چې د بل د کوتك لاندې مو عمر دی. د غار په خوله کې مو شپه ده، د دنیا ټولې پلیتۍ په موږ کې پرتې دي، بیا لا پاڅېږو او د سلام هغه بادشاه ته ګوته نیسو، چې توره یې په لاس کې ده. خلق ویښوي او سړي تړې جوړوي. د غیر غماز تړې سترګه سوځي او د خپل دین خدمت کوي. مسلمان دی د مسلمانانو نېکخواه دی، په مسلمانانو یې ښه ورځ پېرزو شي. د خپل قام لپاره سر وهلی بر وهلی کله ددنیا په یوه ګوټ، کله په بل ګوټ ګرځي او د قام د فایدې لارې لټوي. خدای مه کړه که دی نه وي، نو موږ نه خو به مغربیان ښځې جوړې کړي او پوزو کې به راته سنۍ واچوي. په آخور به مو وتړي. دا ددغې آزادې علاقې برکت دی، چې موږ لا څه خاورې ایرې په برېتو ګوتې وهلی شو، ګنې د هندوستان لنګوټیان به رانه پخوا جوړ شوي وو". او دا چې "امان الله خان هم دا غواړي چې پښتانه د هر چا د سیالۍ شي، د هر چا د جواب شي، هر چا سره د ناستې شي".(۲۵)

په افغانستان چې کوم غوبل د پیرنګي په لمسه شروع شوی و، هغه ورځ په ورځ زیاتېده. امان الله خان ته په څو څو واره وویل شول، چې هغه خپل فوځ د بغاوت د ختمولو لپاره استعمال کړي ولې هغه د پښتنو د وینو توېولو نه

انکار وکړو. هغه به ويل چې زما دا قوم ډېر ناپوهه دی او د دښمن په لمسه دا هرڅه کوي. په ۱۹۲۹کال په جنورۍ کې امان الله خان د کابل تخت پرېښود او کندهار ته لاړ او هلته استوګن شو. په کابل د سقاو د زوی پاچايي شوه.

دلته په کوزه پښتونخوا کې د امان الله خان په تخت پرېښودو يوه غوغا جوړه شوه. د انجمن اصلاح الافاغنه غړي د باچا خان تر مشرۍ لاندې په ځو ځو واره راغونډ شول او په داسيء طور طريقو يې بحث وکړو، چې امان الله خان سره په دې سخت وخت کې مرسته او کمك وکړو، چې د پښتنو دا باچايي ګډه وډه نشي. لکه چې وويل شو "پښتون" په دې ټول وخت کې د خپل وس مطابق د امان الله خان مرسته کوله، په دې کې فبرورۍ کال ۱۹۲۹ په "پښتون" کې د خان مير جلالي څه شعرونه "ځئ قندهار ته" د سرخط لاندې چاپ شول. په دې شعرونو کې ښاغلي خان مير پښتنو ځوانانو ته وويل، چې هم دا وخت دی چې پکار ده تاسو په امان الله خان غيرت وکړئ، ځکه چې هغه ستاسو مرستې او کمك ته ضرورت لري. په تشو خبرو څه نه کيږي، ملا وتړئ او ځانونه سنبال کړئ، چې د امان الله خان سره ملګري شئ او دا شوکمار د کابل نه وشړئ، چې:

قندهار کې زمونږ شاه امان الله دی
منتظر ستاسو سبا او هم بيګاه دی.

نو ددې لپاره څومره په تلوار چې درنه کېدی شي د هغه

امداد ته ځانونه کندهار ته ورسوئ.[۲۶]

هم په دې ګڼه کې د پښتونخوا د یوې درنې علمي کورنۍ یو څو غړیو چې د لوی ولي الله حضرت کاکا صاحب اولاد و، هغوی هم یو مضمون "د افغانستان پښتنو ته د کاکاخېلو سوال او زاري" د سرخط لاندې چاپ کړو. د کاکا صاحب مریدانو چې پکې اپریدي، اورکزي، مومند، شینواري، خوګیاڼي، وزیر، محسود او اتمان خېل شامل وو، دوی ته کاکاخېلو سوال او زاري کړې وه، چې د امان الله خان مرسته وکړي او:

"په خپل کور کې خپل ځانونه په خپله مه وژنئ او دا خپل کور په خپل لاس مه تاله کوئ او په خپل لاس د خپل ملک بادشاهي اغیارو ته مه ورکوئ او ټول په اتفاق سره خواره ورونه شئ.

دویم دا سوال کوو چې موږ خپل شرعي تحقیق په ښه شان سره کړی دی. پوره پوره حال مو معلوم کړی دی او دې نتیجې ته رسېدلي یو، چې غازي امان الله خان ډېر ښه مسلمان دی او د اسلام لپاره او د ټولو پښتنو لپاره بلکې ټول ایشیایي قومونو لپاره دده په شان بهتر او اولالعزم انسان موږ په موجوده زمانه کې بل نه وینو. د ټولو پښتنو د اتحاد او ترقۍ لپاره او د ټولو مسلمانانو د اتحاد او ترقۍ لپاره او د ټولو ایشیایي قومونو اتحاد او ترقۍ لپاره غازي امان الله خان ملا تړلې ده او د خپل قوم او د اسلام او د

مشرق د خدمت لپاره یې خپل ځان او مال وقف کړي دي.
ددې لپاره مونږ کاکاخېل ټولو مسلمانانو ته او په خاص ډول ټولو پښتنو ته او د کاکا صاحب رح مریدانو ته خاص کر افریدو ته، اورکزو، مومندو، شینوارو، خوګیانو، وزیرو، مسعودو او اتمانخېلو او نورو قومونه چې دي، دې ټولو ته دا کاغذ په طور د جرګې ورلېږو، هر چاته چې دا کاغذ ورسېږي، نو هغوی دې داسې وګڼي چې د کاکا صاحب ټول لمسي راغلي دي او زما په در او زما په کوڅه کې ناست دي او دا سوال رانه کوي، چې پاسئ او ملا وتړئ او تر هغې پورې په قلار مه کېنئ، چې ترڅو پورې مو غازي امان الله خان بیا د کابل په تخت نه وي کېنولی او مونږ کاکاخېلو به تر هغې پورې د کاکاصاحب په روضه کې پاك رب ته لاس په دعا نیولي وي، چې ترڅو پورې ستاسو د فتحې خبر نه وي راغلی". (۲۷)

هم په دې ګڼه کې د انجمن اصلاح افاغنه د هغه سمدستي جلسې هم تفصیلات ورکړي شوي دي کوم چې په ۲۳ د جنورۍ کال ۱۹۲۹ باندې په اتمانزو کې وشوه. په دې موقعه دا تجویزونه پاس شو:

"۱_ د مصلحتي مجلس دا جلسه په حیثیت د اسلام او د قوم د برتانیه حکومت ته دا مشوره ورکوي، چې هغه دې ددې انګتې نه بالکل غیر جانبدار وي او د هندوستان حکومت ته هم دا خبرې ورکوي، چې دې خبره کې دخل

ورکول ټولو مسلمانانو ته او بیا په تېره تېره د پښتنو قامونو ته یو قسم چیلنج دی چې په دې خبره به د برتانیې او د پښتنو په راشه درشه کې خامخا د فرق پیدا کېدو وېره وي او ددې ټوله ذمه واري به د سرکار په سر وي.

۲_ د مصلحتي مجلس دا جلسه د افغانستان هغه شریانو ملایانو او پیرانو او نورو دښمنانو ته، چې د افغانستان د بربادۍ سبب دي د کرکې په سترګه ګوري..."(۲۸)

په دې ورځو کې امان الله خان په کندهار کې و. دلته انجمن فیصله وکړه، چې د امان الله خان امداد لپاره یوه طبي وفد هلته ولېږل شي. ددې طبي وفد مشر یې ډاکټر خان صیب، چې د باچا خان مشر ورو و هغه ته وسپارلې شوه او له هغه سره د کمك لپاره ۳۵ هلکان وټاکل شول، چې پکې څه ډاکټران هم شامل وو. په دې ورځو کې عبدالغني خان د باچا خان مشر زوی په جامعه ملیه اسلامیه ډیلي کې و، هغه هم پلار راوغوښتلو چې لاړ شي او د افغانستان د خلکو په دې سخت وخت کې امداد وکړي. دلته پرنګي حکومت وفد ته د تلو اجازه ورنکړه. باچا خان او جعفر شاه میا صیب ته بیا دا ذمه واري ورپه غاړه کړل شوه، چې د امان الله خان سره په کندهار کې ملاقات وکړي او د هغه له خوا لیکل شوې غوښتنه راوړي چې پکې دا لیکلي وي، چې امان الله خان دا غواړي، چې طبي وفد دې

افغانستان تـه راشـي. دوی دواړو پـوره کوششـونه وکـړل ولـې حکومـت دوی بلوچسـتان تـه هـم ورننوتـو تـه پرېښښـودل. ددې ټول تفصیلات په "پښتون" کې شایع شوي دي.

د ۱۹۲۹کـال د مـارچ پـه ګڼـه کـې د میـا احمـد شـاه یـو اوږد مضمون "د غـازي بادشـاه امـان الـه خـان اسلام او کفـر" د سرخط لاندې چـاپ شـو. پـه دې مضمون کـې ښـاغلي لیکـوال په ښکاره او جار باندې وویل:

"خـدای خرڅونکـو، رسـول خرڅونکـو، دیـن و ایمـان خرڅونکـو، خپـل آزاد وطـن، عـزت، حیـا او پښتـو خرڅونکـو د اسلام پـه جامـه کـې د ددیـن د دښمنـانو پـه لمسـون او وینـا سره یـوه مـومن مسلمان بادشاه امـان الله خـان تـه د کفـر نسبت وکـړ، غـرض یـې دا و چـې عـام نـاپوه خلك د هغـه نـه وګرځـي او بدمعاشـانو او دښمنـانو تـه د آزاد افغانسـتان د بربـادولو موقعـه پـه لاس ورشـي. هـم هغـه شـان وشـوه. ولـې چـې ورځ د قیامـت شـي او خـدا ی پـاك کـل مخلوقـات د حسـاب لپـاره راوبلـي او زمـوږ رسول الله[ص] قرآن پـه تـرخ کـې د خـدای پـاك پـه مخکـې حاضـر شـي، نـو پـه هغـه لـوی میـدان د حسـاب کـې پـه حقـه سـره خـدای منـونکی، رسـول بانـدې قربانېـدونکی او د خپـل وطـن پـه خـاوره بانـدې لـه خپـل بـال بـچ سره زارېـدونکی بادشاه امـان الله خـان بـه د خلکـو نـه راجلا شـي او پـه لـوی آواز سره بـه کلمـه طیبـه درسـته کـړي او بیـا د زړه د درد نـه بـه یـوه کریکـه وباسـي او د هغـو ګـز ګیـرو زر تسـبیحو د مکرقبـا

پوشو ملايانو ګرېوان ته به لاس واچوي او خداى پاك ته به يې پېش کړي او په ژړا به شي، چې اى لويه خدايه! دا هغه عزت ورکي ملك خرڅونکي قام شرمونکي خلق دي، چې د يو څو روپو لپاره يې په ما باندې د کفر فتوى ورکړې ده او حال دا وه، چې ما ته ستا رسول ستا قرآن ستا کعبه په حقه سره منل او خپل عمر مې ستا د يو لوى مخلوق لپاره چې پښتانه بللى شو، وقف کړى و. او خپل سر د مال مې ترينه زارول ولې دې مکارو د کفارو په لمسون سره په ما باندې د دروغو تورونه پورې کړل او خپل آزاد وطن يې لوټې لوټې کړ.(۳۹)

ليکوال وړاندې ليکي، چې:

"يو خوا بادشاه أمان الله خان و، چې د پښتنو د ترقۍ لپاره يې مدرسې، کارخانې، سړکونه، آبادۍ شروع کړې وې او خپل قام ته يې په حکومت کې واك او اختيار ورکړى و او قام ته يې په لوى آواز سره بلنه کوله، چې راشئ چې دا خپل وطن په جمع سره سنبال کړو.... په افغانستان کې بادشاه په خپله خلك رابلي او ورته وايي، چې راځئ چې د وطن د ساتنې او د ترقۍ لپاره ښې ښې لارې رااوباسو. بل خوا يو بدمعاش، پوچه، جوارګر، بنګي، چرسي، غل ډاکو سړى لکه بچه سقاو (د مشکي زوى) چې د پېښور نه د بدمعاشيو په سبب د پوليس له وېرې تښتېدلى دى، د افغانستان د ازادۍ دښمنانو په کابل کې کېنولى دى او په

ټول جهان کې یې پښتانه رسوا کړل او کوم ظلمونه چې هغه په ښځو سره په جار باندې او د هغه په حکم سره بدعملي کېږئ او عام مسلمانان قتلېږي او بیا هم دغې شیطان ته دا ګز ګیري تور زړي پیران او ملایان مسلمان وایي او تعریف یې کوي او د بادشاه امان الله خان په ځای یې کېنولی دی.

اصله خبره دا ده، چې روپو د ملایانو د بچه سقاو، د شینوارو او د خوګیانو سترګې ړندې کړي دي او د سپي مچان ترینه جوړ شوي دي."(۳۰)

لیکوال زیاتوي، چې:

"د مور د سینې پی حرام شه په هغه پښتون باندې چې په بادشاه امان الله خان پسې ټوپک راواخلي. وخت راغلی دی، چې ننګیالي ځوانان د افغانستان د ازادۍ د ساتنې لپاره خپل سرونه قربان کړي. تاریخ ګواه دی، چې قومونه په قربانۍ سره ژوندي پاتې کېږي. د افغانستان د آزادۍ بنیاد بادشاه امان الله خان کېښود او هم دا بادشاه امان الله خان و، چې په پښتنو کې یې د ژوندون یو نوی روح پیدا کړ. ۱۹۱۹ کال به د افغانستان په تاریخ کې لکه د لمر هسې ځلېږي. ای شاه امان الله خانه! دا ته وې، چې په دې کال دې د پښتنو د قامولۍ بنیاد کېښود، مور به مره او هېر شو او ډېرې پېړۍ به راشي او تېرې به شي، ولې ستا نوم به د همیشه لپاره ژوندی وي. د پښتنو د ازادۍ د تـریخ شروع به هم ستا په نوم کېږي. راتلونکي نسلونه به دې هم په

احسان او تعریف سره ستایي. د بچه سقاو بدمعاشي او د شوربازار د پیر وطن او آزادي خرځول به د پښتنو په سپینه جامه باندې تر ډېرې مودې پورې یو تور داغ وي."(۳۱)

د ۱۹۲۹ کال د اپریل په "پښتون" کې د باچا خان مضمون چاپ شو، چې سرخط یې دا و:"د افغانستان د بغاوت په حقله کې دنیا څه وایي. روس، فرانس او نور خلکونه په چا ملامتیا وایي. آیا د کرنل لارنس (د یو پرنګي نوم دی) په دې کې لاس شته".

په دې اوږد مضمون کې باچا خان د ولایت او د نورو یورپ د ځینې اخبارونو نه خبرونه ورکړي دي او دا یې د ثابتولو کوشش کړی دی، چې د افغانستان په بغاوت کې د رسوایۍ زمانه کرنل لارنس لاس شته. لارنس د ترکانو خلاف د عربو پورته کولو نه پس افغانستان ته رالېږل شوی و او په "صوبه سرحد کې په یو خاص کار باندې مقرر و" باچا خان لیکي، چې برتانیه دا کوششونه په بار بار کوي، چې په افغانستان کې یو ځلي بیا د انګرېزانو هغه اثر و رسوخ پیدا شي، کوم چې په ۱۹۱۹م کال کې د امان الله خان بادشاه کېدو په وجه ختم شوی و او برتانیه دا هم غواړي، چې د هندوستان په ګاونډ کې دې خلک کمزوره او تابعدار وي.(۳۲)

هم په دې ګڼه کې د "پښتون" د چلونکي (باچا خان) د طرفه یوه بل مضمون د "د جلیل ملا چیتې: د هك دك کېدو

خبرې" په نوم چاپ شوی دی. لیکوال وایي چې دا هاغه د مولانا ظفر علي خان د اخبار "زمیندار" نه ترجمه کړی دی. دا ملا جلیل چې په اخونزاده هم مشهور و، د هغې ملوی صیب په خپلوۍ کې راتلو. په هندوستان کې یې هم ډېر وخت تېر کړی و او بیا د شوربازار ملا د کشر ورو په لاس یې بیعت کړی و. لیکي، چې:

"ددې نه زما مطلب دا نه دی، چې ټول پیران او ملایان بدنام کړم، زما خو اوس هم په ځینو ملایانو او زبرګانو داسې عقیده ده، چې د هغو په اشارت اور ته دانګم، ولې له داسې بدذاته او کم اصلو ملایانو او زبرګانو نه مې کرکه وشوه، چې د خپلو نفسونو غټولو لپاره په قوم او ملك کې تربګنۍ اچوي، د شر فساد اور تازه کوي. د پښتنو بادشاهي ټوټې ټوټې کوي او د افغانستان له دښمنانو سره یارانې ساتي، نو د داسې زبرګانو له ټګۍ برګۍ نه مسلمان بچ کول زه خپل فرض ګڼم".

ملا جلیل په ښه تفصیل سره د خپل یوه بل پیر بهایي کرم علي شاه ذکر کړی دی، چا چې لکه دده د کشر حضرت شور بازار نه لاس نیوی کړی و. وایي چې دا کرم علي شاه په شکل ښېره بدلولو کې ډېر بد دی، چې ساعت کې یې ګورې نو ښه پرهېزګار عالم به وي،د تسبو لوی ګړپال به یې لاس کې وي او د زبرګۍ او د کرامتونو خبرې به کوي. په ساعت کې به یې ږیره او بریت سره د روحو ټول خریلي وي

او د بهنګو کوتک به یې په اوږه ایښی وی او د قلندرۍ خبرې به کوي. ماښام به د کاتهیاوار په جامه کې د وړوکي حضرت صاحب په شیخانو کې ناست وي، ذکر به کوي. ماسخوتن به د یو پښتون ملا په جامه کې په لمانځه ولاړ وي، سحر به یې بله نمونه جوړه کړې وي. لنډه دا چې په څېره بدلولو کې داسې مېړنی دی، چې د امکان خبره نه ده". وړاندې لیکي، چې د حضرت په وینا دوی لاړل افغانستان ته، د سرحد په اکثرو چاونو کې وګرځېدل او بیا آزادې علاقې ته واوړېدل. لومړی دوی لاړل شینوارو ملک ته چې د شور بازار ملا ډېر اخلاص مند مرید وو، شینوارو د دوی ډېره درنه مېلمستیا وکړه. کرم علي شاه دلته خپل دوه کرامتونه وښودل: پنځه ویشت دپاسه اووه سوه (۷۲۵) ولایتي ټوپکې او شپږ د پاسه سل (۱۰۶) بکسونه د کارتوسو د یوه غار نه د شینوارو ملک بیاموندل. بله دا چې څو زره د سرو زرو اَشرفۍ د حمایت نه باهر زمکه وکیندل شوه او دا د شینوارو ملک ته ورکړی شوه. په دې باندې کرم علي شاه ډېر زیات مشهور شو او د خپلو "کراماتو" په سبب په باغستان کې بې تکلیف ګرځېدو. دی چې به هرچېرته لاړو، د ملایانو په مجلس کې به شامل شو او د ملکه ثریا د تصویر کیسه به یې رااچوله او د خلکو په غم و غوسه کې به یې اضافه وکړه.

ملا جلیل دا هم لیکي، چې دی کوهد امان ته هم لاړو او

د بچه سقاو سره يې ملاقات وکړو او هلته يې د "جاهلو ملايانو" نه د امان الله خان خلاف قسم قسم فتوې واخيستې.(٣٣)

د ملا جليل په دې مضمون باندې راحت زاخيلي خپله رايې داسې ورکړې ده:

"دا دي هغه ملايان او زبرګان، چې موږ ورته د دين واګې لاس کې ورکړي دي او هغوی د دښمنانو لپاره ښنګه د خپل قام مرۍ پرېکوي. خلق خو وايي، چې زبرګ ته د ټولې دنيا شکې هم معلومې وي ولې زموږ زبرګانو ته دا هم نه دي معلوم که قام او ملك غرق شي نو د دوی به په خپله څه حال شي؟ کاپران خو نه دړی زبرګان کوي او نه ترې طريقه کوي او نه به بيا شکراني ورکوي. دوی له خپل خرتوب له لاسه خپل کور ته اور ورته کوي. خدای دې هر مسلمان دداسې خرو نه وساتي."(٣٤)

هم په دې ګڼه کې يو بل مضمون "د افغانستان اور" د مولوي خليل الرحمان له قلمه چاپ شو. ليکوال د هغو ټولو خلکو ډېره زياته غندنه کوي، چې د غير غماز په لمسه يې خپل کور وران کړو او لکه د لېونو سپو يو بل داړي. ليکي، چې:

"د غير قومونو نمك حلالو غلامانو شاباس! ستاسو منډې ترړې، ستاسو تقريرونه، تحريرونه، ستاسو د محنت او سختۍ مېوه راوړه. مبارك شه! مبارك شه! دغه دی

افغانستان وران شو. خزانې لوټ شوې، میژزینونه تالا والا تباه او برباد شو. بنګلې، قلاګانې ورانې شوې، بادشاه بې کوره شو، جرنیلان او کرنیلان در په در شول، د زړو او وړو ځیګرونه ښېرې شول. مزکه د ماشومانو د وینو نه سره شوه، ښځې کونډې شولې، واړه یتیمان شول، پرده نشین زنانه بې حرمته شوې. واه! ددې نه زیاته فتحه ستاسو کله کېدای شي؟".(۳۵)

د ۱۹۲۹م کال د مۍ "پښتون" کې د امان الله خان یو خط چاپ شوی دی، چې د ځینې اعتراضاتو، چې په هغې به کېدل د هغې ځوابونه یې په ښه طریقه ورکړي دي او دا وایي، چې:

"دا خو د دښمن ټولې بهانې او چالاکۍ دي، چې زما ساده قوم له یې په دې دهوکه ورکړه او خپل ملك یې پرې باندې تباه او برباد کړ او د دښمن زړه یې یخ کړ."(۳۶)

هم په دې ګڼه کې د امان الله خان له خوا "ترکیې ته د جینکو لېږل" باندې یوه مضمون نما خط هم ورکړی شوی دی، چې نورالحق نومي پښتون طالب علم، چې په حیدر پاشا مډیکل کالج استنبول کې یې سبق وایه، هغه رااستولی دی. ښاغلی لیکوال په تفصیل ددې افغاني جینکو ترکیه ته د راتلو حال لیکي، چې:

"دا زموږ پښتنې جینکۍ ټولې په لیلیې مکتب کې دي. په دې مکتب کې هلك نه شته او استاذاني یې هم ښځې

دي. په داسې مکتبونو کې بغير د خپل پلار، تره، ماما او ورور نه بل چا سره د ملاقات اجازت نه شي ورکولی. د پښتنو جينکو لپاره ملاقات بالکل ناممکن دی. ددغې مکتب د يو څو ترکانو جينکو وروڼه زما د سبق ملګري دي دوی د خپلو خوېندو د خولو نه د پښتنو جينکو د دينداری او د ښو اخلاقو نيك تعريف بيانوي."(۳۷)

ددې مضمون په پای کې باچا خان دا څو کرښې ليکلي دي:

"ای زما پښتنو وروڼو! دا څه الزامات او فتوې، چې په غازي امان الله خان باندې لګېدلي دي، ددې څه حقيقت نشته دی او دروغ دي. د خدای لپاره دوست او دښمن وپېژنئ او د الله په خاطر نور خپل ملك د خودغرضو او نفس پرستو خلکو په لمسه مه ورانوئ."(۳۸)

د ۱۹۲۹ کال د جون د "پښتون" په لومړي پاڼه د نورالحق دا شعرونه ليکل شوي :

*ناپوهه پښتنو ته خطاب*

*ته يې پورته خېژوې دې ځې په ښکته*
*دا متل دی چې د خره مينه وي لته*
*د دښمن مکر پرې څنګه تاثير وکه؟*
*چې يې توره کړه په پلار پسې اوچته*
*د مرغۍ غوندې اجل دا رنګ روند کړی*
*دانه ويني د دام نه لګوي پته*

*تـه بـه پـس د بربـادۍ نـه خبـردار شـې*
*د جاهـل مخبـر مـلا د نصـيحته.(٣٩)*

د "پښتـون" د جـون پـه ګڼـه کـې د باچـا خـان د طـرف نـه ليکلی شوې "اداريـه" کـې هـم د امـان الله خـان ذکـر کـوي او پـه جار وايي، چې:

"د ټـول پښتـون قـوم صـرف يـو بادشـاه دی او هغـه غـازي امـان الله خـان دی. زمـوږ فـرض دی، چـې د هغـه د فايـدې او بهبـود يـې حفاظـت مـوږه داسـې وکـړو لکـه چـې څـرنګ چـې د خپـل سـکه ورور کـوو. د خـدای لپـاره لـږ خـو نـورو قومونـو تـه وګـورئ، چـې هغـوی څـرنګ د خپـل بادشـاه پـه وينـا بانـدې ځـان، مـال، زامـن او خپلـوان قربـانوي. د هـر قـام د اتفـاق د يـووالي او د مـنظم کېـدو لپـاره دا ضـروري ده، چـې د هغـې قـام سـړي د خپـل مشـر او بادشـاه، جونګـړه خپلـه جونګـړه او د هغـه تکليـف خپـل تکليـف وګڼـي او هېچېـرې داسـې خبـره ونـه کـړي، چـې د هغـې پـه وجـه د قـام پـه يـوه ډلـه او بلـه ډلـه کـې فساد، دښمني او جنګ وشي."(٤٠)

هـم پـه دې ګڼـه کـې د "طبـي وفـد او پښتانـه" د سـرخط لانـدې د باچـا خـان يـو بـل مضـمون هـم چـاپ شـوی دی، چـې پـه کـې تفصـيل سـره هغـه حـالات بيـانوي، چـې دوی د طبـي وفـد پـه لېـږلو کـې ورتـه مخـامخ دي او ليکـي، چـې حکومـت پـه هېـڅ حـال کـې دوی تـه اجازت ورکولـو تـه تيـار نـه دی، چـې دوی دې کنـدهار تـه لاړ شـي يـا د کابـل او خـواو شـا علاقـو کـې دې

فساد ځپلي خلکو امداد او کمک وکړي. ددې سره يې د سردار عبدالهادي خان، چې د افغانستان د تجارت وزير و او اوس له امان الله خان سره د کندهار نه بمبۍ ته راغلی و، د هغه بيان هم ورکړی دی. د عبدالهادي خان نه تپوس وشو، چې تا ولې دومره زر افغانستان پريښود.عبدالهادي ورته ووېل، چې بادشاه دا د اول نه فيصله کړې وه، چې که چرې هغه خبر شي، چې قومونه د هغه په سر پخپلو کې جنګونه کوي او بادشاه ته دا معلومه شوه، چې ددې جنګ سبب زه يم، نو زه به فوراً د تخت نه دست بردار شم، ځکه چې زه نه غواړم چې زما په سبب سره دې زما د مسلمانانو پښتانه وروڼه خپلې وينې تويې کړي.(۴۱)

د ۱۹۲۹کال د جولايي په "پښتون" ګڼه کې باچا خان خپل د "شاه امان الله خان سره ملاقات" تفصيلات ورکړي دي. باچا خان ليکي، چې زه خپلو ملګرو په دې مجبور کړم چې بمبۍ ته لاړ شم او له امان الله خان سره ملاقات وکړم. هغه ته د پښتنو د زړونو خپګان ښکاره کړم او دا ورته ووايم، چې ستاسو د ناکاميو په وجه سره افغانستان خو لا پرېږده، موږ د سرحد پښتنو ته ډېر سخت نقصان ورسيده. کومه جذبه او همت چې ستاسو په وجه سره په موږ سرحديانو کې پيدا شوی و او ورځ په ورځ په ترقۍ و هغه ستاسو د خپل قام نه خپه کېدل او بمبۍ ته د راتللو د پښتون قام لپاره يو داسې انقلاب و چې ددې خبر په اورېدو

یکلخت د قام ټولې ارادې بدلې شوې او د همت په ځای بې همتي او مایوسي پیدا شوه.(۴۲)

باچا خان لیکي، چې ثنګه هغه د بمبۍ تاج هوټل ته لاړ، هلته یې له بادشاه سره ملاقات وکړ. باچا خان ترینه په نورو تپوسونو کې دا هم کړی و، چې تاسو ولې جنګ نه کوئ او په زور مو ملك باندې قبضه نه کوله. امان الله خان ورته په ځواب کې وویل، چې:

"چې ګوره اصل کې بادشاه خو یو څوکیدار دی او ددې حق خلکو ته حاصل وو که ماته؟ آیا دا به ښه وي، چې د یو کلي څوکیدار کوتك راواخلي او په زور خلکو ته وایي، چې ما خپل څوکیدار کړئ که چیرې د خلکو د رضا برخلاف زور جایز وي، نو بیا ماله هم پکار وو چې جنګ مې کړی وای."(۴۳)

باچا خان امان اله خان ته وویل، چې:

"نن په افغانستان کې خانه جنګي ده، په کار دي چې هلته ستاسو لپاره تبلیغ وشي او ستاسو خوبۍ خلکو ته وښودلی شي، چې خلك بیا ستاسو طرف ته رجوع وکړي"

ددې په ځواب کې یې وویل:

"بس زما کار ختم شو، ما لس کاله ددې قام خدمت وکړ، په دې لس کالو کې ما په وخت ډوډۍ نه ده خوړلې، د سحر نه مې ماښام پورې کار کړی دی، د خپلې ښځې، زامنو نه خبر نه وم. د شپې به بیا هم ددې قام په فکر کې

وم، چې دوی به څنګه ترقي وکړي. ددې په صله کې زه قوم قادیاني او کافر کړم. زه د خپل ځان لپاره هیڅ قسمه پروپېګنډه او تبلیغ نه غواړم، نه یې پخپله کوم او نه چاته وایم چې زما لپاره دې وکړي. زه تاته رښتیا وایم، چې د هغې بادشاهۍ نه اوس ډېر په ارام یم. زمینداري به کوم او خپله ګوزاره به کوم. خدای رازق دی."(۴۴)

هم په دې ګڼه کې عبدالاکبر خان اکبر "د غازي امان الله خان د خپل ملك نه وتل" د سرخط لاندې یو ډېر په زړه پورې مضمون لیکلی دی.

لیکي، چې په ۲۷ مۍ کال ۱۹۲۹ دا "سپېره خبر" راغی، چې امان الله خان د اټلي په لور روان شو. ډېر زیات د خپګان اظهار پرې کوي او لیکي:"حقیقت دا دی، چې د امان الله خان د خپل بدنصیب او جاهل ملك د اصلاح نه ناامیده کېدل او په ملك پرېښولو باندې مجبوره کېدل د یو ناامیدي یا د یو اسلامي سلطنت د تباهۍ بربادۍ سوال نه دی، بلکې دا سوال د اسلام د راتلونکي وخت د ټول عالم اسلام د انجام او د هغې، چې آیا هغه ساعت لاتراوسه نه دی راغلی؟ چې د هغې علمبردارانو د مذهب د هغې ټیکیدارانو د جنت چې په اصلي معنو کې د انسانیت دښمنان او آدم خواره دي، برخلاف یو لوی جهاد وشي. زه تر قیامته ددې خبرې منلو ته تیار نه یم، چې د افغانستان انقلاب د بېروني سیاست د مکارۍ نتیجه ده. ولې که

چېرې د ملك مذهبي پيشوايان چې د هغوی په اشاره باندې د جاهلو پښتنو عمل او حرکت موقوف دی، پخپله ذليل نه وی، نو ولې به هغوی بيروني اثر قبلولو ته تيارېده. (که چېرې داسې اثر پيدا کړی شوی وای) او دا د ځناورو ټولی به د خپل هلاکت او تباهۍ سبب پخپله ولې کېده. خبره دا ده، چې بدنصيب دی هغه قوم، چې بې علم او د چا واګې د مذهبي ناپوهه ملايانو په اختيار کې وي او حد درجه بد بخت دی هغه ملك، چې د چا په اصلاح او تدبير کې د خودغرضو نفس پرستو ته دخل وي".(۴۵)

۱۹۲۹ کال د اګست په "پښتون" کې باچا خان يو مضمون د "واه پښتونه!" د سرخط لاندې شايع کړی دی. په دې مضمون کې باچا خان په قسم قسم خبرو پښتنو ته پېغورونه ورکوي، چې د خپل بادشاه سره مو څه وکړل او د چا په لمسه باندې خطا شوئ او فکر مو دې طرفته هېڅ ونکړو، چې د امان الله خان نه پس به ستاسو څه حال وي؟. وړاندې ليکي، چې:

"ای پښتنو! لږ خو فکر وکړئ، موږ به د لږ ساعت لپاره فرض کړو، چې امان الله خان خراب و. ددې لپاره د هغه برخلاف په افغانستان کې جنګ شروع شو. ليکن اوس خو دوه مياشتې وشوې هغه خراب سړی د افغانستان نه بهر شو او افغانستان خو يې خلکو ته پرېښود، نو بيا ولې کور په کور جنګ دی.

سرو چې مونږ به تاسو ته نعرې وهلې، چې ګورئ دوی د دښمن په لمسه د پښتون قام تباهي کوي او د هغه وطن بربادوي، نو تاسو به پکې شك او شبهې کولې. اوس خو هيڅ شك او شبهه پاتې نه شوه.

د خدای لپاره ای پښتنو ورونو! سترګې وغړوئ، تباه شوئ، برباد شوئ دښمن ستاسو د تخت په ورکېدو پسې دی او ستاسو په تخت د مشکي زوی، چې هغه پښتون نه دی کينوي. ستاسو بادشاه ورکوي، ستاسو په يوه ځای د جمع کېدو ځای ورانوي، ستاسو د دماغونو نه د بادشاهۍ خيال وباسي. تاسو نااميده کوي. لکه څنګه چې نن ورځ زمونږ ډېر خلك ماته مايوسه او نااميده معلومېږي. مايوسي د بې همته خلکو کار دی. پاسۍ د الله پاك او د هغه د پاك رسول ص په خاطر د خپل قام د خدمت لپاره په اتفاق سره او په جمع سره ملا وتړئ. ذاتيات او پر جنبه پرېږدئ. د چا نه چې په مال کېږي هغه دې په مال او د چا نه چې په ځان کېږي، هغه دې په ځان صرفه ونه کړي. تر هغې وخته پورې يو پښتون له آرام کول نه دي پکار تر کوم وخته پورې، چې مونږ دا خپل تخت دا خپله بادشاهي واپس د مشکي د زوی نه اخيستې نه ده او په هغې مو يو پښتون نه دی کېنولی.

او که دې وخت کې مو څه قدرې ځان او مال ته وکتل او سستي مو وکړه، نو اميد نشته، چې زمونږ هستي د دنيا په مخ پاتې شي."

د امان الله خان له تلو سره د پښتنو په جذبه کې هم ډېر لوی فرق راغلو او ددې نه پس بیا د ډېرې مودې پورې شعرونه خو شایع کېدل، چې پکې د امان الله خان ذکر و خو داسې لوی یا اوږد مضمون په دې موضوع نه دی چاپ شوی.

## ماخذونه:


۱. "پښتون، اتمان زئی، می کال ۱۹۲۸، ص ۳۸_۳۹
۲. // // // ص ص ۳۹_۴۰
۳. // // // ص ص ۴۰_۴۱
۴. // // // ص ۴۱
۵. پښتون، جون کال ۱۹۲۸، ص ص ۵_۱۰
۶. پښتون، جولایي کال ۱۹۲۸، ص ۶
۷. // // ص ۷
۸. // // ص ص ۸_۹
۹. پښتون، اکست، کال ۱۹۲۸، ص ۳۲
۱۰. // // // ص
۱۱. پښتون، نومبر کال ۱۹۱۲۸، ص ۳۴
۱۲. // // // ص ص ۳۸_۳۹
۱۳. پښتون، دسمبر کال ۱۹۲۸، ص ۷
۱۴. // // // ص ۱۵
۱۵. // // // ص ص ۱۰_۱۱
۱۶. // // // ص:۱۵
۱۷. پښتون، جنوري کال ۱۹۲۹، صص ۱۱_۱۳
۱۸. // // // ص ۴۳
۱۹. // // // ص ۴۵

۲۰. // // // ص ۴۵
۲۱. // // // ص ۴۶
۲۲. // // // ص ۴۶
۲۳. // // // ص ۴۷
۲۴. // // // ص ۴۹
۲۵. // // // ص ۵۰
۲۶. پښتون، فبروري، کال ۱۹۲۹، ص ۲
۲۷. // // // ص ص ۴۷_۴۸
۲۸. // // // ص ۴۹
۲۹. پښتون، مارچ، کال ۱۹۲۹، ص ص ۵_۶
۳۰. // // // ص ص ۶_۷
۳۱. // // // ص ص ۸_۹
۳۲. پښتون، اپریل، کال ۱۹۲۹، ص ص ۵_۱۰
۳۳. // // // ص ص ۱۱_۱۸
۳۴. // // // ص ۳۶
۳۵. پښتون، می، کال ۱۹۲۹، ص ۵
۳۶. // // // ص ۸
۳۷. // // // ص ۱۰
۳۸. پښتون، جون، کال ۱۹۲۹
۳۹. // // // ص ص ۹_۱۰
۴۰. // // // ص ص ۳۹_۴۰
۴۱. پښتون، جولایي، کال ۱۹۲۹، ص ۱۰
۴۲. // // // ص ۱۲
۴۳. // // // ص ص ۱۴_۱۵
۴۴. // // // ص ص ۴۲_۴۳
۴۵. پښتون، اگست، کال ۱۹۲۹، ص ص ۱۳_۱۴

محمد انعام واک

# اماني دوره

## او په افغانستان کې د ملت جوړونې بهير

### لرليد:

په يوه ځانګړي سياسي جغرافيه کې د خلکو هغه ټولنه، چې ګډې تاريخي، کولتوري، اقتصادي او سياسي ګټې، ملي احساس، ايکي يو ملي هويت او ګډ ملي ارزښتونه ولري، "ملت Nation" او ددې ګټو او ارزښتونو د يوځای کېدو او پخلي بهير "ملت جوړونه Nation Building" بلل کېږي.

د يوه افغان پوه له نظره ملت هغې ټولنې ته وايي، چې اوسېدونکي يې له قومي، ژبني او مذهبي توپيرونو سره

سره ځانونه د هغې منلې غړي وبولي، هغې ته د زړه له کومې وفادار وي او له بلې هرې ټولنې زيات له هغې سره کلك ټولنيز، سياسي او رواني تړون ولري.(١)

ژبني، قومي، مذهبي، ديني او تاريخي يووالی کولای شي چې له ملت جوړونې سره مرسته وکړي. خو په ملت جوړونه کې کېدای شي کله کله دا فکتورونه هومره پرېکنده رول ونه لوبوي. په نړۍ کې داسې ټولنې شته چې له هره پلوه متجانسې يانې نګه وي لکه جاپان او يا په ډېرو اړخونو کې سره توپير ولري لکه سويس.(٢)

د ملت جوړونې ستونزې او اسانتياوې د يوه هېواد له سياسي انکشاف سره نېغ تړاو لري. په لويديز کې سياسي تکامل ځانګړې سياسي پړاوونه وهلي دي:

- لومړی دولت جوړ شوی،
- بيا د ملت جوړونې کار پيل شوی،
- بيا اقتصادي ودې ته پام اړول شوی،
- ورپسې په سياست کې د عامو خلکو ګډون، يانې ديموکراسي، مطرح شوې،
- او بيا له اقتصادي ودې وروسته د ملي عايداتو په وېش کار شوی.(٣)

سياسي انکشاف په افغانستان کې لرغونې سابقه لري، خو د "ملت جوړونې" په بڼه کې دې انکشاف نه خپل لازم پړاوونه وهلي او نه د کومې ځانګړې ستراتېژۍ له مخې پرې

عملي کار شوی. همداراز په افغان "ملت جوړونه" باندې لازمې تیوریکي څېړنې هم نه دي شوي، نو په همدې بنسټ زموږ لیکنې هم په دې اړه ډېرې لومړنۍ، خامې او نیمګړې دي. افغانستان ته د اسلام د مقدس دین د ظهور نه لا وړاندې په مرکزي آسیا، غور او جنوبي اسیا، ملتان کې "سوري" او "لودي" حکومتونو په افغانستان کې د دولت او ملت جوړونې موندنه مات کړ.

ځینو افغانستان پوهانو په پنځلسمه پېړۍ کې د اعلیحضرت "شیخ ملي" ټولنیز_اقتصادي ریفورمونه، په شپاړسمه او اولسمه پېړیو کې د اعلیحضرت "پیر روښان" او اعلیحضرت "خوشال خان ختك" ملي غورځنګونه هم افغان دولتونه ګڼلي دي. دوی کله کله پښتون په یوازې ځان "ملت" ګڼلی. موږ پخپله هم ځانته د افغان ملت خطاب کوو. ښایي دا خبرې ددغه یا هغه "ملي" او "سیاسي" مصلحت او یا واقعیت په بنسټ وي، خو ددې مصلحتي او یا واقعیتي تېزسونو د ثبوت لپاره ژوره څېړنه په کار ده.

د افغانستان موسس ستر احمد شاه بابا د دولت او ټولنې هویت "افغان" وباله. څه ناڅه دوه نیمې پېړۍ وړاندې په "افغان" هویت باندې د مېشتو قومي ګروپونو سلا په معاصر افغانستان کې د افغان "دولت" او افغان "ملت" جوړونې د بنسټ ډبره کېښوده.

سره له دې چې امیر عبدالرحمن خان (۱۸۸۰_۱۹۰۱) د

ملت جوړونې په اړه ځانګړې ستراتیژي درلوده او په ملت جوړونه کې یې د انجنیر په توګه د باچا، د معمار په توګه د پوځ او د کاریګرو په توګه د خلکو په رول ټینګار کاوه.(۴) خو بیا هم سیاسي انکشاف د دولت جوړونې تر پولو وانه وښت.

د انګرېز او افغان له درېیمې جګړې وروسته په اماني دوره (۱۹۱۹_۱۹۲۹) کې ملت جوړېدنې ډېر وخت نه درلود. د اماني دورې لومړی پړاو (۱۹۱۹_۱۹۲۴) د ملت جوړونې د هڅو او دویم پړاو (۱۹۲۵_۱۹۲۹) د بهرنۍ لاسوهنې او کورني اغتشاش له امله د دولت او ملت ورانونې پړاو و.

په داسې حال کې چې په اروپا کې د سیاسي انکشاف پړاوونو هر یوه لږ تر لږه پېنځلس شل کاله وخت اخیستی، نو د اماني دورې لومړی پېنځه کلن پړاو د ملت جوړونې لپاره لږ وخت و.

ویلای شو چې سیاسي انکشاف په افغانستان کې د دولت جوړونې له پړاوه ورانده نه دي تللي. د کورنیو عواملو په توګه د ټولنیز پرمختګ د ښو طرحه شویو او اوږدې مودې د پلانونو نشتوالي او ددې پلانونو په طرح کې د کورنیو بشري او اقتصادي منابعو په نظر کې نه نیول(۵) د دولتي حاکمیت د ټینګېدو نه وروسته په ډېرې چټکۍ د سیاسي انکشاف د نورو پړاوونو یوځایي پیل له یو خوا او

وخت په وخت د افغانستان په لار شمال ته د جنوب او جنوب ته د شمال د ښکېلاك سياسي او پوځي مانورو له بلې خوا، افغانستان ته د ملت جوړونې چانس نه دی ورکړی. لږ تر لږه په تېره يوه نيمه پېړۍ کې د افغان او انګرېز درې جګړې يو او په ۱۹۸۰ لسيزه کې د افغان شوروي جګړه بل مثال دی. داسې چې انګرېزي ښکېلاك د نولسمې پېړۍ په پای کې "افغانستان" او شوروي ښکېلاك له هغې يوه پېړۍ وروسته، د شلمې پېړۍ په پای کې افغان "ملت" ټوټه کړ.

## اماني دوره:

اماني دوره په واقعيت کې د دريو اهدافو لپاره پيل شوه:

۱ـ د يوه نوي او ملي دولت جوړول،
۲ـ د سياسي خپلواکۍ بيا ګټل،
۳ـ د ټولنيزـاقتصادي نظام بدلول.

د سياسي انکشاف لومړی پړاو يانې د نوي دولت جوړېدل په برياليتوب سرته ورسېد. د هېواد سياسي خپلواکي بيا ترلاسه شوه، خو د دولتي واك د غزولو، د ملي هويت د پخولو، د يوې ملي ټولنې د جوړولو، اقتصادي ودې، سياسي ديموکراسۍ او د عايداتو د عادلانه وېش غټ غټ ملي کارونه په مخ کې وو.

## د دولتي واک غزول:

دولت په نهو اداري واحدونو (پېنځو غټو ولايتونو او څلورو اعلی حکومتونو) کې د درې ګونو "اجرائيهء، مقننه او قضائيه" قواو له لارې د دولتي واك د غزولو كار مخكې بيوه.(۶)

## ملي هويت:

په قومي-ژبني لحاظ ارجل ياني نامتجانسو ټولنو کې د ملت جوړوني لومړی او ستونزمن کار د "ملي هويت" ټاکل او پخول دي، خو دا چې په افغانستان کې د دولت او ټولنې هويت په عنعنوي توګه "افغان" پاتې و، نو په اماني دوره کې، هم په افغان هويت باندې يوه عمومي سلا موجوده وه، خو تر هغه ځايه چې د ملي هويت خبره له قومي-ژبني جوړښت سره تړاو لري، نو دا خبره د څېړلو ده.

افغان ملت جوړونه په افغانستان کې له افغان ژبني جوړښت سره ستونزې لري او دا ملي تاوان په دې کې دی، چې قومي جوړښت په افغانستان کې په ژبني جوړښت نه دی لګېدلی. قومي جوړښت يو او ژبني جوړښت بل دی.(۷) د دولت سياسي ژبه يوه او ملي ژبه بله پاتې شوې ده، نو د يوه پاخه ملي هويت په نه جوړېدلو کې کولتوري عنصر ياني د يوې ملي ژبې نشتوالی هم لاس کړی دی.

د قومي جوړښت له مخې دا ستونزې بنسټيزې نه دي، ځکه

نه یوازې دا چې قومي جوړښت په افغانستان کې یو په بل کې یو نښتی جوړښت پاتې شوی، بلکې د ځینو نامتجانسو ګاونډیو ټولنو، د ساري په توګه د ایران او پاکستان، د قومي جوړښت په پرتله یو مناسب جوړښت هم دی.

له دغسې یوه مناسب قومي جوړښت او تجانس سره سره بیا هم د یوه ښه انکشاف په توګه په افغانستان کې د یوه Ethnic Nation په ځای د یوه **Civic Nation** د جوړېدو هڅې شوې دي، خو په افغان بټۍ کې د بېلو بېلو قومي ګروپونو خام پخلي او کمزوري ملي Integration د یوه پاخه او پیاوړي ملي هویت لار نیولې ده. همدلته ده چې له اماني دورې څه ناخه اتیا کاله راوروسته هم ژبه د یوې ملي ستونزې په توګه لا پاتې ده، ځینې افغان قومي ګروپونه ځان نن سبا افغان نه، بلکې افغانستاني بولي او د یوه مرکزي او پیاوړي افغانستان په ځای د یوه کمزوري او وېشلي افغانستان غوښتنې پوره قوت لري.

په اماني دوره کې په ملت جوړونه کې د کولتوري ارزښتونو او یوې ملي ژبې په بنسټیز رول ټینګار وشو. د نړۍ د یوه نومیالي ناروېژي انتروپولوګ پروفیسر فریدریک بارت **Prof.Fredrik Barth** له قوله په ۱۹۲۰ کلونو کې په افغانستان کېې د ملت جوړونې کار پیل شو. هغه وایي، چې په دې لړ کې یوې اکاډمیکې ژبې ته د پښتو ژبې د اوچتولو او ملي کولو (د افغانستان ژبه) هڅې پیل شوې.(۸)

د نړۍ نومیالی ختیځ پوه او بیا وروسته پښتو ژبپوهاند Georg Morgenstierne په ۱۹۲۴ کال کې افغانستان ته سفر وکړ. افغان ټولواک د هغه تودهرکلی وکړ. د پښتو ژبې د معیاري کېدو په لار کې د نورو څېړنو په څنګ کې ناروېژي ختیځ پوه د پښتو ژبې Ethymology ولیکله.(۹) د یوې ملي ژبې د جوړېدو کار افغان ټولواک غازي امان الله له ځانه پیل کړ. هغه خپله پښتو ژبه زده کړه.

لیدل کېږي، چې د افغاني ملت جوړونې دې اړخ ته د اماني دورې پام و، خو وروسته په لاړم ډول تعقیب نشو، نو تر هغه ځایه چې قومي او ژبني جوړښتونه هم په ملت جوړونه کې لاس لري، په افغانستان کې له اماني دورې مخکې او راوروسته د دولتونو د پوره بې مسئولیتۍ، اغماض او د یوې رښې ستراتېژۍ او ملي هوډ د نشتوالي له امله په افغان بټۍ کې د بېلو بېلو قومي ګروپونو د نه ویلې کېدو او یوې ملي ژبې د نه جوړېدلو له امله یو پوخ افغان ملي هویت منځ ته رانغی، نو په زغرده ویلای شو چې ملت جوړونه په افغانستان کې د یوه "پاخه ملي هویت" له بحران سره مخ وه او ده.

## اقتصادي پرمختګ:

د ملت جوړونې د یوه درېیم پړاو په توګه اماني دورې په افغان "ملت جوړونه" کې اقتصادي پرمختګ ته پاملرنه وکړه او یو لړ اقتصادي بریاوې هم ترلاسه شوې. د اماني

دورې د دويم پړاو په وروستيو کې، کله چې له ۱۹۲۷ کال څخه بدلانه زور اخيست، دولت يو لړ بهرني اقتصادي تړونونه ترلاسه کړل، خو زياتېدونکې سياسي ناکرارۍ، لړو کورنيو بشري او طبيعي منابعو، د ښه پلان او ښې متودولوژۍ نشتوالي، اماني دولت ته د اقتصادي بنسټونو د رغونې په دود د يوه پياوړي مواصلاتي نظام، پخو سړکونو، تجارتي مارکېټونو، ميدانونو، د ښار او کور جوړولو، د کرنې او اوبو لګولو او نورو اقتصادي منابعو د هستولو او په کار اچولو او په پای کې د ملي عايد د عادلانه وېش وخت ورنه کړ.

## قومي مساوات او ملي يووالی:

اماني دورې په افغان ملت جوړونه کې د قومي مساوات او ملي يووالي لپاره هم ګامونه واخيستل. د اماني دورې د ۱۹۲۳ کال د اساسي قانون د اتمې، نهمې، لسمې، دوه ويشتمې او څليريشتمو مادو له مخې د افغانستان ټول اوسېدونکي پرته له ديني، مذهبي، جنسي، قومي او نژادي تبعيضه د افغانستان د مساوي حقونو درلودونکي تبعه وګڼل شول.(۱۰) او په قانوني ډول د ملي يووالي او يوه موټي "ملت جوړونې" هڅه وشوه.(۱۱)

## ښوونه، روزنه او کولتوري پرمختګ:

د ملت جوړونې د يوه مهم توکي په توګه د ښوونې او

روزنې په برخه کې هم بې سارې پرمختګ وشو. د وخت د اساسي قانون د ۶۸مې مادې له مخې لومړنۍ زده کړې حتمي شوې. ۳۲۲ لومړني، ۳لیسې او ۲۲ مسلکي ښوونځي جوړ شول. په مسلکي ښوونځیو کې درې زرو (۳۰۰۰) او لومړنیو ښوونځیو کې په ۱۹۲۷ کال کې ۵۱۰۰۰ تنو زده کړه کوله. تر ۱۹۲۷ کال پورې د پرش توکه بېل بېل درسي کتابونه په ۶۹۳۵۷۵ شمار کې چاپ شول. یو شمېر نارینه او ښځینه زده کوونکي د لوړو او مسلکي زده کړو لپاره بهر ته واستول شول. د ملي شعور او ملي احساس د پیاوړي کولو لپاره د اماني دورې په لومړي پړاو کې څه ناڅه ۱۳ خپرونې په مرکز او ولایاتو کې خپریدې.[12]

## سیاسي ډیموکراسي:

د ټولنیزو، کولتوري او اقتصادي ریفورمونو په پلي کولو برسېره د سیاسي دیموکراسۍ په دود سیاسي فعالیت ازاد، سیاسي خپرونې تاسیس او لږ تر لږه دوه سیاسي ګوندونه، یو کیڼ او بل ښي، جوړ شول.[13] په اماني دوره کې ددې سیاسي ګوندونو یو تن هم د دولت له خوا اعدام نشو.[14]

## ملت جوړونه که امت جوړونه:

په ۱۹۱۹ کال کې اماني دولت له شوروي اتحاد سره د

دوستۍ اړیکې ټینګ کړل. شوروي مشرانو افغان دولت ته د نړۍ د یوازیني خپلواك مسلمان دولت په سترګه کتل او هغه یې د ازادۍ په لوري د نړۍ د نورو مسلمانانو رهبرۍ ته هڅاوه.(١٥) افغان ټولواك غازي امان الله خان تر ١٩٢٢ کال پورې له پان اسلامیزم سره مرسته وکړه. هغه په جنوبي اسیا، هندوستان، کې د انګریزي ښکیلاك په وړاندې د "خلافت او هجرت" او په مرکزي اسیا کې د بلشویکي ضد "باسمچي" غورځنګونو سره مرسته کوله. هغه په دې ډول د هېواد دننه او بهر د اسلام د یوه قهرمان په توګه وپېژندل شو.(١۶)

تر ١٩٢١ کال پورې د اماني دورې بلشویکي او انګریزي ضد سیاستونو شوروي او برتانیه په اسلامي نړۍ کې ګوښه کړل.(١٧) او کابل د انګریزي او شوروي ښکیلاك په وړاندې د سیمې د ملي او اسلامي غورځنګونو د مشرۍ مرکز وګرځید.

خو دې پالیسیو که له یوې خوا د افغانستان د سیاسي خپلواکۍ د لاخوندي کولو لپاره حیاتي اهمیت درلود، نو له بلې خوا یې د افغان ملت جوړونې انرژي په "اسلامي امت جوړونه" هم لګوله.

## د اماني دورې د ملت جوړونې کورني امکانات:

له افغان ملي او مذهبي عقایدو سره برابر د غازي امان الله له خوا دننه په هېواد کې د دین، دولت، ملت او وطن د

شعار پورته کول[۱۸] له انګرېز نه د درېیمې جګړې د ګټلو په نتیجه کې د یوه غټ ملي امکان په توګه د "غازي" د لقب ګټل او بیا په ملي سیاست کې ددې لقب سیاسي ګټه، د اماني دورې په لومړي پړاو (۱۹۱۹_۱۹۲۴) کې د دولت او خلکو ترمنځ متقابل باور، له مرکز نه د اطرافو اطاعت، د خلکو له خوا د دولتي احکامو منل، دولت ته مالیه او اعانه ورکول، دې ټولو د اماني دورې د ملت جوړونې باالفعل کورني سیاسي او اقتصادي امکانات برابرول.

## کورني مخالفین: ملا او خان:

یو شمېر مذهبي او روحاني قوتونه څه د اماني دورې د ټرنیو مخالفینو له خوا، څه د خپل په شا تلونکي طبیعت له مخې او څه په ټولنه کې ددې قوتونو له سیاسي او کولتوري موقف سره د اماني دورې د مترقي پروګرامونو د ټکر له مخې ان د اماني دورې د لومړي پړاو (۱۹۲۳) راهیسې د اماني دولت په وړاندې تجهیز او تشویق شول. تر دې چې دې په شا تلونکو قوتونو په ۱۹۲۹ کال کې د سقاو د زوی اړ او دوړ اسلامي پاڅون وباله. ان لا نن هم د افغانستان ځینې بنسټپالي اسلامي تنظیمونه هغه اسلامي پاڅون ګڼي. ځینې څېړونکي د دې اړ او دوړ پړه په اماني دولت اچوي او د هغه یو علت د مرکزي اسیا له "باسمچي" غورځنګ سره د اماني دولت د مرستو پرېښودل ګڼي.[۱۹] فیوډال، ملا او روحاني په شاتلونکي قوتونه، چې ان د

اماني دورې د ۱۹۲۳ کال د مترقي اساسي قانون نه ناراضه شوي وو.(۲۰) په ۱۹۲۹ کال کې يې د سقاو د زوی ملي ضد اغتشاش ته اوږه ورکړه. په دولت کې د خان او سردار د نفوذ له منځه وړلو او په قضايي چارو کې د مذهبي او فقهي کارکوونکو د واك راکمولو دا دواړه مذهبي او فيوډالي قوتونه د اماني دورې د مترقي پروګرامونو په وړاندې ودرول.

## اقتصادي ستونزې:

اقتصادي ستونزو هم په خپل وار د اماني دورې د ټولنيز_اقتصادي بدلانه په لار کې تېرې واچولې. د ساري په توګه د هېواد په ختيز (پکتيا) کې په ۱۹۲۳ کال کې د دوو ملايانو په مشرۍ د لومړي ښکاره دولتي ضد اړ او دوړ تکول دولت ته د څه ناڅه دوه کلني دولتي بودجې په بيه تمام شو.(۲۱)

## ماليه:

په عمومي توګه د ماليې زياتولو او په يو شمېر سيمو، د ساري په توګه په باميان، کوهدامان، کوهستانونو او هرات کې د باچا په نه موجوديت (ډسمبر ۱۹۲۷_جولای ۱۹۲۸) کې له بې وسه بزګرو او مالدارو نه د پاتې دولتي ماليې راټولولو هم د دولت د مخالفينو کتار پياوړی کړ:

ملي عايد له ۸۰ ميليونو افغانيو نه ۱۸۰ ميليونو

افغانیو ته جیګ کړای شو. ددې عاید په سلو کې څه ناڅه ۶۰ د ځمکو مالیات او د حیواناتو ټکس و.(۲۲)

<u>اداري فساد، بډو او دولتي ډلبازیو</u>: د ساري په توګه د باچا او صدراعظم ترمنځ تاو تریخوالي، له یوې خوا او د شته ستونزمنې سیاسي وضعې نه د یو شمېر دولتي مامورینو غلطې استفادې، اداري فساد او بډو (۲۳) په خپل وار د اماني دورې د ټولنیز-اقتصادي بدلانه او دولتي حاکمیت لار ونیوه.

**<u>بهرني مخالفین</u>:**

پیاوړي بهرني مخالفین د اماني دورې په وړاندې د کورنیو مخالفینو شاته ولاړ وو:

- افغانستان ته د اسلامي خلافت د مرکز د انتقال نظر،
- د شمال او جنوب، شوروي او انګرېزي ښکېلاک،
- د انګرېزي او شوروي ښکېلاک په وړاندې د اماني دورې د مهاجرت د خلاصو دروازو سیاست،
- او د مرکزي او جنوبي اسیا له مهاجرو سره ډول ډول مرستو،

دې ټولو او نورو د اماني دورې ملت جوړونه په ښو ووهله.

**<u>لنډیز</u>:**

- ملت جوړونه په اماني دوره کې په یوه پیاوړي ملي

هوډ پیل شوه، خو ددې دورې د لومړي پړاو لنډ تنګ وخت او د دویم پړاو اړ او دوړ د ملت جوړونې د ستراتېژۍ د تخنیکي او تکتیکي ستونزو او یو له بله د ملت جوړونې د کوچنیو پړاوونو بېلول ژوره څېړنه غواړي.)

ـ اماني دوره په واقعیت کې یو افغاني رنسانس او د بنسټیز ټولنیز ـ اقتصادي بدلانه یوه بې سارې دوره وه، خو ددې دورې د "افغان ملت جوړونې" په وړاندې:

ـ په افغانستان کې د پرمختګ له دوو دایمي عناصرو، مذهبي محافظه کارۍ او کولتوري حساسیت، سره د اماني دورې ټکر له یوې،

ـ او د مذهبي محافظه کارۍ، کولتوري حساسیت او بهرني ښکېلاك د پیاوړي مثلث جوړېدل له بلې خوا،

ـ د افغان "ملت جوړونې" د یوې ښکاره او رڼې ستراتېژۍ نشتوالي،

ـ د سیاسي انکشاف د بېلو بېلو پړاوونو یو واري او چټك پیل،

ـ په افغان بټۍ کې د یوه پیاوړي Integration نشتوالي،

ـ او د یوه "پاخه" ملي هویت بحران،

ـ د ټولنیز ـ اقتصادي نظام د بدلولو حساسیتونو،

ـ د یوه ملي سیاسي ضرورت له مخې د اماني دورې د مهاجرت د خلاصو دروازو سیاست،

ـ د شمال او جنوب پیاوړو ښکېلاکګرو او د افغانستان حساسي سیاسي جغرافیې،

هر یوه په خپل خپل ځای او بیا دې ټولو په ګډه د امانی دورې د ملي دولت، د یوې پرمختللې ملي ټولنې او ملت جوړونې سره بریالۍ دښمني وکړه.

## اخځونه:

۱، ۲، ۳ د ډاکټر انورالحق احدي مقاله (ملي ژبه د ملي ټولنې بنسټیزه ستن)، د پښتو ژبې د ودې اړتیا او لارې چارې (د بېلوبېلو لیکوالو د لیکنو ټولګه)، ۹_۱۴ مخونه، د پښتني فرهنګ د ودې او پراختیا ټولنه، جرمني، ۱۹۹۹ کال.

4_ Wak, Mohammad Enam, "Afghanistan:Afghan nationalism and Islamic fundamentalism",p.6,Danish Book Center, Peshawar, Pakistan, 1999.

5_ Shahrani, M.N (1986) State Building and Social Fragmentation in Afghanistan:in A. Banuazizi and M.Weiner (eds), The state, Religion and Ethnic Politics:Afghanistan, Iran and Pakistan, Syracuse University Press, p.47.

۶_ میر غلام محمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، ۷۹۴، ۷۹۶ مخونه، د چاپ کال ۱۳۶۶، چاپوونکی مرکز نشر انقلاب با همکاری جمهوری، چاپ سوم، چاپ اول جمهوری.

7- Wak foundation for Afghanistan, The Ethnic Composition of Afghanistan,pp.10-19-27, KOR, Peshawar, Pakistan,1999.

8_ An interview with prof.Fredrik Barth, Afghanistan Nytt, p.12, A.nytt 1/2002, Oslo,9 Ibid,p12.

۱۰_میر غلام محمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، ۷۹۴ مخ.

11_Shahrani, M.N (1986), State Building and Social Fragmentation in Afghanistan: in A Banuazizi and M.Weiner (eds), The state, Religion and Ethinic politics:Afghanistan, Iran and Pakistan. Syracuse University, p.46.

۱۲_ میر غلام محمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، ۷۹۲، ۷۹۳ مخونه.

۱۳_پورتنی اخځ، ۷۹۷ او ۷۹۸ مخونه.

۱۴_ پورتنی اخځ، ۷۹۸ مخ.

15,16,17. Shahrani, M.n. (1986), State Building and Social Fragmentation in Afghanistan: in A Banuazizi and M.Weiner (eds), The state, Religion and Ethnic Politics: Afghanistan, Iran and Pakistan. Syracuse University press. p.46.

17, ibid, p.45.

19_ibid,p.46.

20_ ibid, p.47.

21_ibid,p.48.

۲۲_میر غلام محمد غبار، پورتنی اخځ، ۷۹۲مخ.

۲۳_پورتنی اخځ، ۸۰۴ او ۸۲۳ مخونه.

***عبدالباري جهاني***

# د اعلیحضرت امان الله خان د اصلاحاتو د ناکامېدلو علتونه

په افغانستان کې چې هر وخت د ترقۍ، تغییر او تنویر کلمات یادېږي، نو د اعلیحضرت امان الله خان نوم به سم ورسره ملګری وي. د افغانستان په تاریخ کې به هېڅ مشر په دغه اندازه له خپل اولس او د هغه له ترقۍ سره دونه ژوره، صمیمانه او صادقانه لېونۍ مینه نه وي ښودلې. د افغان اولس د نېکمرغه کولو، عصري کولو او پرمخ بیولو

سره د امان الله خان مینه د یوه پاچا مینه نه، بلکې د یوه شاعر، هنرمند او نقاش مینه وه، چې زیاتره په احساس افاده کېدله، خو لکه څرنګه چې بیده اولسونه د خپلو هنرمندانو او شاعرانو د احساس په ژبه ډېر ناوخته پوهېږي، دغه راز د خپل دې وطن پالونکي پاچا په نیکو احساساتو او سپېڅلې مینې هم هغه وخت وپوهېدل، چې هغه وخت یې د ارمان او افسوس اوښکې پسې تویولې، چې هغه د دوی او د خپل ګران هېواد له تودې غېږې څخه، چې ده د جنون تر سرحده مینه ورسره درلوده، ډېر لرې تللی و او نور یې د بېرته راستنېدلو امکان موجود نه و. هغه په ژوند د خپل اولس لپاره مړ شوی و او هغه ژبې، چې دده په یاد وګړېدلې، وار په وار غوځې شوې.

امیر امان الله خان، چې په نړۍ کې د وخت د تر ټولو ستر استعماري طاقت په مقابل کې د سر پورته کولو او د جنګ د اعلانولو په افتخار خپل اولس په جوش او خروش استقبال کړی او د غازي لقب یې ورکړی و، خپل هغه اولس صرف د ترقۍ، ازادۍ او پرمختګ سره د لېونۍ مینې په ګناه د کافر او لاهي په نوم له ملکه وشاړه، خو د هغه پیل کړي اصلاحات ناکام نه، بلکې د ناپوهانو او داړه مارانو د اغتشاش له امله د لنډې مودې لپاره بند ش‍ول او ددې اغتشاش سره ګواکې د اماني نهضت کمبله ټوله شوه، خو افغان اولس د شلمې پېړۍ په وروستیو لسیزو کې د دوهم

ځـل داخلـي جنګونـو تـر پيـل کېـدلو پـورې، د ترقـۍ او پرمختګ پر لور، کله بيده او کله ويښ ګامونه پورته کړل.

افغانستان لـه برتـانوي استعمار څخـه د استقلال د ګټـلو پـه وخـت کـې داسې هېـواد و، چې سـرې يې لـه خپلـو تقريبـاً ټولـو ګاونـډيو هېوادونـو څخـه وروسـته پـاتې بلـلای شـي. سواد د نشـت پـه انـدازه و او خلکـو بـه حتـى خپـل خصوصـي او کـورني ليکونـه پـه مـلا ليکـل او لوسـتل او د ژونـد د تقريبـاً ټولـو معلومـاتو او اطلاعـاتو منبـع يـې ملايـان او د جومـاتونو انګړونـه وو. راډيـو وجـود نـه درلـود او لـه يـوه ښـار څخـه تـر بـل ښـار پـورې د سـفر کولـو لپـاره کلـه شپې او کلـه هفتې پـه کـار وې.

اعليحضـرت امـان الله خـان پـه داسـې يـوه وروسـته پـاتې عنعنـوي او پـه دننـه کـې پرمتخاصـمو فرقـو او قومونـو وېشـل شـوې ټولنـه کـې اصلاحاتو تـه مـلا وتړلـه، چې پـه هغې کـې هـر اصـلاحي پروګـرام د يـوه انقـلاب راوسـتلو معنـى درلـوده. ددې اصـلاحاتو پـه پيـل کېـدلو، تعقيبېـدلو او ناکامېـدلو کـې د اعليحضـرت امـان الله خـان شخصـيت او اغېـزه تـر بـل هرڅـه زيـات مطـرح دي. دا ځکـه چې افغانسـتان شـاهي نظـام درلـود او شـاهي نظامونـه کـه هرڅـو نـه ډيموکراتيـك هـم وای بيـا هـم پاچـا تـر ټولـو قـواوو برتر او تـر ټولـو يـې برخـه او مسـوليت زيـات و. پـه عمـومي صـورت ويـلای شـو، چـې اعليحضـرت امـان الله خـان پـر وطـن او ترقـۍ مـين شـهزاده و، خـو پـه يـوه

وروسته پاتې تولنه کې د دونه ژورو او حتی آنی اصلاحاتو د راوستلو داېره یوازې وطن پالنه او مینه کافي نه وه. امیر امان الله خان بیا هم یو شهزاده و. هغه د ژوند ترخې او خوږې نه وې لیدلې. هغه ته قدرت په میراث پاتې شوی او د اصلاحاتو د پروګرام له جدیت څخه یې ښکاري، چې یې د خپل وطن په حالاتو ډېر خبر نه و.

یو له هغو کسانو څخه، چې د استقلال په جګړه کې یې فعاله برخه درلوده او هم یې وروسته د پوځ په تنظیمولو او روزلو کې فعاله ونډه اخیستلای شوای هغه سپه سالار محمد نادر خان و، چې اعلیحضرت امان الله خان یې پر هوښیارو مشورو غوږ ونه نیوی او ډېر ژر د افغانستان له فعالې سیاسي صحنې څخه ګوښه کېدلو ته مجبور شو. نادر خان په کال ۱۹۲۴ کې له کابل څخه د وتلو په وخت کې پېش بیني وکړه، چې د امان الله خان چټك اصلاحات به د افغانستان د بربادۍ او دده د سقوط سبب شي. (تیتلر، ص ۲۲۵).

د امان الله خان د بربادۍ یو لوی علت دا و، چې هغه د خوست له پاڅون څخه هېڅ عبرت وانه خیست. په هغه پاڅون کې، چې د منګلو او ځاځیو لویو قبایلو برخه پکې درلوده او لا یې د پاڅون په جریان کې د پخواني پاچا محمد یعقوب خان زوی عبدالکریم د پاچا په حیث تاکلی و، د خلکو اصلي او یا لږ تر لږه څرګند شعار دا و، چې د امیر

امان الله خان اصلاحات د شریعت مخالف دی او هغه کافر دی او باید چې له قدرته لیرې شي.

د اعلیحضرت امان الله خان پوځ له هغه پاڅون سره، چې بالاخره یې د لوګر او غزني ځینې سیمې هم ورسره واخیستلې، د مقاومت توان نه درلود او امان الله خان بالاخره مجبور شو، چې ملایانو ته د ځینو امتیازاتو په ورکولو سره د منګلو او ځاځیو په مقابل کې د نورو قبایلو مرسته ترلاسه کړي او د خوست د پاڅون چاره په وکړي.(رفورم، ص۱۲۳)

اعلیحضرت امان الله خان باید پوه شوی وای، چې نه دده اصلاحات لکه څرنګه چې ده یې فکر کاوه، خلکو او په تېره بیا د هغوی مذهبي مشرانو ملایانو ته د منلو وړ دي او نه دی ددغه راز اصلاحاتو په مقابل کې د راپورته کېدونکو احتمالي عکس العملونو د ځپلو لپاره قوي پوځ او قوه لري. دغه راز نه د افغانستان ختیځ سرحدات، چې هاخوا ته یې په لسګونو فراري شهزاده ګان او د تخت و تاج مدعیان پراته دي، چنداني مصون دي. دا شهزاده ګان او د تخت او تاج مدعیان دده د نیکه امیر عبدالرحمن خان په وخت کې له افغانستان څخه فرار شوي وو. مګر امیر عبدالرحمن خان د هغوی د کوښښونو او د افغانستان د بې ثباته کولو په منظور د هغوی د نقشو د شنډولو دپاره هر وخت پر قوي پوځ، غښتلو او وفادارو جنرالانو او مطلقې مرکزي اداري

باندې تکيه کوله او هم يې د سرحد پورې خوا ته له برتانوي هند سره داسې دوستانه اړيکې ساتلي وو، چې هغه دولت هر وخت د افغانستان په چارو کې له منفي مداخلې څخه ځان ژغوره او خپل خير يې د امير عبدالرحمن خان په دوستي، د هغه تر سلطې لاندې په قوي او يو موټي افغانستان کې ليده. د امير امان الله خان پلار امير حبيب الله خان ځينې دغه شهزاده ګان پخلا کړل او د افغانستان د اداري سستم او پوځ په بهترولو او اصلاح کولو کې يې کار ورڅخه واخيست. هغه د هر خطر په مقابل کې خپله هوښياري وساتله، د پوځ پر قوت يې تکيه وکړه او د خپل غښتلي ختيځ ګاونډي برتانوي هند دوستي يې له لاسه ورنه کړه.

خو اعليحضرت امان الله خان له انقلابي اصلاحاتو سره د ليونۍ مينې له امله ځان په لوی لاس په هره جبهه کې له خطر او مقابلې سره مخامخ کړ. هغه بايد استقلال له جنګ څخه وروسته، چې که يې په اينده کې د انګريزانو دښمني په بيه وانه خيستله، نو دوستي خو يې لږ تر لږه له لاسه ورکړه، نو په دې صورت کې بايد د مرکزي قدرت او منظم پوځ قوي کولو او بهترولو ته متوجه شوي وای او ځان يې له دغه درکه د راپيدا کېدونکو احتمالي خطرونو سره مقابلې ته چمتو کړی وای.

د اعليحضرت امان الله خان نيکه، امير عبدالرحمن

خان، چې تر امان الله خان په څو چنده کمو وسایلو او تقریباً تش لاس قدرت ته ورسېد، د خپل قدرت په زمانه کې له پیرانو او ملایانو څخه امتیازات او هغه عایدات واخیستل، چې هغوی د اوقافو له لارې ترلاسه کول او د ملا مشک عالم، ملا نجم الدین اخوند، چې د هډې په ملا صاحب مشهور دی، کندهاري عبدالرحیم اخوندزاده او ډېرو لویو بانفوذو او مقتدرو پیرانو او ملایانو سره مخامخ شو، مګر هغه نه یوازې پر زور او پوځ باندې کلکه تکیه کړې وه، بلکې ځان یې د ملایانو او پیرانو ترڅنګ له نورو اجتماعي او عنعنوي تضادونو سره مخامخ نه کړ، خو اعلیحضرت امان الله خان له یوې خوا خپل پوځي قدرت دونګه کمزوری کړ، چې د خوست د پاڅون د ځپلو لپاره یې نورو قبایلو ته د مرستې خواست وکړ او له بلې خوا یې په داسې بې تعلیمه ټولنه کې، چې د علم او سواد رڼا د نشت په اندازه وه، پر تقریباً ټولو کلتوري او عنعنوي بنسټونو باندې په یوه ځل حمله پیل کړه. هغه کولای شول چې خپل اصلاحات په کراره کراره عملي کړي او د افغانستان وروستیو حوادثو وښودله، چې د اعلیحضرت امان الله خان د اصلاحاتو عملي کېدل نه یوازې غیر ممکن نه وو، بلکې د ټولنې تقریباً ټولو طبقاتو یې په خلاصه غېږه هرکلی وکړ. د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه د پاچهۍ په وروستیو کلونو کې یعنې د اماني نهضت له ناکامېدلو څخه څه کم

نیمه پیړۍ وروسته په افغانستان کې داسې سیمه نه وه، چې د نجونو ښوونځي یې نه درلودل او د کندهار په څېر محافظه کار او مذهبي ولایت څخه نجونې اروپايي ملکونو او شوروي اتحاد ته د عالي تحصیلاتو لپاره ولاړې.

د اعلیحضرت امان الله خان د اصلاحاتو د ناکامېدلو ترټولو عمده علت دا و، چې هغه کارونه چې ده باید تر ټولو وروسته کړي وای، هغه یې تر ټولو دمخه وکړه او هغه کارونه، چې ده باید تر ټولو لومړی کړي وای، چې هغه د پوځ قوي کول او عصري کوي او د ټولنې باسواده کول، ښاري کول او صنعتي کول وو او باید چې خپله ټوله انرژي یې ورته متوجه کړې وای، یا یې ونه کړه او یا یې دونه لږ توجه ورته وکړه، چې لږ تر لږه د دونه انقلابي اصلاحاتو لپاره کافي نه وو.

د افغانستان په تاریخ کې ښايي ډېرو لږو مشرانو د اعلیحضرت امان الله خان په څېر د ټولنې په ټولو طبقاتو کې محبوبیت درلودلی وي. یوازې د غازي نوم کافي و، چې د هغه په مقابل کې هر ډول ښورښ شرعاً ناروا کړي او ټول مخالفین یې باغیان وبلل شي. ښايي دغه محبوبیت او دده په نزد د اصلاحاتو حقانیت، هغه دونه مغرور کړی و، چې د محمود طرزي په څېر هوښیار او وطن پالونکي او د نادر شاه په څېر تکړه او محتاط ملګري یې خوابدي کړل او د محمد ولي خان، محمود سامي او علي احمد خان په شان

احساساتي، غوړه مالو او پر خپلو شخصي ګټو مین کسان یې پرځان راګرځول، چې یې اعلیحضرت امان الله خان د ټولنې له ټولو واقعیتونو څخه بې خبره وساته او هم یې د هغه د قدرت او ژوند په حساسه مرحله کې ځانونه ورڅخه ګوښه کتل او حتی له دښمن سره یې همکاري وکړه. (رفورم، ص ۱۲۳_۱۲۱)

محمود طرزي، چې د امیر امان الله خان له ناکارو او غوړه مالو درباریانو سره یې چنداني ګوزاره نه شوای کولای، له کابل څخه د علاج لپاره سویس ته ولاړ. هغه که څه هم د اوږدې مودې لپاره په اروپا کې پاتې شو، خو له اروپا څخه یې په افغانستان کې هغه څه لیدلای شوای، چې امان الله خان له کابل څخه له ارګ څخه نه شوای لیدلای او یا یې چا د لیدلو مجال نه ورکاوه. محمود طرزي د کال ۱۹۲۷ د ډسامبر له میاشتې څخه مخکې، چې امیر امان الله خان د اروپا او اسیا د اوږدې دورې د پیل کولو لپاره تیاری کاوه، ځان له سویس څخه کابل ته ورساوه او اعلیحضرت امان الله خان ته یې وویل، چې له افغانستان څخه په هیڅ توګه او د هیڅ مقصد لپاره د خارج په دونه اوږده سفر روان نه شي، ځکه چې د افغانستان وضع د هغه د دونه اوږده غیابت لپاره مساعده نه ده. (دوېرې ۴۵۰) خو امیر امان الله خان د هغه مشوره ونه منله او د هغه کال د ډسامبر په میاشت کې د اروپا او آسیا په اوه میاشتنۍ دوره

روان شو. اعلیحضرت امان الله خان پر خپله خبره ټینګ ولاړ و. نه یوازې یې د اروپا د دونه اوږده سفر عزم فسخ نه کړ، بلکې محمد ولي خان یې چې مخکې یې اروپايي هېوادونو او امریکا ته د سیار سفیر په حیث استولی و، د سلطنت د مقام د کفیل په حیث وټاکه او سفر یې پیل کړ.(ریفورم ۲۰۱)

اعلیحضرت امان الله خان نه یوازې د هېواد په ډېرو خطرناکو حالاتو کې خارج ته اوږد سفر پیل کړ، بلکې قدرت یې داسې سړي ته چې اهلیت یې نه درلود او لا د خطر په وخت کې د دښمن جبهې ته هم ورواوښت، پرېښود او په دې کې هیڅ شك نشته چې په خپل دې انتخاب او مقررۍ سره به یې د کابل او شاوخوا سرداران ډېر سخت خفه کړي وي.

اعلیحضرت امان الله خان نه یوازې په کابل کې د خپل هوښیار دوست محمود طرزي په مشوره عمل ونه کړ او د اروپا سفر یې پیل کړ، په اروپا کې یې هم د سپه سالار محمد نادر خان پر مشورو غوږ ونه نیوی، بلکې هیېواد ته له ستنېدلو سره یې د خپلو اصلاحاتو عملي کولو ته نور زور هم ورکړ. د افغانستان هغه ترخه واقعیتونه چې له امان الله خان څخه خپلو غوړه مالو درباریانو پټ ساتلي وو، په اروپا کې سپه سالار محمد نادر خان په خبر وو. هغه او دوو ورونو یې (سردار شاه ولي خان او محمد هاشم خان) ځانونه

د ایټالیې د ناپل ښار ته ورورسول او هلته یې ورته وویل، چې د افغانستان په اوسنیو اجتماعي، سیاسي او اقتصادي شرایطو کې د چټکو او ژورو اصلاحاتو لپاره زمینه برابره نه ده، خو کله چې یې امیر امان الله خان پر مشورو غوږ ونه نیوه، نو سپه سالار هم بېرته د فرانسې جنوب ته ستون شو او د امان الله خان په نورو سفرونو کې یې له برخې اخیستلو څخه ډډه وکړه او کله چې امیر امان الله خان افغانستان ته د بېرته ستنېدلو امر ورته وکړ، سپه سالار یې پر امر باندې غوږ ونه کانه واچول. (سنځل نوید، ۱۴۹_۱۴۸)

لکه څرنګه، چې سپه سالار د اعلیحضرت امان الله خان پر امر غوږونه کانه واچول، دغه راز امان اله خان هم د هغه پر دوستانه او معقولو مشورو غوږونه کانه واچول او افغانستان ته له ستنېدلو سره سم یې خپلو اصلاحاتو ته لس چنده زور ورکړ.

سړی نه پوهېږي، چې امان الله خان به د خپلو اصلاحاتو د عملي کېدلو لپاره د چا پر زور حساب کړی و، ځکه چې د هغه اداري، پوځي، اقتصادي او اجتماعي اصلاحاتو له هغه څخه د لوړو او کښتو رتبو مامورین، پوځي افسران، خانان او ملکان او د ټولنې پر عنعناتو مین خلک ټول خوابدي کړي وو. (ریفورم ص ۱۲۰) د هغه پر ضد په جوماتونو کې تبلیغات روان وو او لویو ملایانو او پیرانو پر هغه باندې د کفر فتوا لګوله او ده بیا هم خپل اصلاحات په

داسې توګه عملي کول لکه چې اصلاً څه پېښه شوې نه وي.

په دې کې شك نشته، چې ملايان په تېره بيا پيران، چې هر وخت يې د انګليسانو، سيکهانو او نورو غير اسلامي قوتونو او ملکونو په مقابل جګړه کې تر هر چا او منظمو پوځونو او قواو زياته او فعاله ونډه اخيستې وه. د افغانستان د استقلال د جنګ په وخت کې د اعليحضرت امان الله خان تر ټولو ټينګ ملګري وو. مګر امان الله خان ته بايد دا خبره څرګنده واى، چې پر ملايانو او پيرانو باندې يوازې د جهاد په وخت کې حساب کېدلاى شي او کله چې د افغانستان په څېر وروسته پاتې، بېسواده او پر خپلو عنعناتو باندې مينې ټولنې کې د اجتماعي اصلاحاتو او هغه هم د امان الله خان په څېر انقلابي اصلاحاتو، حرکت پيل کېږي، نو ملايان او پيران تر ټولو د قوي او خطرناك دښمن په حيث د بې سوادو او بې خبرو خلکو د رهبرۍ بيرغ اخلي او په هغه صورت کې يوازې منظم او قوي پوځي قوتونه او مرکزي غښتلي حکومت د هغوی په مقابل کې مقاومت کولاى شي.

په داسې حال کې چې اعليحضرت امان الله خان خپل پوځ پخپله کمزوری کړي او د مرکزي حکومت د پرو سترو مقاماتو يې د ناراضي او فعالو سياسي پيرانو، د شور بازار له حضرتانو، ګل آغا او شېرآغا سره اړيکې درلودل او د امان الله خان پر ضد دسيسو کې يې برخه ورسره

اخیستله. (فایر ص ۳۳۰)

سربېره پر دې چې د امان الله خان د اجتماعي اصلاحاتو په مقابل کې پراخ مذهبي عکس العمل موجود او تقريباً په هر جومات کې پنځه وخته په میلیونونو مسلمانانو د هغه په مقابل کې د ملايانو تبليغات اورېدل. برسېره پردې، چې په اروپا کې د هغه د ملکې ثریا په لوڅ مخ او لوڅو مړوندونو کې اخیستل شوي عکسونه د افغانستان په عنعنوي او بې سواده ټولنه کې لاس پر لاس کېدل او ټولو خلکو خپل پاچا تکفیراوه يا يې لږ تر لږه د تکفیر فتوا منله او برسېره پردې چې ګل اغا مجددي له څلورو سوو مذهبي عالمانو او مشهورو ملايانو څخه د امير د کفر فتوا ترلاسه کړې او د افغانستان په اطرافو کې يې خپروله. (فایر ص ۳۹۰) امير امان الله خان د خپلو بې وختو اصلاحاتو د راوستلو په برخه کې له خپل جدیت څخه لاس وانه خیست او په دغه وخت کې يې هم پېغلې نجونې د تحصيل لپاره ترکيې ته واستولې او په دې توګه يې لګېدلی اور نور هم تازه کړ.

د کال ۱۹۲۸ د سپتامبر د میاشتې له وروستيو شپو ورځو څخه د کابل په جنوب، شمال او ختيځ کې د ښورښونو اورونه ولګېدل. په ختيځ کې شينوارو او خوګیانیو حکومتي پوستې او قشلې چور کړې او د برتانيې قونسلګري يې چور او وسوځوله. که څه هم چې امیر امان الله خان ددغه ښورښ د ځپلو لپاره هېڅ پوځي قوه نه

درلوده او یوازې یې له یاغیانو سره په مذاکراتو اکتفا کوله، بیا هم یاغیانو د ډسامبر د میاشتې په لومړیو ورځو کې د روغې جوړې شرایط ورته راواستول او له امیر څخه یې وغوښتل، چې خپل اجتماعي اصلاحات منسوخ کړي او د دوی نجونې بېرته له خارج څخه ورته راوغواړي او په عوض کې به هغوی ټولې هغه وسلې او مهمات ورتسلیم کړي، چې له حکومتي قشلو څخه یې ترلاسه کړي دي.(ادمک ص ۱۴۱)، خو امیر امان الله خان حتی له دغه مساعد فرصت څخه هم پر خپل وخت ګټه وانه خیستله او ایله د جنورۍ پر پنځمه یې د خپلو ځینو اصلاحاتو د منسوخولو وعده وکړه، خو دا وخت د شورشونو لمبو دونه زور اخیستی و، چې هغه لس ورځې وروسته د سردار عنایت الله خان په ګټه استعفې کولو ته مجبور شو.

د امیر امان الله خان یا د امیر امان الله خان د اصلاحاتو د تحریک، د سقوط عوامل دونه پراخ بحث دی، چې په یوه مقاله کې یې ځایول تقریباً غیر ممکن کار دی، خو په لنډ ډول ویلای شم، چې د هغه د سقوط اصلي علت، یوازې په یوه وروسته پاتې او بې تعلیمه ټولنه کې د بې وخته اجتماعي او کلتوري اصلاحاتو طرح کول نه، بلکې ددغو اصلاحاتو د عملي کولو لپاره د لازمي وسیلې نه درلودل او د هغو په مقابل کې راپارېدونکو عکس العملونو ته په بې اهمیته نظر کتل وو. دا وسیله قوي مرکزي پوځ او اداره وه، چې هر وخت یې پایې سستې شوې دي، په افغانستان کې یې د کوچنیو او لویو شورشونو د جوړېدلو لپاره زمینه

برابره کړې ده.

وروستيو پېښو او اصلاحاتو او د نادر شاه، ظاهر شاه او داود خان کلونو وښودل، چې په افغانستان کې د پوځ او حکومت په زور تقريباً هر ډول اصلاحات ممکن دي او چې خلك لږ و ډېر ورسره بلد شوي دي، هرکلی يې هم کړی دی.


***BIBLOGRAPHY:***

**1_ Poulada, Leon.Reform and Rebellion in Afghanistan. 1919_1929**

**2_Stewart, Rhea Talley. Fine in Afghanistan.**

**3_Ademec, Ludwig W.Afghanistan Foreign Affairs to the Mid Twentieth Centrury.**

**4_Wild, Ronal.Amanullah Ex_Amir of Afghanistan.**

**5_Tytler, W.K Freser. Afghanistan a study of Political Develoments.**

**6_Navid, Senzil K.Religious Response to Social Changes in Afghnaistan 1919_1929**

**7_Dupree, Louis. Afghanistan.**

محمد اکبر کرگر

# غازي امان الله خان او مدرنیزم

## (د عصري ښوونې او روزنې پیلامه)

(ای ملت معظم افغانستان! من هنگام شهادت پدر وکالت سلطنت را در کابل داشتم و اکنون به اصالت ان بار سنگین امانت را متوکلاً و معتصما به عهده گرفتم. وقتیکه ملت بزرگ من تاج شاهی را بر سر من نهاد، من عهد بستم که بایستی دولت افغانستان مانند سایر قدرتهای مستقل جهان، در داخل

*کشور ازاد و مستقل باشد، ملت افغانستان در داخل کشور ازادی کامل داشته و از هر گونه تجاوز و ظلمی محفوظ و مردم فقط باید مطیع قانون باشند و بس. کار اجباری و بیگار در تمام رشته ها ممنوع و ملغی است. حکومت ما در افغانستان اصلاحاتی خواهد نمود که ملت و مملکت ما بتواند در بین ملل متمدن جهان جای مناسب مقام خود را حاصل نماید. من در اجراات امور کشور مشورت را بحکم (شاور هم فی الامر رهبر) قرار خواهم داد. ای ملت عزیز وای قوم باتمیز در حفظ دین و دولت و ملت خود بیدار و در نگهبانی وطن خویش هوشیار باشید، من از خداوند برای شما و اهل اسلام و کلیه بنی نوع انسان خیر و سعادت میخواهم.) (۱ ــــ ۷۵۲)*

* * *

پورتنی پراګراف چې د غازي امان الله خان د یوي وینا یوه برخه ده، په واقعیت کې د هغه د اهدافو او پروګرامونو لنډه مانیفیستو ده، یا د مدرنیزم په لور د هېواد د سمولو تګلاره ده. نوموړی ددې وینا وروسته د یو لړ سترو کارونو په لړ کې غوښتل، چې د هېواد په اقتصادي او فرهنګي او سیاسي ځېره کې یو کیفي بدلون راولي. په همدې هیله مې

تکل وکړ، چې د امان الله خان او مدرنیزم په باب یو څه ولیکم، خو دمخه تر دې، چې د امانیه دورې د مدرنیزم بحث ته په تېره د ښوونې او روزنې په برخه کې داخل شو، ښه به وي چې د هغه مهال په مقیاس د مدرنیزم شاخصونه جوت کړو.

(مدرنیزم یعنې د لویدیځې تکنالوجۍ رااخیستنه یا په بله مانا د انساني، فزیکي او طبیعي قوتونو سم کارول او په عقلاني توګه د انسان تر کنترول لاندې راوستل او په معقوله توګه ترې ګټه اخیستل دي.)

سره له دې، چې د مدرنیزم په باب بېلابېل تعریفونه وړاندې شوي دي، خو دا یوه د بحث او جدل وړ خبره هم ده. په مجموع کې هغه ټولې پروسې چې د هېواد د اقتصاد د صنعتي کېدو او تواعمیت په لور پرمخ ځي، د مخابراتو، مواصلاتو او سوداګرۍ وده او په ټولنیز او سیاسي سطحه کې د ټولنیز تحرک (سوسیال موبیلیتي) رامنځ ته کېدل، د روغتیایي او صحي خدماتو انکشاف، د لوړ پوړو او باقدرته ډلو او د ټیټو پوړیو ترمنځ د اړیکو ایجادېدل، د کورنیو خیلونو او قبیلوي اړیکو تدریجي کمزوري کېدل او په یوه ملي ټولنه کې مستحیل کېدلو څخه عبارت دی. په لویه پیمانه د دودیزو ارزښتونو وده او د غیر ضروري ارزښتونو له منځه تلل. د ضروري عقایدو وده او ددې عقیدې رامنځ ته کېدل، چې یوازې د بدلون رامنځ ته

کېږدل نه، بلکې ډېر ضروري او حياتيي او په متوازنه توګه د بدلون غوښتنه او اړتيا ده. مودرنېزيشن له سيکولريزم، علمي او تخنيکي زده کړو سره او همدارنګه د جمعي وسايلو له پرمختګ سره نه جلا کېدونکې رابطه لري. همدارنګه د زړو او نويو اجتماعي ډلو د خبرتيا او اګاهۍ لوړتيا د هغوی د علاقمندۍ او غوښتنو سره ملګرې دی.

مودرنايزيشن د سياسي واك د وېش په برخه کې ټولو پوړيو ته د ګډون څرګندوی دی. ددې ځانګړنه دا ده، چې ټولو ټولنيزو پوړيو ته د ټولنيزې عاجلې ودې، په ټولو حکومتي موسساتو، سوداګرۍ او صنعت کې ونډه ولري. زوړ نسل د زېږون او يا مړينې په پروسه کې په نوي ايليت نسل کې چې د ښوونې او روزنې په لاس ته راوړنو تکيه کوي، ځای نيسي. ښاري، مدني او صنعتي ژوند رونق پيدا کوي. سيکولريزم ايجادېږي او د ملي سياسي يووالي په لور تمايل زياتېږي. نوې نړيوالې اړيکې او روابط يې د تېرو ځای نيسي. په ايډيالوژيك لحاظ هم دا تمايل قوت پيدا کوي، چې يو نظام بايد په خلکو کې محبوبيت ولري. د يوه نظام د مشروعيت مساله د هغه واك او صلاحيت د خلکو د رضا او خوښۍ پورې اړه لري، اهميت پيدا کوي، په دې ډول د ملت، مليت پالنې (نشناليزم) مفکوره رامنځ ته کېږي، مدني او ښاري ژوند، برابري او د قانون په وړاندې يو شان ته وال د پوهېدو وړ ګرځي.

په افغانستان کې د لومړیو مدرنستو روښانفکرانو او اصلاح طلبانو د مبارزو په اړوند زیات څه نه دي ویل شوي، سبب دا و چې دغه هېواد په نولسمه پېړۍ کې یو ګوښی او منزوی هېواد و. د لویدیځې نړۍ زیاتره څېړونکیو ورته لږه پاملرنه کړې او په دې اساس له نظره لیرې پاتې شوی دی.

د لومړیو مدرنیستانو د فکر او اندېښې په باب د هګل دا خبره صدق کوي، چې د تابعیت د ۱۷۸۹ کال د بشري حقونو د اعلامیې په باب یې کړې وه:انسان د لومړي ځل لپاره (د فکر په بنیاد واقعیت جوړ کړ). (۲_۲۹ مخ)

سره له دې، چې ځینې څېړونکي په افغانستان کې نوی مدرني حرکت په امانیه دور پورې منحصر نه بولي، بلکې په دې باور دي، چې دغه پروسه له هغه مخکې پیل شوې وه، خو واقعیت دا دی چې په اماني دور کې دغې مفکورې یعنې مدرنیزم داسې د حقیقت جامه واغوسته، چې په لږه موده کې یې د هېواد په څېره کې کیفي بدلون راوست. په بل عبارت دا به مبالغه نه وي، چې که ووایو هر هغه څه چې نن په افغانستان کې د لویدیځ مدنیت په اړوند وینو، هغه په افغانستان کې په اماني دور کې راڅرګند شوی دی.

د مدرنیزم لومړنی او اساسي شاخص، چې نور هغه په ځان پسې راکاږي، ښوونه او روزنه ده. موږ په دې بحث کې په اساسي توګه په ښوونه او روزنه تمرکز کوو او نور شاخصونه او عناصر یې په ضمني توګه یادوو.

## ۱ـ ښوونه او روزنه:

لـویئس دوپـري لیکـي: "کلـه چـې د امیـر حبیـب الله خـان لـه مـرګ وروسـتـه د لومـړي وار لپـاره محمـود بـیګ طـرزي لـه امـان الله خـان سـره ولیـدل، دواړه حېـران وو. طـرزي وویـل: مـه ژاړه اوس د عمل وخت دی".(۳ـ۴۴۱)

هغـه د خپـل پـلار پـه غیـاب کـې اکثـر د ښکـار د سفرونو پـه مهـال د ګـارد او یـا د وسـله وال پـوځ د قومانـدان دنـده ترسـره کولـه. نومـوړی ارګ ونیـو، چـې هـم د شـاهي دربـار کـلا (مرکـز) و او هـم پـه کـې خزانـه وه او د قـدرت دودیـزه څوکـۍ وه. نومـوړي سـم د واره پـه پـوځ کـې د اصلاحاتو او د حالـت د ښـه کولـو وعـده وکـړه. د حبیـب الله ورور پـه جـلال ابـاد کـې خـان پاچـا اعـلان کـړ. نومـوړی د دودیزوالـو (عنعنـه پرسـتو) نماینـده و.(۳ـ۴۴۱)

پـه واقعیـت کـې د مـدرنیزم او دودیزوالـي یـا ترادیشـنالیزم تـرمنځ مبـارزې دغلتـه خپـل ځـان راڅرګـند کـړ. مـدرنیزم پـه تـدریج سـره رابرسـېره شـو او د ټـولنې پـه ټـول مقیـاس د دودیـزوالي کرکـه یـې د ځـان پرضـد راوپارولـه. دغـه مبـارزه تـر ننـه هـم روانـه ده. وروسـتی انعکـاس یـې د دسمبر پـه وروسـتۍ لویـه جرګـه کـې ولیـدل شـو. دغـه جګـړه پـه افغانستان کـې ډېـره خونـړۍ وه او د سـرونو یـا ککریـو د دل او تولیـدو لـه لارې د اولس د وینو د څپانده سیند په ټټر تېره شوه او لا روانه ده.

(لـه ۱۹۱۹ کـال نـه ترمخـه پادشـاهي کورنـۍ یـوازې لـه

اداري مسايلو او قانوني تصاميمو سره علاقه درلوده. ټول افغانان مخکې له هغه چې شاهي دربار ته راشي او خپل کيس راوړي، د دود او عنعنې په وسيله محکوم وو. د امير حبيب الله او د هغه ورور سردار نصرالله او د حبيب الله درې مشران زامن ټولو په دربار کې کار کاوه او په پرله پسې توګه د هغو پريکړې په اسانۍ تصور کېدې.) (۳_۴۴۲)

امان الله غوښتل، چې ټول سيستم سره يو موټی کړي. نوموړي طرزي ته اجازه ورکړه، چې د يوه حکومتي سيستم اصلاحات رامنځ ته کړي او د وزيرانو کابينه د عثماني ترکيې په موډل جوړه کړي. طرزي پخپله د بهرنيو چارو لومړنی وزير شو او سردار عبدالقدوس خان د صدراعظم په توګه وټاکل شو. (۳_۴۴۲)

غازي امان الله خان د نهو کالو پادشاهي په دوره کې ستر او هراړخيز اصلاحات ترلاس لاندې ونيول، چې افغانستان يوه نوي دور ته داخل کړي. ګرګوريان وارتان په خپل اثر کې د امان الله خان د وينا يوه برخه رااخلي او ليکي:

(د لوی خدای په لارښوونه به زموږ حکومت ټول داسې مناسب او ګټور اقدامات او ريفورمونه، چې د هېواد و ملت په ګټه وي، پيل کړي چې د افغانستان حکومت او ملت د ستر بدلون په اساس متمدني نړۍ ته اخل شي او د سترو متمدنو قوتونو په منځ کې مناسب او وړ مقام ترلاسه

کړي. په دې ډول له خدایه غواړم د هغه د رضا او مهربانۍ لپاره او له هغه څخه ستاسې او ټولو مسلمانانو او ټول بشریت د نېکمرغۍ او هوساېې لپاره مرسته غواړم. له خدایه غواړم چې موږ ته لاربښوونه وکړي او زموږ هیلې راپوره کړي.) (۴_۲۳۹)

د امانیه دور لومړني اصلاحي اقدامات د ښوونې او روزنې په برخه کې وو، چې هغه ډېر اهمیت ورته ورکاوه. امیر ددې لپاره چې د ښوونې او روزنې سیستم پیاوړی کړي او هغه بیا له سره تنظیم کړي، نو له مصر او ترکیې څخه یې ښوونکي راوبلل او په افغانستان کې یې په دوام داره توګه د فرانسې د ښوونې او روزنې د سیستم د زده کړې لپاره د فرانسوي هیات له مقاماتو سره خبرې اترې پیل کړې. ددې کار لپاره الفرید فوچرد فرانسوي ارکیالوجستانو د هیات مشر او د سوربون د پوهنتون پروفیسور د یوه دوام داره ښوونیز سیستم او د لوړو زده کړو سیستم طرحه کړ. درې نوي ثانوي ښوونځي جوړ شول. دا ټول د حبیبیه په سبک و، خو په هر یوه کې د متوسطو لاربښوونو لپاره بېله یا ځانګړې بهرنۍ ژبه تدریس کېده. د ګریګوریان په قول لومړنۍ هغه یې امانیه ښوونځی و، چې په ۱۹۲۲ کې جوړ شو او د امان الله خان له سقوط وروسته یې نوم په استقلال واوښت. غبار ددغه ښوونځي نوم امان لیکي. دا ښوونځی د امان الله په نوم یادېده. امانیه لیسه یا

ښوونځی، چې د فرانسوي تدریس یو نمونه وه، پنځو تنو فرانسوي استادانو چې یوه یې مېرمن وه او دولسو تنو افغانانو یې د تدریس چارې پرمخ بیولې. د ۱۹۲۶ کال پورې امانیه ښوونځي ۳۰۰_۳۵۰ تنه شاګردان روزلي وو.

په ۱۹۲۳ کال کې اماني لېسه جوړه شوه، چې د جرمني ټیپ یو ښوونځی و. دا هم د امانیه په څېر یو ښوونځی و او د امان الله له نوم سره تړلی و، چې بیا وروسته د نجات په نوم یاد شو. اماني ښوونځی د ډاکټر ایون تر سرپرستۍ لاندې و، چې درې جرمني ښوونکو او څو تنو افغان ښوونکو پکې تدریس کاوه. د ۱۹۲۴ او ۱۹۲۶ کلونو په دوره کې دې ښوونځي نږدې سل تنه زده کوونکي درلودل. په ۱۹۲۷ کال درېیم ښوونځی د غازي په نوم پرانېستل شو. ددغه ښوونځي په ټولګیو کې انګرېزي ژبه تدریس کېده. لومړنی بکلوریا ازموینه په حبیبیه ښوونځي کې په هماغه کال واخیستل شوه.

همدارنګه امان الله خان په ۱۹۲۴ کال نور ښوونځي هم پرانېستل. هغه یو څلور کلن اداري ښوونځي چې (مکتب حکام) نومېده تاسیس کړ. په دې ښوونځي کې په محاسبه او ارتیمیتکس باندې ټینګار کېده. ترکي د دویمې ژبې په توګه په کې تدریس کېده، ځکه چې امان الله خان غوښتل چې په افغانستان کې ترکي اداري موډل پلی کړي. د کابل د والي له خوا د حکومت کارمندانو ته هم اداري تعلیمات

ورکول کېدل. د کابل والي ته ويل شوي وو، چې د قانون په اړوند يو کورس جوړ کړي. په دې ډول يې غوښتل، چې د ښوونکو د سويې کيفيت لوړ کړي او نوي کادرونه وروزي. د ښوونکو د روزنې مرکز د حبيب الله له خوا جوړ او پراخ شوی او سيستماتيك تعليمي نصاب ورته تاکل شوی و. انګليسي د پرنسيپ له مخې يوه منل شوې ژبه وه، چې هلته تدريس کېده.

کله چې د ښوونکو د روزنې پروګرام تر لاس لاندې ونيول شو، حکومت د مسلکي ښوونځيو جوړولو ته پام راواړاوه. يو کوچنی ښوونځی د ښکلو هنرونو او صنعت لپاره جوړ شو او له ۱۹۲۴ کال راهيسې نور خصوصي ښوونځي هم جوړ شول. ددې ښوونځيو په لړ کې يو د بهرنيو ژبو د زده کړې ښوونځی و. (چې د انګرېزي، فرانسوي، الماني،روسي او ترکي ژبو تدريس په کې کېده) همدارنګه د تلګرافۍ او ښيښه جوړولو، سنګ تراشۍ او حسابدارۍ ښوونځي جوړ شول. د ګريګوريان په قول په مجموع کې دا ټول ښوونځي په ډېرو لږو تجهيزاتو او وسايلو باندې سمبال وو او يا يې هېڅ وسايل نه درلودل.

مير غلام محمد غبار هم د ښوونې او روزنې په برخه کې په دې ډول يادونه کوي:(د اساسي قانون د ۶۸ مادې په اساس د لومړنيو ښوونځيو زده کړه اجباري شوه او په مرکز (کابل) کې پر حبيبيې لېسې سربېره د امان او اماني د

فرانسوي، جرمني او کورنيو استادانو په وسيله تدريس کېده. د غازي رشديه د استقلال رشديه، تلګراف، رسامي، نجاري، معماري، د ژبو، کرنې، عربي دارالعلوم، د مستوراتو رشديه، د جلال آباد رشديه، د کندهار رشديه، کرنه، د هرات رشديه، د هرات دارالمعلمين، د مزار شريف رشديه، د قطغن رشديه، د پوليسو مکتب، موزيك، غالۍ اوبدلو ارکتيکت، د ښځينه تدبير منزل، طبيه ښوونځی، مستورات او د هېواد په ټولو ولاياتو کې ۳۲۲ لومړني ښوونځي جوړ شول. تر ۱۹۲۷ کال پورې د لومړنيو ښوونځيو د زده کوونکيو شمېر يو پنځسو زرو ته ورسېده.) (۱_۷۹۳مخ)

په ۱۹۲۸ کال کې يو کالج جوړ شو. ددغه کالج محصلين د څلورو ثانوي ښوونځيو له فارغانو څخه غوره شول. د وارتان ګريګوريان په قول (کله چې ددغه کالج محصلين غوره شول، ځينې محصلين بهر ته واستول شول، چې خپلې نورې زده کړې بشپړې کړي. خو دغه موسسې په خپله زيات دوام ونه کړ. تر ۱۹۲۸ کال پورې د ډاکټر تينيبير په قول، چې وروسته د امانيه ډايرکټر و، په کابل کې نژدې ۱۴ لومړني او منځني ښوونځي موجود وو او همدارنګه د ولاياتو په مرکزونو کې هم منځني ښوونځي جوړ شوي وو. (۴_۲۴۰مخ)

ګريګوريان يوې ډېرې په زړه پورې خبرې ته ګوته نيسي

او هغه دا چې له نوي افغان ښوونیز سیستم څخه د امان الله خان او محمود طرزي (چې تر دغه وخته د امیر سلاکار و) هدف لکه څنګه چې مالومېږي دا و چې په افغانستان کې د روښانفکرۍ او روښانتیا تخم وشیندي، چې د مودرنیزم او اصلاحاتو لپاره ډېر ضروري و، چې له دې لارې وکړای شي په افغانستان کې د شاهي اداري لپاره لازم کادرونه وروزي. امیر هڅه کوله، چې له ښوونې او روزنې سره د خلکو مخالفت کم کړي. هم د هڅونې او هم د فشار له لارې خلک دې کار ته چمتو کړي. نومړي په عامو محضرونو کې داسې اشتهارونه نصب او استولي وو، چې له خلکو یې غوښتي وو چې خپل اولادونه ښوونځیو ته واستوي او ټولو دولتي کارکوونکیو ته یې لارښوونه کړې وه، چې د خپلو ماشومانو په داخلولو سره نمونه شي او که چا سرغړاوی کاوه، نو یا له کاره ګوښه کېدل او یا جریمه کېدل.

له بلې خوا دواړه لومړنۍ او عالي زده کړې وړیا وې، لکه چې دمخه یادونه وشوه، دې اصل ته په لومړني اساسي قانون کې ځای ورکړل شوی و، پاتې دې نه وي چې دې دود تر وروستو کلونو پورې او ان تر ننه دوام وکړ، ځکه چې د ټولنې او هېواد یوه جدي اړتیا وه او ده. له بلې خوا ددې لپاره چې زده کوونکي وهڅېږي او ښوونځي ته دوام ورکړي، ماشومانو ته چې په لومړنیو ښوونځیو کې وو، لږې اندازه پیسې، لباس او خواړه هم ورکول کېدل. داسې هڅې

وشوې، چې د ولایاتو په ساحو کې د دولت په ملاتړ د اولس له خوا ښوونځي رامنځ ته شي چې عصري مضامین او تعلیمي نصاب ولري، خو د ګریګوریان په قول په دې برخه کې داسيء څه مالومات نشته، چې وښيي چې د امیر اداره څومره په دې برخه کې بریالۍ وه، خو څه چې څرګند دي، دا دي چې په ټولو دا ډول ښوونځیو کې عنعنوي تعلیم ته ډېر ارزښت ورکول کېده او ان د مکتب نیمه ورځ په دودیز تعلیمي نصاب کې تېرېده. په عصري مضامینو کې یوازې د افغانستان جغرافیه او ریاضي مضامین تدریس کېدل.

وارتان ګریګوریان یادونه کوي:(په عمومي ډول د عصري ښوونې او روزنې د سیستم پراختیا اغېزه دا وه چې د عنعنویي او مدرنو موٴسسو ترمنځ رقابت یې راوپاراوه. تراوسه په عمومي توګه باور دا دی، چې د ښوونې او روزنې یوازینی هدف په هره سطحه کې دا و چې اسلامي زده کړې پیاوړې کړي. عنعنه پلویانو هڅه کوله، چې په تعلیمي نصاب کې د نویو مذهبي مضامینو زیاتولو ته دوام ورکړي. امان الله خان او د هغه پلویانو زیاتې هڅې وکړې، چې مذهبي موسسات قانع کړي چې مدرنه او سیکولر ښوونه او روزنه او اسلام سره رقیبان نه دي او نوي ښوونځي هېڅکله په افغانستان کې د اسلام معنویت او سپېڅلي پېغام ته ګواښ نه کوي. نوموړی په ښه توګه په دې پوهېده، چې له څه ډول ستونزو سره مخ دي. له دلو ویل توماس سره په

مرکه کې د نوموړي څرګندونه ددې خبرې ښه شاهدي ورکوي.

(موږ په ډېر شوق سره د ښوونې او روزنې ارزښتونه ژوندي کړل، خو زما د خلکو لپاره د زده کړې راوړل باید ډېره ورو پروسه وي... موږ هیله لرو چې خپل پلان په ښه او رښتینې توګه پلي کړو، نه په ډېره چابکۍ سره. مذهب باید لاس په لاس زده کړې سره پرمخ لاړ شي، له دې پرته به دواړه په کنده کې ولوېږي. دا هېواد ډېر بډای او ښه مواد، ښه خلك او ډېرې فوق العاده منابع لري، چې دواړه یې لاتراوسه پورې نامنکشفه پاتې دي.) (۴_۲۴۱مخ.)

(همدارنګه په تعلیمي سیاست کې یې (د دولتمدارۍ لاسبرۍ) څرګند و. دا سیاست په واقعیت کې د امیر عبدالرحمان د سیاست په اصولو باندې ولاړ و، چې مذهبي ښوونه او روزنه د دولت تر کنټرول لاندې وه.:د ملایانو لپاره ښوونځي جوړ شول. د ملایانو لپاره د هغوی د رسمي ټاکنو لپاره د مقرراتو او موازینو د لومړي شرط په توګه او همدارنګه په ۱۹۲۸ کې د قضاتو لپاره ښوونځي جوړ شو، چې پټپیل شوې وه، چې په راتلونکي کې د همدې ښوونځي فارغان کولی شي د قاضیانو په توګه غوره شي.) (۵_۱۲۶ به نقل از پاول_ ۱۹۷۳_۷۷)

(په زړه پورې دا ده، چې په افغانستان کې د ښوونې او روزنې ریفورم د ترکیې په نسبت زیات پام ځانته راواړاوه.

هر انقلابي يا اصلاح غوښتونکي رژيم ته د ښوونې او روزنې موسسات د حاکمې پوړۍ د ايدولوژۍ او افکارو د خپرولو لپاره کليدي اهميت لري. په دې ټولنو کې چې په يوه کورنۍ کې په کې ټولنيز کېدل ترسره کېږي او مطبوعات په کې په عامه افکارو باندې په نفوذ کولو کې لوړ رول لري، نو د ښوونځيو په لاس کې درلودل (چې له مذهبي کنټرول څخه ازاد وي) نويو ناسيونالستي عقايدو ته په راجلب او ټولنيزو چارو ته په راکښلو کې د افرادو، د روزنې يوازينۍ امکان دی. د امان الله خان هدف له تعليمي ريفورم څخه دا و، چې د سلطنت د ادارې لپاره منوره روښانفکره طبقه ايجاد کړي. (۶_۱۲۷)

(په لويه جرګه کې د ملت استازيو د ښوونې او روزنې په برخه کې په عربي ژبه د اسلاميي علومو د پوهنځي وړانديز کړی و. ځينو نماينده ګانو په مدرنه ښوونه او روزنه انتقاد کاوه. په خاص ډول د نجونو ښوونه او روزنه يې نه منله. زياتره استازيو له فرانسوي او جرمني ښوونځيو څخه ملاتړ کاوه، ځکه چې د بهرنۍ ژبې زده کړه په قران کريم کې نه ده منع شوې، خو د نجونو د ښوونځي، په خاص ډول د هغه عالي ښوونځي بايد وتړل شي.) (۵_۱۲۱مخ.)

مذهبي موسساتو د نورو ښوونيزو پلانونو په وړاندې يوه بله ستونزه هم ايجاد کړه. د مثال په توګه کله چې د کابل د (دارالامان) د پوهنتون جوړېدل په نظر کې ونيول شول، د

موسساتي نظم د جوړښت لپاره يې هېڅ تړون ته ونه رسېدل، چې ايا د مذهبي او سکولاستيکي ښوونې او مذهبي علومو په خدمت کې وي او که د مدرنو علومو مضامين هم ولري. په هر حال د عنعنه پرستو مخالفت له ډېرو څخه يوازې يو شی و، چې امان الله ورسر مخامخ و. افغان مدرنېستانو سخت ملي غرور او حساسيت رامنځ ته کړ. ان تر دې چې امان الله خان له فرانسوي او جرمني استادانو سره چې د هېواد د لوړو زده کړو مسولين وو، په جنجال کې پرېووت. سره له دې چې امير غوښتل د مدرنې ښوونې او روزنې سيستم ته پراختيا ورکړي او له ۶ څخه تر ۱۱ کلونو پورې د ماشومانو زده کړې يې اجباري کړې وې، خو نوموړي د باتجربه او د لوړو زده کړو لرونکو ښوونکيو له نشتوالي سره مخامخ و. ان تر دې چې که توانېدلی وای، چې په سخت دريزه عنعنه پرستانو بری ومومي، بيا هم نوموړي نه شوای کولی چې اجباري ښوونه او روزنه سيستماتيزه کړي. په عمومي توګه د ښوونځيو سهولتونه نامناسب وو، د هېواد په زياتره ولايتو او کليو کې ښوونځي نه وو جوړ شوي. امان الله نه يوازې اقتصادي زېرمې نه درلودې، چې خپل پروګرام اجرا کړي او نه ورسره خلکو د زړه له کومي مرسته کوله. په اټکلي توګه تر ۱۹۲۸ کال پورې په افغاني لومړنيو ښوونځيو کې ۴۰۰۰۰ تنه ماشومان شامل شوي وو. غبار دا رقم له پنځوسو زرو پورته

څرګندوي. دوه نور ګامونه يې هم ډېر د پام وړ دي، چې يو بهر ته د افغاني زده کوونکو استول وو، چې د دولت په لګښت (تر سپانسر شيب لاندې) وو او بل هم د نجونو د ښوونځيو پرانېستل وو.

يو اساسي دليل چې په هېواد کې يې بېلابېل تقريباً درې تعليمي او بهرنۍ ژبې سيستمونه معرفي کړل دا و، چې امير غوښتل افغاني زده کوونکي دې ته چمتو کړي، چې په بهر کې زده کړې وکړي. په ۱۹۲۱ کال کې هدايت الله خان او نور ۴۴ تنه افغان زده کوونکي، چې له لوړې پوړۍ څخه وو، پاريس ته واستول شول او د ميکليت په ليسه کې يې زده کړې کولې، چې د فرانسې د دولت له خوا ورته ټولې اسانتياوې برابرېدې. د فرانسې حکومت ورته ترجمان ټاکلی و، چې له نوي چاپېريال سره يې بلد کړي. په ۱۹۲۲ کال کې نور ۴۴ تنه زده کوونکي بيا اروپا (جرمني) ته واستول شول او نور يې ترکيې، فارس، سويټزرلينډ او انګلستان ته واستول شول. د امان الله خان يو ورور د اکسفورډ پوهنتون ته لاړ. امير داسې پلان درلود، چې ټول درې سوه زده کوونکي بهر ته واستوي. سل يې اروپا او نور پاتې يې هند ته واستوي، خو دا پلان بيا جوت نه شو. ان ددې پروګرام د عملي کېدو لګښت په کال کې ۵۰۰۰۰ پونډه اټکل شوی و.

د محافظه کارانو د انتقاد په وړاندې امير او د مدرنيزم

مبارزینو دواړو دغه لګښتونه داې توجیه کول، چې لویدیځې اروپا ته د زده کوونکیو استول له دې اسلامي حکم سره برابر دي، چې په علم پسې که په چین کې وي هم لاړ شه او په دې ډول یې د زده کړې پروسه هڅوله.

کله چې زده کوونکي له هېواد څخه بهر تلل، نو زیات قیودات پرې وضع کېدل. د مثال په توګه هغوی اړ وو، چې د روژې په میاشت کې روژه ونیسي. نور مذهبي مقررات مراعات کړي. که بهرني زده کوونکي کلیسا ته ځي او هلته انجیل لولي، نو افغاني زده کوونکي باید قرآن ولولي، چې عقیده یې ټینګه پاتې شي. همدارنګه په خوراکي شیانو او څښاک باندې هم اسلامي پابندي وه. افغان زده کوونکي له ډانس یا نڅا څخه منع وو او له غیر اخلاقي نندارو څخه هم منع وو، له ښځو سره له روابطو هم منع وو. په دغه ډول منع شویو فعالیتونو کې برخه اخیستل، د افغان حکومت له پالیسۍ سره مغایر بلل کېدل او د مرتکب کوونکي سکالرشېپ قطع او هېواد ته راغوښتل کېده. په دې کار باندې د ډاډ لپاره د زده کوونکي د لارښود له خوا پوره رپوټ برابرېده او حکومت ته رااستول کېده.

## ۲_ ښوونه او روزنه او د ښځو ازادي:

د عمومي ښوونې او روزنې په برخه کې په افغانستان کې د حکومت یو بل اقدام د نجونو زده کړه و. دغه پروګرام، چې په ۱۹۲۱ کال کې د عصمت په نوم پیل شو

(وروسته دغه ښوونځی د ملالۍ په نوم یاد شو) دا د اولسي زده کړې پروګرام و، د منظم تعلیمي سیستم کومه برخه نه وه، بلکې د امیر د مېرمنې ملکه ثریا او د مېرمن محمود طرزي له خوا اداره او نظارت یې کېده. د عصمت د پرانیستو په مراسمو کې ملکې وویل: ښځو د اسلام په تاریخ کې لوړ مقام درلود. نوموړې هیله څرګنده کړه، چې د افغاني مېرمنو ښوونه او روزنه به په ټولنه کې د هغوی ټولنیز موقف نور هم لوړ بوځي او دوی ته به اجازه ورکړي، چې په ټولنه کې ګټور رول ولوبوي او په دې اساس به د افغاني ټولنې د روغتیا او خوشحالۍ په برخه کې مرسته وکړي.

تر ۱۹۲۸ کال پورې نژدې ۸۰۰ نجونو په کابل کې (په امانیه کې په لومړي سر کې څو تنه محدودې ښځې منل شوې وې) ښوونځیو ته ورتللې. ځینو افغاني مېرمنو په بهر کې یعنې په ترکیه، فرانسه او سویټزرلینډ کې زده کړه کوله. دغه مهال امان الله خان غوښتل، چې د نجونو لپاره نور پېنځه ښوونځي پرانیزي او همدارنګه د هلکانو د تعلیمي سیستم په څېر د نجونو لپاره هم لومړنۍ زده کړې اجباري کړي، خو د امیر په سقوط سره دغه دواړه پروژې په ټپه ودرېدې. (۴_۲۴۳مخ)

غبار لیکي:(په کابل کې کله چې یوه ورځ مکې ثریا د نړۍ د ښځو د ترقۍ او د افغانستان د ښځو د وروسته پاتې

والي په باب خبرې کولې (جدي ۱۲۹۹) ټولو ښځو وژړل او پنځوس تنه يې چمتو شوې، چې د ښوونې او روزنې د خدمت لپاره کار وکړي او لومړنۍ ښځينه مدرسه جوړه کړي. ملکه ثريا هم دومره خپه شوه، چې پخپله يې د پلټونکي دنده په غاړه واخيسته.) (۱-۷۹۰)

د نجونو د ښوونې او روزنې د شرايطو د برابرولو لپاره د امان الله خان هڅې د هغه د عمومي هڅو يوه عمده برخه وه، چې هغه غوښتل د ښځو حالت ته مثبت بدلون ورکړي. په هغه وخت کې ښځو ته څو حقونه ورکړل شول او يو څو زاړه دودونه منع اعلان شول. دغه هڅې د نن ورځې د بشري حقونو په مقياس ستر ګام دی، چې په هغه وخت کې اوچت شوی دی. له هغې جملې څخه په هغو شرايطو کې په ماشومتوب کې واده کول عام وو. د ميراث قوانين ډېر غېر عادلانه وو. کونډو قانوني حق نه درلود، چې د مېړه د مال واک ولري. ان د کونډې ماشوم هم په اسارت کې و. په عام محضر کې د مخ پټول په جدي توګه په پام کې نيول کېدل. امان الله خان پرېکړه کړې وه، چې دا وضعيت اصلاح کړي. نوموړي د ښځينه جنس د ودې او پرمختګ لپاره د اسلام د اصولو په اساس غوښتنه کوله، همدارنګه په دې پروسه کې هغه او د هغه سلاکارانو ډېر ګامونه اوچت کړل.

په ۱۹۲۱ کال کې د کورنۍ په نوم يو ډېر مهم قانوني اقدام ترسره شو او هغه دا چې د واده او نامزادۍ ترنامه

لاندې مقرره ترلاس لاندې ونيول شوه. پخوا د امير عبدالرحمن او امير حبيب الله خان له خوا هم ځينې اقدامات شوي وو، خو د امان الله خان اقدامات ستر او هراړخيز وو. په ماشومتوب کې واده کول او له نژدې اقاربو سره واده کول، د اسلام له اصولو څخه مغاير وګڼل شول. په نوي اصولنامه کې ونډه د مېره د اقاربو له سلطې څخه ازاده وبلل شوه. نوموړې د خپل پلار مثال تعقيب کړ، د واده په مراسمو کې په لګښت لکه ولور سخته پابندي ولګېده.

دغه راز يې د ښځې حق د واده په برخه کې د اپيل يا استيناف لپاره په محکمه کې تثبيت کړ، چې که چېرې مېره په اسلامي اصولو باندې پابند نه وي، د خپل حق غوښتنه کولی شي.

ګريګوريان يادونه کوي، چې يوې منبع رپوټ ورکړ، چې د ۱۹۲۴ کال په پای کې افغاني نجونو ته حق ورکړ شو، چې پخپله مېړه غوره کولی شي، دې کار عنعنه پرستان سخت په قهر کړل. امان الله خان د ښځو د شعور د بيدارۍ او د هغوی د خبرتيا د لوړتيا په خاطر لومړنۍ ښځينه مجله د "ارشادالنسوان" په نوم خپره کړه. دغه مجله په خاصه توګه د محمود طرزي له خوا اډيټ او کنټرول کېده او د ټايپ چارې يې په ښه توګه سمبالېدې. په دې مجله کې ځينې ستونزې او پروبلمونه مطرح کېدل. ښځو ورته مقالې ليکلې. څو افغان مېرمنو نورو خپرونو ته په اسلام کې د

ښځو د رول په باب مقالې ورکولې او چاپېدلې. په "ايينه عرفان" کې د افغان د ازادۍ په جګړه کې د ښځو قربانيو په اړوند يوه نمونه مقاله په هغه وخت کې خپره شوه. همدارنګه په دغو خپرونو کې د ښځو د حقوقو په اړوند ځينې مقالې او مطالب خپرېدل. په مصر کې د ښځو د ترقۍ په اړوند او په اروپا کې د ښځو درول په اړوند مطالب چاپېدل. په کابل کې هغه مهال ډېر لږ شمېر مېرمنې مخ لوڅې برېښېدلې. ترکي مېرمنې، چې مدرن لباس يې اغوست او چادري يې بنده کړې وه، د افغان مېرمنو د هڅونې سبب شولې. البته په دې برخه کې د امان الله خان کلک ملاتړ و، چې عقيده يې درلوده:(د نوي راتلونکي افغانستان د جوړښت د ملا تير به دښځو ازادي وي.) (۴_۲۴۴)

نوموړي ځينې ګامونه له اټکل پرته پورته کړل، يو وار د ښځو يوې غونډې ته حاضر شو او هغوی يې دې ته وهڅولې، چې د فيمينيزم لپاره کار وکړي. افغاني مطبوعاتو د جنګ د ښانګې په ګډون د ازادۍ په دې کمپاين کې برخه واخيسته. د ۱۹۲۸ کال په هغه وروستۍ مياشت کې، چې دولت سقوط کوي امان الله خان د پردې او چادرۍ په وړاندې (چې نيمايي افغان اولس يې پټ ساتلی و.) اقدام وکړ. د هغه او د ملکې ثريا د اقداماتو په نتيجه کې نژدې سلو تنو ښځو د ۱۹۲۸ کال د اکتوبر پورې چادرۍ

لیرې کړې. دوه نورې عادي پېښې هم د یادونې وړ دي، یو دا چې په ۱۹۲۷ کال کې انیس یو ستون خپراوه، چې د کورنیو خوشحالي نومېده او بل دا چې په وروستي وخت کې د پراشوت په وسیله څو تنه افغان مېرمني له الوتکې څخه د کابل له پاسه راکښته شوې.

(د امان الله خان په دوره کې د واده قانون یا د نکاح نظامنامه تدوین شوه، چې د یوې ښځې لرل یې هڅول او د دویمې ښځې لپاره یې قید او مالیه ټاکلې وه. د نکاح نامې لرل یې د واده لومړنی شرط باله، چې دا مسایل له اسلامي قانون سره دومره هماهنګ نه وو.) (۵_۱۲۰)

د امان الله خان اداري د مطبوعاتو او خپرونو په برخه کې بې سارې کار وکړ، په دې دوره کې سراج الاخبار په امان افغان بدل شو او د نیمه رسمي ورځپاڼې په توګه یې خپرونې پیل کړې. دغه راز نورې جریدې لکه: اتحاد مشرقي په جلال اباد کې، فریاد، اتفاق اسلام، بیدار او اتحاد اسلام په مزار شریف کې، اتحاد بغلان په بغلان کې، اتحاد خان اباد په قطغن کې، طلوع افغان په کندهار کې، ستاره افغان په کوهستان کې. په خپرونو پیل وکړ. دغه راز په کابل کې دیوې موقوتې خپرونې د حقیقت په نوم او د درېیمې د انیس په نوم په خپرونو پیل وکړ او څلور کاله وروسته یې په پښتو خپرونې پیل کړې. دغه راز په ځینو وزارتونو کې هم یو لړ مجلې او خپرونې پیل شوې لکه: د

ثـروت، آیینـهء عرفـان، اردو، اقتصـاد، ښـووني او روزنـې او نـورې... ګریګوریـان د هغـه وخـت افغـان لیکوالـو پـه بـاب لیکي:

(پـه هغـه دوره کـې افغـان لیکوالـو پـه دریـو اساسـي استقامتونو کې مبـارزه کولـه، چې زیـات د سـراج الاخبـار لـه کړیـو څخـه اغیـزمن وو. یعـنې ازادي، ناسـیونالیزم او ددې ټولـو پـه سـر کـې مودرناېزیشـن. پـر ناسیونالیزم بانـدې فشـار ددې لپـاره و، چـې لـه مـذهبي او قـومي اختلافـاتو څخـه ملـي یـووالی لـوړ وښیـي، دوی ملـت لـه یـوې کورنـۍ سـره پرتلـه کـاوه، دغـه یـووالی د یـو لـړ مواریثـو او روابطـو پـه اسـاس و، لکـه: خـاوره، اقلـیم او د ژونـد طـرز. د ملـي وحـدت مفهـوم د یـوې مـذهبي دنـدې پـه توګـه، د یـوه منلـي مضـمون پـه توګـه، پرڅـای پـاتې و او دا پـه دې مفهـوم سـره واضـح کېـده، چـې شـکر دی پـه ملـي یـووالي سـره افغانـانو پـر بریتانیـا بـری ومونـده. د سـراج الاخبـار دا ښـه دود تعقیـب کېـده. افغـان ژورنالسـتانو د سـاینس او زده کـړې سـتاینه کولـه: یـووالی لـه پـوهې نـه پرتـه داسـې دی لکـه ماشـین بـې لـه تیلـو. یـوازې د پـوهې پـه وسـیله مسـلمانان کـولی شي چـې پـر خپـل ځـان ډاډ پیـدا کـړي. پـه موجـوده ناخوښـۍ بـری حاصـل کـړي او تېـر شـوی وخـت جبـران او د تمـدن لـه سـطحې او ترقـۍ نـه ملـت خونـد واخلي...) (۴_۲۴۵)

امـان الله خـان ددې پـه څنـګ کـې یـو لـړ نـور ګټـور ګامونـه

واخيستل، په پغمان کې يې يو سرخلاصی تياتر پرانيست او د لومړي ځل لپاره يې د (اندلس فتح) په نوم ننداره وښوده. د فرانسې له دولت سره يې په ۱۹۲۲ کال کې يو فرهنګي تړون لاسليك کړ، چې فرانسوي ارکيالوجستان راغلل او کيندنې يې پيل کړې. په کابل کې يې د يو موزيم د جوړولو تکل وکړ.

(يو مشورتي مجلس چې د دولت شورا نومېده، د اساسي قانون چې د نظامنامې په نوم يادېده، د تسويد دنده په غاړه واخيسته. ددغه اساسي قانون وضع په دوه اصلو متکي وه: يو اسلامي قوانين او دويم افغاني ارزښتونه او ميراثونه.

د دولت شورا د مسلکي کميټې په وسيله جوړه شوه، چې د اسلامي شريعت له علماو متشکله وه او د تميز د هيات له خوا ورسره مرسته کېده. په ولاياتو کې د شورا مجلسونه جوړ شول، چې محلي حکومتونو ته په محلي او اداي مسايلو کې مشوره ورکړي. د ولاياتو امران يې بې قانونی او خلاف رفتاريو ته متوجه کړل. همدارنګه امان الله يوه تثبيت شوې عنعنوي پروژه يعنې د لويې جرګې جوړېدل اعلان کړل.) (۵_۱۱۷) امان الله خان په حقيقت کې دغه عنعنوي لويه جرګه په يوه نوې، مدرنه او اغېزمنه موسسه بدله کړه، چې هم قانون جوړونکې وه او هم د هېواد

په کچه د سترو مسایلو په اړه د وروستیو پرېکړو د واك لرونکې.

## ۳_ عصري روغتیا پالنه او د ملي تواءمیت او ټینګښت نور توکي:

غازي امان الله خان په دې خبره ښه پوهېده، چې د یو واحد او متمرکز دولت د ایجاد لپاره او د یو هوسا او بسیا ټولنې د جوړېدو لپاره مدرن طبابت او عامه روغتیا اساسي شرطونه دي. دغه راز مواصلات یعنې تیلیفون او تیلګراف، لیارې او سړکونه او مخابراتو ته ډېره جدي اړه ده. نوموړي په همدې هیله څو تنه ترکي او الماني ډاکټران د کابل روغتون ته راوبلل، د حبیب الله خان ماڼۍ یې د نري رنځ په سناتوریم بدله کړه. د پغمان میوه پلورونکو ته امر وشو، چې د میوې لپاره د ملاریا د ماشو د مخنیوي لپاره باید له جالیو کار واخیستل شي. ګریګوریان وایي، چې دا مالومه نه ده چې دا د ملاریا پر ضد د کمپاین لپاره وه او که بل څه خودزابرونو کیندلو دوام وکړ. امان الله خان هڅه وکړه، چې روغتیایي خدمات د دولت تر کنترول لاندې راولي او بې سواده حکیمانو، چې به درمل او نسخه ورکوله هغه یې بند کړل، بلکې هغوی ته اجازه نامې ورکړل شوې، که چا به څه خلاف رفتاري وکړه، جریمه او اجازه نامه ترې اخیستل کېده.

په ۱۹۲۳ او ۲۴ کال کې د جرمني یوې روغتیایي ډلې

په کابل کې دوه روغتونونه، یو د ښځو لپاره او بل د نارینه وو لپاره پرانیستل.

امان الله خان د تیلیفون او تلګراف سیستم پراخه کړ. له شوروي اتحاد نه یې د ټیلیفون او ټیلیګراف وسایل وارد کړل.

همدارنګه یو لړ وسایل له بریتانیا څخه وارد شول. د کابل او پېښور ترمنځ د تلګراف سیستم فعال شو، خو د پوست او تلګراف سیستم څکه په ابتدایي حالت کې پاتې شو، چې لویې لارې جوړې او ترمیم نه شوې. کله چې په ۱۹۲۷ کال کې افغانستان په نړیواله پوستي اتحادیه کې داخل شو، امان الله خان فرانسوي انجنیران راوغوښتل، چې د پوست، ټلیفون او ټلګراف سیستم معرفي کړي، خو کورني اغتشاش دغه کارونه په ۱۹۲۸ کال کې په ټپه ودرول.

په ۱۹۲۹ کال د راډیو افغانستان لومړنی سټېشن جوړ شو. دولت د لومړي وار لپاره له روسیې نه ۵ الوتکې واخیستې، چې له جرمني او انګلستان څخه یې هم په ۱۹۲۴ کې رانیولې وې. روسي الوتکې روسي پیلوټانو چلولې، وروسته افغاني پیلوټان وروزل شول او تر ۱۹۲۸ کال پورې د کابل او منځنۍ اسیا او کابل-کندهار ترمنځ الوتنې وشوې. (د ۱۳۰۷ کال په ثور کې کله چې پادشاه په روسیه کې و، حکم یې وکړ چې د حرب وزارت الوتکې

کابل ته ولاړې شي، نو د ثور په ۲۱ د یکشنبې په ورځ دوه ډلې الوتکې د یو تکرمن په نوم د کابل هوایي ډګر ته راغلې، یوه الوتکه د نابلدۍ له امله په جلال اباد کې او بله په کرمه کې کېناسته او په ۲۵ تاریخ کابل ته راغلې.)
(۷_۲۵۰)

(کله چې شاه امان الله کابل ته راغی، ویې ویل: هغه الوتکې چې تراوسه رارسېدلي او نورې رارسېږي، د تورید شویو الوتکو نمونې دي. په راتلونکي کې به موږ لویې مسافر وړونکې الوتکې واخلو، ځکه چې لوی میدانونه، نه لرو... د سږکال تر منې پورې به ټولې شپېته الوتکې ولرو.)
(۷_۲۵۲مخ)

د کابل او افغاني ترکستان، کابل_جلال اباد او پېښور د لارو پر سر د هوټلونو جوړولو امر وشو. د ګاډي د سیستم د فعالولو لپاره هم ګامونه واخیستل شول. قطغن د استوګنو د انتقال په برخه کې اصولنامه جوړه شوه.

امان الله خان د یوې قانوني ادارې د جوړولو لپاره د روزل شویو او عصري کادرونو له کمښت سره په ستونزه کې و، خو د ټولنیز ژوند د قانوني کولو لپاره یې زیات کارونه ترسره کړل. د نوموړي د قانوني ګرځولو د کار یوه ستره بریا د لویو جرګو جوړول او د اساسي قانون تصویب و.

## ۴_په ټولنیز ژوند کې د قانونیت رامنځ ته کېدل:

د امان الله خان د دورې یوه ډېره مهمه بریا په ۱۹۲۳

کال کې د لويې جرګې په وسيله د اساسي قانون تصويب و. اساسي قانون تصريح کړه، چې: ټول هغه افراد چې په افغانستان کې اوسي، ديني، مذهبي توپير پرته د افغانستان اتباع دي. (۸ ماده) ټول اتباع د افغانستان په ديني، مذهبي چارو کې د دولت په سياسي نظامونو کې پابند دي او د خپلو شخصي حقوقو خاوندان دي. ۹ماده: په افغانستان کې اسارت برده ګي، بالکل ممنوع ده. بيګار يا اجباري کار منع شو. شکنجه او د ازار رسول منع شول. د امان الله خان په دوره کې د ټولنې د مدرنيزه کولو په برخه کې د اساسي قانون په خوا کې ډيرې نظامنامې تصويب شوې، چې د يو څو نومونه يې دا دي:

۱_ په ۱۹۲۱ کال کې د مالياتو اصولنامه.

۲_د کابل د شش کروهې او شاوخوا لپاره د مالياتو د حصول اصولنامه.

۳_د للمي ځمکو د مالياتو اصولنامه، ۱۹۲۳

۴_د څارويو په باره کې د مالياتو اصولنامه

د دولتي ځمکو د پلورلو په برخه کې اصولنامه ۱۹۲۴_۱۹۲۵

د کرنې د کارکونکيو اصولنامه (۸_۲۶)

د پوځي او اقتصادي اصلاحاتو په برخه کې امير هڅه وکړه، چې په هېواد کې يوه پياوړې عصري اردو ايجاد کړي. نوموړي د يوې حربي فابريکې پلان هم طرح کړ او په

دي اړوند يې له جرمني سره تړون لاسليك كړ. نوموړي غوښتل، چې په اتو فرقو كې يوه عصري اردو جوړه كړي.

په اقتصادي برخه كې يې هم زيات د پاملرنې وړ كارونه وكړل. د يو لړ كارخانو د جوړولو اقدام يې وكړ لكه د صابون او ګوګرد او نور... د ټكس او ماليـاتو په برخه كې يې هم يو لړ اقدامات وكړل، خو ځرنګه چې يو منظم اقتصادي پلان نه و، نو ډېر ژر دغه كارونه له سقوط سره مخامخ شول.

***

په لنډه توګه ويلى شو، چې امانيه نهضت له مدرنيزم او نويوالي سره مترادفه مانا لري. كه څه هم په افغانستان كې د مدرنيزم او عصري ژوندانه د پيل لپاره هلې ځلې ان له مخه پيل شوې وې، خو په عملي او سازمان لرونكي توګه د امان الله خان غازي له واكمنېدو سره پيل شوې. اتـه‌نهـه كاله د اولسونو په تاريخ كې زيات واټن نه دى، خو ددې نهضت په بري او هلوځلو سره ډېر څه افغاني ټولنې ته ورځرګند شول. ان تر دې چې ويلى شو چې د معاصر مدنيت ټول موجود عناصر په امانيه دور كې افغاني ټولنې وليدل. له هغې جملې، عصري ښوونه او روزنه، د قانون حكومت، مواصلات، تيليفون او تلګراف، راديويي خپروني، مطبوعات او په مجموع كې د سياسي استقلال د پخوالي او د اقتصادي، فرهنګي خپلواك د ترلاسه كولو لپاره هڅې.

سره لـه دي، چې د غـازي امـان الله خـان ذهـن د يـوه خپلواکـۍ غوښتـونکي، مشـروطه غوښتـونکي او ديمـوکرات پادشـاه ذهـن و. هغـه د وخـت لـه حـالاتو او شـرايطو څخـه اغېزمن و، چې پـه هغـې کې د لومـړۍ نړيـوالې جګړې پېښـې، د جاپـان خپلـواکي، د تـرکيې او مصـر د پرمختګونـو اغېـزه، پـان اسلاميزم (پـه ننني اخوانيزم) او پخپلـه د نومـوړي د خسـر محمـود بـيګ طـرزي لارښـووني، د اسـتعمار پـر ضـد د افغانسـتان د خلکـو ژوره کرکـه، ټـول دې حرکـت تـه پـه لـوري ورکولو کې اغېزمن وو.

سره لـه دې، چې شـاه امـان الله خـان د افغانسـتان د بهرنـي سياسـت پـه برخـه کې د بـيلانس سـاتل لـه پامـه نـه غورځـول، دغـه راز يـې د ټـولنې لـه محافظـه کـارو او متعصبو قوتونـو سره پـه احتيـاط چلند کـاوه، خو استعمار دغـه جريـان پـه خپلـه ګټـه نـه ليـده، ځکـه خو پـه تنکۍ ځوانـۍ کې خپـه او لـه منځـه لاړ.

## د ماخذونو فهرست:


۱_ غبـار، ميـر غـلام محمـد، افغانسـتان در مسير تـاريخ، کابـل، دولتي مطبعه، کابل، افغانستان.

۲_ جهـانبګلو، رامـين. مدرنيتـه، ديموکراسـی و روشـنفکران، چـاپ

دوم، نشر مرکز، تهران.

3_Dupree, Louis, Afghanistan (Second Printing). Princeton. New Jersey:1978.

4_Gregorian, Vartan. The Emergence of Modern Afghanistan. (Politic Reform and Modernization, 1880_1946). Stanford university Press, Stanford California:1969.

۵_لودویک ادمک (ترجمه پوهاند محمد فاضل صاحبزاده) روابط خارجی افغانستان در نیمه اول قرن بیست. کانون ترجمه اثار جهاد افغان: ۱۳۷۱.

۶_ استاویلسن، اسلام و سیاست در افغانستان (مترجم خلیل الله زمرد) دنمارك: ۱۹۹۹ میلادي.

۷_وکیلي، پوپلزایي. عزیزالدین. سفرهای غازي امان الله شاه... مرکز نشراتی میوند، پیښور: ۱۳۷۹.

۸_ تاریخ معاصر افغانستان از استرداد استقلال تا انقلاب ثور. کابل: بیهقي، سال ۱۳۶۲.

پوهنوال رسول باوري

# په اماني پېر کې د لرغونو څېړنو څرک

په افغانستان کې د لرغونو سیمو د علمي سپړنو د پیل ویاړ هم د نورو تاریخي ویاړنو په څېر د اماني پېر سره تړلی دی. د اعلیحضرت امان الله خان د واکمنۍ پر مهال د لومړي ځل لپاره په هېواد کې د لرغونو سیمو د سپړلو او څېړلو چارې د علمي او کلتوري تړونو پر بنسټ له نړیوالو معیارونو سره سم پیل شوې. ددې ځانګې پوهان په افغانستان کې د لرغونو څېړنو تاریخ په دوو مرحلو وېشي: لومړۍ مرحله په افغانستان کې د سپړنو غیر رسمي دوره او دوهمه یې په هېواد کې د رسمي دورې په نومونو یادې کړې دي.

په افغانستان کې د غیر رسمي سپړنو پېر له پېړیو وړاندې پیل شوی او تر ۱۹۲۱ میلادي کال پورې یې دوام کړی دی. پدې دوره کې د افغانستان بېلابېلې سیمې په بېلابېلو

وختونو کې بېلـه رسمي او قـانوني جـواز څخـه، سپړل شـوي او لـه سـيمو څخـه ترلاسـه شـوي اثـار بهـر او پـه ځـانګړې توګـه اروپـايي هېوادونـو تـه وړل شـوي دي. لـه افغانسـتان څخـه د دا ډول اثـارو وړل هـم پـه دوه ډولـه ترسـره شـوي دي. لومـړي هغـه اثـار، چـې د انتيکـو توکـو پېرودونکـو کسـانو پـه وسـيله وړل شـوي، چـې هغـوی يـوازې د لرغونـو توکـو سـره د يـوه انتيـک پلـورونکي او يـا انتيـك پېرودونکـي پـه توګـه کـار درلـود، چـې لـه بـده مرغـه دا ډول کسـان لاتراوسـه پـه پـوره توګـه نـه دي پېژنـدل شـوي. د غيـر رسـمي دورې پـه تـرخ کـې دوهـم ډول وړل شـوي اثـار لـه نيکـه مرغـه د هغـو څېړونکـو او مسـلکي کسـانو لـه خـوا وړل شـوي دي، چـې پـه اړه يـې ځرګنـدونې او معلومـات شـته. پـه دې برخـه کـې د بېلګـې پـه توګـه د يـو شـمېر هغـو څېړونکيـو يادونـه کـوم، چـې پـه بېلابېلـو وختونـو کـې يـې د افغانسـتان لرغـوني او تـاريخي اثـار پـه بېلابېلـو سـيمو کـې سپړلي او بيـا يـې لـه ځـان سـره وړي دي. پـه دـي لـړ کـې تـر ټولـو وړانـدې د مورکرافـت (Moorcraft)، تربيـك (Terbeek)، کـورت (Court)، چـارليس مسـون (Charls Masson)، هـونيګ برګـر (Honig Berger) او يـو شـمېر نـورو نومونـه يـاد شـوي دي. نومـوړو څېړونکيـو د پـه لاس راغلـو اثـارو پـر بنسـټ ارزښتمـني ليکنـې او خپـرونې کـړي، د بېلګـې پـه توګـه انګليسـي ويلسـن (H.H.Willson) د هغـو اثـارو پـر بنسـټ چـې پـه افغانسـتان کـې يـې ترلاسـه کـړي وو، د (لرغـونې اريانـا) پـه نـوم يـو داسـې اثـر خپـور کـړ، چـې نـه يـوازې د افغانسـتان د لرغونتيـا پـه اړه يـې نړيوالـو تـه د نـوي ليـد زمينـه برابـره کـړه، بلکـې د

راتلونکیو ځپړنو لپاره هم د یو باوري ماخذ په توګه د یو شمېر اړوندانو د ګټې وړ وګرځېد. (حیدري: ۵: ۱۳۶۰).

د افغانستان په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره د لرغونو سیمو د سپړلو او څېړلو په نیت د بهرنیو هېوادونو له څېړونکیو سره په ۱۹۲۲ میلادي کال رسمي تړونونه لاسلیك او د عملي کېدو چارې یې ترسره شوې. ددې علمي هڅو د پلي کېدو لپاره د اماني پېر سیاسي واکمنانو او په ځانګړې توګه د غازي امان الله خان سیاسي او معنوي ملاتړ مرستندوی وګرځېد. له علم او عصري پوهې سره د اعلیحضرت امان اله خان مینه، په هېواد کې د نورو پوهنیزو بهیرونو ترڅنګ د پخواني تاریخ او افغاني کلتور د پوهېدلو وړ چاپیریال منځ ته راوست. د علم او پوهې سره د هغه نوښت ګر پاچا مینه او په عصري علومو د افغاني ځوانانو د روزنې او پالنې سره لېوالتیا یې له هغې وینا څخه ښه څرګندېږي، چې بهر ته د افغاني محصلینو د لېږلو پر وخت یې کړې ده. اعلیحضرت امان الله خان نوموړو محصلینو ته په هغه وینا کې وویل: "دا د خوښۍ ځای دی چې نن موږ د خپل پیغمبر ص د حکم پر بنسټ چې ویلي یې دي (اطلب العلم و لوکان فی سین) عمل کوو او خپل افغان زلمي د زده کړو لپاره بهر ته لېږو. زما شهید پلار مرحوم هم لیکلي وو، چې ترڅو افغانان بهر ته د زده کړو لپاره ولاړ نه شي او له بهره ښوونکي راو ه غوښتل شي، افغانستان به پرمختګ ونه کړي. دا هیله پخوا هم وه، خو اوس دا دی له نېکه مرغه دا هیله پلي کېږي."

اعلیحضرت امان الله خان د خپلې وینا په ترڅ کې زیاته کړې چې: "زه تاسو ته د وروري یو خبره کوم، چې د افغانستان نوم او اسلامي کرامت ته زیان ونه رسوئ، بیله زده کړې بل هیڅ کار ته مخه ونه کړئ، زه تاسو ته مخه ښه وایم او هیله مې ده چې تاسو بېرته خپل هېواد ته له علم او پوهې سره یوځای راشئ او تاسو ووینم که چېرې مړ شوی وم، نو بیا مې هم هیله دا ده چې تاسو هر یو زما د هدیرې سرته راشئ او ماته ووایاست، چې تاسو کومه پوهه او علم زده کړی او اوس یې د خپل هېواد د پرمختګ لپاره کاروئ، زه به هغه وخت په خپل قبر کې ارام او روح به مې هوسا شي." (سویمن: ۱۳۶۸، ۱۹)

د عصري او مدرنې زده کړې سره د اعلیحضرت امان الله خان د بې کچې او زیاتې مینې یوه ځرګنده پایله په افغانستان کې د لرغونو څېړنو او سپړنو پیل وو. د همدې چاپېریال په دننه کې د افغانستان د لرغونو سیمو سپړنې او څېړنې په رسمي توګه پیل شوې. په دې برخه کې تر ټولو وړاندې د افغانستان دولت د بهرنیو چارو وزارت او فرانسوي لرغونپوهانو ترمنځ یو تړون په ۱۹۲۲ میلادي کال لاسلیک شو. (پولادیان:۳۳:۱۹۶۳)

له هغو سیمو څخه، چې د فرانسوي لرغونپوهانو له لوري وسپړل شوې، په زیاته پیمانه تاریخي اسناد او لرغوني توکي ترلاسه شول، چې زموږ د هېواد په تاریخ کې ځرګند او ویاړلی ځای لري. په دې برخه کې د هغو سیمو لنډه یادونه کوم، چې د اماني پېر په لس کلن عمر کې د فرانسوي لرغونپوهانو له

خوا سپړل شوي او څېړل شوي دي، خو د یوه ټکي یادونه اړینه ګڼم، چې د سپړنو او څېړنو چارې په یو شمېر سیمو کې په وقفه یې او په یو شمېر سیمو کې په پرله پسې توګه ترسره شوي دي، ددې ټکي په نظر کې نیولو سره ښایي داسې سیمې هم رایادې شي چې د سپړنو چارې یې په اماني پېر کې پیل شوي، خو په هغه لس کلن پېر کې بشپړې شوې نه دي، په هر ترتیب هڅه دا ده چې لږ تر لږه د هغو سیمو یادونه وشي، چې په اماني پېر کې په پرله پسې توګه تر څېړنو او سپړنو لاندې نیول شدي دي.

## لومړی ـ هډه:

فرانسوي لرغونپوه "ګودار" په ۱۹۲۳ میلادي کال د هډې د سپړنو او څېړنو کار پیل کړ. ددې سپړنو په ترځ کې د هډې بېلابېلې برخې وڅېړل شوې او د سپړنو چارې یې ترسره شوې له نېکه مرغه ددې سپړنو په ترځ کې له "لویې تپې" یا تپه کلان څخه په زرګونو داسې مجسمې ترلاسه شوې، چې د ګندهارا د هنري ښوونځي ځانګړی سبک یې د نړیوالو د لا زیاتې پاملرنې وړ وګرځاوه.

د ښاغلي "ګودار" تر څېړنو وروسته د (برونو) په نوم بل فرانسوي لرغونپوه د هډې په سیمه کې څېړنو او سپړنو ته دوام ورکړ، چې دا سپړنې له ۱۹۲۶ میلادي کال څخه پیل او تر ۱۹۲۸ میلادي کال پورې یې په پرله پسې توګه دوام وموند. ددې سپړنو په ترځ کې داسې ډېرې بودایي مجسمې

ترلاسه شوې، چې د اناتومۍ له مخې پوره او د زیاتې ښکلا لرونکې وې، د زیاتو لرغونپوهانو په رایه د "برنو" په وسیله ترلاسه شوې مجسمې له هغو مجسمو سره سیالي کوي، چې د لرغوني یونان د نامتو مجسمه جوړونکي (لي سیپ) په وسیله جوړې شوي دي. (کهزاد: تاریخچه تحقیقات باستانشناسي در افغانستان اریانا: ۱۳۳۱)

## دوهم ـ بګرام:

د بګرام لرغونې سیمه د لومړي ځل لپاره د فرانسوي لرغونپوه ښاغلي الفرد فوشه له خوا تر څېړنې لاندې ونیول شو، خو د سپړنو چارې په ۱۹۲۵ میلادي کال فرانسوي لرغونپوه ښاغلي (برونو) تر مشرۍ لاندې پیل شوې، خو د ښاغلي برونو د هغو بوختیاوو له امله چې د هېواد په نورو سیمو کې یې درلودې، په بګرام کې د سپړنو چارو پر دوام ونه توانېده په دې ترتیب په بګرام کې د سپړنو چارې ودرېدې او تر څه ناڅه لس کالو پورې د بګرام سیمې په خپل حال پاتې شوې. (کهزاد: بګرام: نشرات انجمن: ۱۳۱۷)

## درېیم ـ پایتاوه:

په ۱۹۲۴ میلادي کال فرانسوي لرغونپوه ښاغلي (ژوزف هاکن) په وسیله د پایتاوي سیمه تر څېړنې او سپړنې لاندې ونیول شوه. ددې سپړنو په ترڅ کې د "ساکا" نومي یوه مجسمه ترلاسه شوه، چې له شیست ډبرې څخه جوړه شوې او لا یې د طلایي پوښ علایم په تن کې لیدل کېدل. د هغو نښانو او

علامو پر بنسټ، چې په نوموړو اثارو کې څرګند وو، په ډاګه شول چې دا اثار په دریيمه میلادي پېړۍ کې جوړ او کارول شوي دي. (عبدالروف ذاکر: تحقیقات در بگرام: باستانشناسي: ۱۳۶۳)

## څلورم ـ بامیان:

فرانسوي لرغونپوه ښاغلي (الفرد فوشه) د افغانستان دولت سره تر تړون وروسته د بامیانو سیمه د خپل کار په لومړنیو کې وشمېرل او په ۱۹۲۲ میلادي کال يې د بامیانو د سیمې سفر وکړ او هلته يې د څېړنو لړۍ پیل کړه. ددې سره سره، چې په بامیانو کې د فوشه لومړنۍ څېړنې د نقشې اخیستلو او عکس نیولو تر بریده رسېدې، خو دا هم د بامیانو د سیمې او په ځانګړې توګه نړېوالو ته د بودايي سترو مجسمو د وروپېژندلو لپاره زیات ارزښت درلود. الفرد فوشه د لومړي ځل لپاره د "په بامیان کې بودايي اثارو ارزښت" تر سرلیك لاندې یو علمي رپوټ ترتیب او خپور کړ، چې د فرانسوي او نورو اروپايي لرغونپوهانو له خوا په زیاتې پاملرنې وارزول شو. تر فوشه وروسته په ۱۹۲۳ او ۱۹۲۴ میلادي کالونو کې د ښاغلي (ګودار) په لارښوونه د بامیانو د سیمې او په ځانګړې توګه د لویو مجسمو او د هغو پر شاوخوا د نورو سمڅو په اړه څېړنې او سپړنې ترسره شوې، خو په بامیانو کې د پرله پسې سپړنو چارې د ۱۹۳۰ میلادي کال وروسته پیل شوې او دوام يې موندلی دی، چې لاس ته راوړنې يې د زیات علمي ارزښت لرونکي دي. (سرهنګ: بامیان از نظر جهان ګردان: علوم اجتماعی: ۱۳۶۵)

## پنځم ـ د نوشیروان لور سیمه:

دا سیمه په ۱۸۴۵ میلادي کال د فرانسوي جنرال (فوریه) له خوا فرانسویانو ته وپېژندل شوې وه، په ۱۹۲۳ میلادي کال د (ژوزف هاکن) له خوا تر څېړنې لاندې ونیول شوه، هغه وخت چې نوموړی له کابل څخه د بلخ په لور د الفرد فوشه د لیدلو په نیت روان شو، د لارې په سر یې د دختر نوشیروان په نوم سیمه ولیدله او په دې سیمه کې د هغو تصویرونو او نقاشیو په اړه یې زیات ارزښتمن معلومات ترتیب او خپاره کړل. دا تصویرونه، چې د غرونو پر لویو پربنو او ډبرو حك او لیکل شوي وو، د هر سیلاني د پام وړ ګرځېدل، له هغه وروسته چې ښاغلي ژوزف هاکن ددې تصویرونو په اړه لیکنې وکړې بیا نو د هغو ارزښت لا زیات وبرېښېده. د نوموړي د څېړنو پر بنسټ دا تصویرونه د زردشتي پېر اثار ګڼل شوي دي. (هاکن: عملیات ده ساله در افغانستان: مترجم کهزاد: ۱۳۱۳)

## شپږم ـ غزني:

په غزني کې د فرانسوي لرغونپوهانو څېړنې په ۱۹۲۳ میلادي کال پیل شوې. ددې څېړنو په ترڅ کې یې د غزني ښار یو شمېر تاریخي ودانۍ او د غزنوي پېر د پاچاهانو ماڼۍ او بڼونه تفکیك او راجستر کړل، ددې سره سره چې په غزني د څېړنو زیاته برخه د ایټالوي لرغونپوهانو په زیار ترسره شوې ده، ولې د فرانسوي لرغونپوهانو د څېړنو پر بنسټ د ښاغلي (اندري ګودار) په نوښت یو نامتو نړیوال سیمینار په ۱۹۲۹

میلادي کال د فرانسې د ګیمې په موزیم کې د (غزني، هډې او بامیانو تاریخي اثار) تر نوم لاندې وړاندې کړ. په دې ترتیب یې د نوموړو اثارو نړیوال ارزښت زیات کړ. (معتمدي: دوره های قبل التاریخ افغانستان: اریانا ۱۳۵۴)

## اووم ـ بلخ:

بلخ چې لاپخوا د ام البلاد په نوم شهرت ګټلی و، په لومړي سر د فرانسوي لرغونپوهانو د پاملرنې وړ وګرځېد. د همدې زیاتې پاملرنې په وجه وو، چې د فرانسوي لرغونپوهانو د ټیم مشر د ۱۹۲۳ میلادي کال راوروسته په پرله پسې توګه د ۱۸ میاشتو لپاره په بلخ کې د څېړنو او سپړنو په نیت پاتې شو. نوموړي د بلخ ښار بېلابېلې برخې او په ځانګړي توګه د بلخ بالاحصار تر پرله پسې سپړنو لاندې راوست. په ۱۹۲۴ میلادي کال ښاغلي ژوزف هاکن هم له فوشه سره ملګری او د بلخ بېلابېلې سیمې او له هغه جملې بالاحصار، د زرګرانو تپه، د باباقو دروازه او یو شمېر نورو سیمو څېړنې او سپړنې ترسه کړې. (کهزاد: ګزارش چهل ساله: ۱۳۳۷)

## اتم ـ د بانو ښار:

په تاشقرغان کې د (شهربانو) په نوم یوه لرغوني سیمه د فرانسوي لرغونپوهانو له خوا په ۱۹۲۴ میلادي کال کې وڅېړل شوه. ددې څېړنو مشري د ښاغلي ژوزف هاکن په غاړه وه. له دې سیمې څخه د بودایي پېر زیات شمېر اثار ترلاسه شول، د همدې اثارو پیدا ایښت ددې لامل وګرځېد، چې د

سپړنو لړۍ د ایبك ښار ته هم وغزېږي. د فرانسوي لرغونپوهانو هغه لاس ته راوړنې او علمي معلومات، چې د بانو ښار او هم له ایبك ښار څخه یې ترلاسه کړي وو، په ۱۹۲۴ میلادي کال په اسایي مجله کې د ښاغلي هاکن له خوا (د ایبك لرغوني اثار) په نوم خپاره شول او په دې ترتیب یې د زیاتو لرغونپوهانو پام ددې اثارو ارزښت ته واړاوه.
(هاکن:عملیات ده ساله حفاري در افغانستان: مترجم: کهزاد:۱۳۱۳)

لنډه دا چې د اماني پېر د لرغونو څېړنو په لړ کې دا یادې شوې سیمې هغه بېلګې دي، چې د هغه پېر په لسو کالونو کې سپړل شوي او څېړل شوي دي. ددې وینا اړتیا وینم، چې د یادو شویو سیمو د څېړنو او سپړنو ارزښت یوازې په دې کې پټ نه دی، چې د فرانسوي لرغونپوهانو له خوا ترسره شوي دي، بلکې ددې څېړنو ارزښت په دې کې هم دی، چې د هېواد په تاریخ د لومړي ځل لپاره په رسمي توګه د افغانستان د لرغونو سیمو سپړنه او څېړنه پیل شوه او بل دا چې ټول هغه اثار او لرغوني توکي، چې د فرانسوي لرغونپوهانو په زیار رابرسېره شوي او د لاسلیك شوي تړون پر بنسټ یو شمېر یې فرانسې هېواد ته لېږل شوي، د هغه هېواد په موزیمونو کې د افغانستان د اثارو په نوم ثبت او راجستر شوي دي.

ددې علمي څېړنو او سپړنو په اړوند د اماني پېر یوه بله ارزښتمنه لاس ته راوړنه په رسمي توګه د ملي موزیم پرانستل دي. د اعلیحضرت امان الله خان د ځانګړې پاملرنې پر بنسټ د ارګ په کوټې باغچې نومي ماڼۍ کې د هېواد ملي موزیم

په رسمي توګه د نوموړي نوښت ګر واکمن له خوا پرانستل شو. د امان افغان ورځپاڼه ددې مراسمو پوره تفصيل خپور کړی، چې په يوه برخه کې داسې ليکي: د اعليحضرت غازي د پوهې او هېواد له پرمختګ سره د مينې او پالنې په لار کې دا دی د ښوونې وزارت تر مشرۍ لاندې يو ډېر ښه موزيم د ۱۳۰۳ لمريز کال د لړم مياشتې ۲۵مه د ماسپښين پر درېو بجو د کوټې باغچې په ماڼۍ کې پرانستل شو. د پرانستلو ورانډې د ښوونې وزير ښاغلي فيض محمد خان د ښه راغلاست، وينا واورولـه او بيا د بهرنيو چارو وزير ښاغلي محمود بيګ خان او يو شمېر نور رابلل شويو وزيرانو د موزيم په اړه خبرې وکړې، تر هغه وروسته د ماسپښين پر درېو بجو اعليحضرت غازي د کوټې باغچې موزيم پرانېستی. په موزيم کې زيات شمېر هغه اثار، چې په هېواد کې د لرغونپوهانو د وروستيو سپړنو او څېړنو څخه ترلاسه شوي، ننداري ته کښېښودل شو او ورسره زيات شمېر هغه اثار هم شته، چې د تحفې په توګه موزيم ته ورکړل شوي دي." او د پای ټکی دا چې په افغانستان کې د لرغونپوهنې د علمي بهير د پيل او پراختيا وياړ د نورو زياتو تاريخي وياړنو په څېر د اماني پېر په برخه دی.

## اخځونه د الفبا په ترتیب:


۱_ باوري، رسول. باستانشناسي افغانستان. (کابل: پوهنتون کابل) ۱۳۶۳.
۲_ حیدري، زلمی. باستانشناسي چیست و چگونه در افغانستان به وجود آمد. باستانشناس افغانستان. (کابل: مطبعه دولتي) ۱۳۶۰.
ذاکر، عبدالروف. (تحقیقات در بگرام" باستانشناسي افغانستان.(کابل: مطبعه دولتي) ۱۳۶۳.
۴_سرهنگ، پاینده محمد. "بامیان از نظر جهان گردان" اجتماعی علوم. (کابل: پوهنتون کابل) ۱۳۶۵.
۵_سویمن: نصرالله. نطق های اعلیحضرت امان الله خان غازی. اکادمی علوم. ۱۳۶۸.
۶_کهزاد، احمد علي. "تاریخچه تحقیقات باستانشناسي در افغانسـتان" اریانا. ۱۳۳۱.
۷_کهزاد، احمد علي. گزارش چهل ساله تحقیقات باستانشناسي در افغانستان" سالنامه کابل.۱۳۳۷
۸_معتمدی، احمد علی. (دوره های ما قبل التاریخ افغانستان). اریانا. ۱۳۵۴.
۹_هاکن، ژوزیف. عملیات دهساله تحقیقات باستانشناسي در افغانستان. مترجم کهزاد: (کابل: مطبعه دولتی)۱۳۱۳.

محمد معصوم هوتک

# اماني عصر او لويې جرگې

ماته ددغې درنې غونډې د جوړوونکو له خوا په اماني عصر کې د لويو جرگو د څېړنې وظيفه راکول شوې ده. زه به دمخه تر دې چې پخپل اصل مطلب ورننوزم، يو څه به د غازي امير امان الله خان په باب ورغږېږم. د هند د لويې وچې مسلمانانو د امير امان الله خان په باب ويلي وو:

چو مسلم علم دين ورزيد امام فخر رازی شد
ولی چون در عمل کوشيد امان الله غازی شد.

دغې مقايسې ته لږ څه غور په کار دی. غازي امير امان الله خان او د شافعي مذهب ستر امام حضرت امام فخرالدين رازي(رح) د علم او عمل پر مقياس په يوه ليکه کې درول شوي دي. دا کومه وړه خبره نه ده. امام فخر رازي(رح) (۵۴۴_۶۰۶هـ ق) يو له هغو سترو اسلامي علماوو او حکماوو څخه و، چې وايي دده د تدريس په حوزه کې به څه دپاسه دوه زره تنه دانشمندان د علمي استفادې لپاره کښېنستل او دده له محضره به يې فيض ووړ. ان تر دې چې د آس د سپارلۍ په وخت کې به هم نژدې درې سوه تنه فقها او شاگردان د

استفادې په غرض په رکاب کې ورسره تلل. ده په هر علم کې معتبر او مشهور تصانیف درلودل او آثارو یې دده په ژوند کې د درسي کتابو شکل غوره کړی و او تدریسېدل به. د اسلامي مشاهیرو په تذکرو کې دده د مشهورو او معتبرو څو ټوکیزو کتابو شمېر تر څلوېښتو زیات ښودل شوی دی او په هغو کې داسې آثار هم شته، چې د بوعلي سینا لیکنې پکې نقد شوي دي. ځینې آثار یې په قاهره او استانبول کې څو څو واره چاپ شوي دي. لکه وړاندې چې اشاره ورته وشوه، امام فخر رازي د شافعي مذهب پیرو، په ختمه قریش و په هرات کې اوسېده او هورې ښخ دی. په پارسي یې استادانه نظم و نثر کیښ(١). سلطان غیاث الدین محمد بن سام غوري امام فخر رازي صاحب ته ډېر درناوی درلود او د هرات "آدینه مسجد" یې دده لپاره ودان کړ. امام به د جمعې په ورځ هلته مسلمانانو ته نصیحت کاوه. وایي حضرت امام د مړینې پر وخت دا لاندې څلوریزه ویلې وه:

هرگز دل من ز علم محروم نشد
کم ماند ز اسرار که معلوم نشد
هفتاد و دو علم درس خواندم شب و روز
معلومم شد که هیچ معلوم نشد(٢)

له دغه راز ستر شخصیت سره د غازي امان الله خان پرتلنه د هغې ارادتمندۍ ځرگندویه ده، چې نوموړي غازي په اسلامي امت کې گټلې وه.

د تاریخ په کتابو کې غازي امان الله خان ته چا د

اعلیحضرت امان الله خان، چا د امیر امان الله خان او چا د امان الله شاه خطاب کړی دی. ده پخپل لاسلیك کې تل "امیر امان الله" کینبن. د ۱۳۰۳ ش کال د پغمان په لویه جرګه کې، چې تفصیل به يې وروسته راشي، د جرګې غړو ورته دده د سترو خدمتونو له امله یو نښان، یو توپك او یوه توره د سوغات په توګه وړاندې کړه او هم يې څنې وغوښتل، چې له دې وروسته دې د غازي امان الله پرځای (غازي امیر المومنین ټولواك امان الله) وبلل شي او لقب دې يې (سیف الملت والدین) وي. د جرګې غړو دغه وړاندیزونه په ډېرو سترو ولولو او هیجاني جذباتو استقبال کړل. غازي امیر امان الله خان د ملت ددغې قدردانۍ په وړاندې په ژړاندو سترګو وینا وکړه، چې د هغې یوه برخه زه په دې نیامت دلته رانقلوم، چې یو خو به ددغه پر هېواد او ملت مین پاچا د ملي شخصیت څرګندونه شوې وي او له بلې خوا به ننني او وروستنيو واکمنو ته د ملي زعامت یوه بېلګه ښوول شوې وي او پرځنګ به يې دا خبره هم واضح شوې وي، چې دغه غازي ټولواك د څان لپاره کوم نوم خوښ کړی و. امیر امان الله خان داسې ویلي و:

ز دشت بیخودی می آیم از وضع ادب دورم
جنونی گر کنم ای صاحبان عقل، معذورم.

والله بالله مطلبم بجز از ترقیات شما دیگر چیزی نیست! و باز خدا شاهد، است بجز اینکه حیات خود را، زندگانی خود را، سلطنت خود را فدای شما ملت اسلام بگردانم، دیگر آرزوي ندارم و این خدماتی را که درین شش سال نموده و

مینمایم، نه تنها برای افغانستان بلکه نقطهء نظرم خدمت عالم اسلام و خوشنودی خدا و رسول الله است که هیچیک لحظه از خدمت تان بازنمانده ام و باز نخواهم ماند و عهد میکنم تا یک قطره خونی که داشته باشم بجز از بهبودی و رفاه شما آنرا دیگر جای مصرف نمیکنم... در اول سلطنت من نیز بقبول نمودن شمس الملت والدین، سیف الملت والدین تکلیف شدم. گفتم که قبول کرده نمیتوانم. خدمت شما صادقانه عرض میکنم که (امان الله) خدمتگار شما و خادم اسلام است و خیلی آرزو دارم تا آخر عمر خود بنام (بندهء عاجزالله) یاد شوم و در خاک (الله _ الله) گفته بروم. تنها این لقب غازی را که خدا بمن عطا و ارزانی فرموده است، کفایت میکند... آنچه در باب امیر المومنین غازی امان الله تولواک فرمودید، خوب میدانم که در افغانی تولواک کل اختیار را میگویند. هر وقت که زبان افغانی بهمهء نقاط افغانستان و در بین مامورین ما رواج یافت، البته خودم نیز بقبول کردن آن حاضرم... حالا شما مختارید که این خادم اسلام را (امیر میگویید یا (امیرالمجاهدین) یا (امیر غازی) یا (خادم اسلام) میخوانید... این همه از محبت شماست... بخیال من اگر مرا (امیر امان الله) بگویید، خوب است..."([3]) له دې اوږده اقتباسه به د نورو خبرو په څنګ کې دا مطلب هم څرګند شوی وي، چې ده پخپله ځان ته د "امیر امان الله" نوم غوره کړی و([4]) خو په دغه وخت کې یې هم په لاسلیك کې "امیر امان الله" لیدل شوي دي. د همدې دلایلو پر بنسټ ما پخپله دغه لیکنه کې

"امیر امان الله خان" یا "غازي امان الله خان" بللی دی. تر دې ځرګندونو وروسته به خپل اصل مطلب ته راشم او هغه د جرګو، لویو جرګو او د اماني عصر د جرګو په باب اجمالي څېړنه ده.

## د جرګو تاریخي پس منظر

### جرګه او لویه جرګه:

جرګه د پښتني ټولنې لرغونی دود دی. په جرګو کې معمولاً د پښتنو (افغانانو) ډېر مهم قومي او ملي مسایل او د قوم یا ملت د زعامت ټاکلو موضوع څېړل کېږي. جرګه ځانته مشخص اصول او ضوابط لري. د افغانستان په معاصر تاریخ کې موږ له دوو ډولو جرګو سره مخامخ کېږو. یو یې هغه جرګې دي، چې د هېواد زعامتونه یې ټاکلي دي او بل هغه دي، چې زعامتونو د ټاکلو مسایلو د حل و فصل لپاره رابللې وي. د جرګو اهمیت د هغو د فیصلو له مخې ځرګندېدلای شي. که یې فیصلې د ملت په ګټه وې هغه جرګې ملي جرګې دي او که نه وې، نو باید د هېواد په تاریخ کې د معینو سیاسي غونډو په ردیف کې مطالعه شي. د جرګو د ایجاد زمانه لرغوني اریایي دور ته رسېږي. ویل کېږي، چې لرغونو اریایانو د Sabha او Simathy په نامه جرګې درلودې. د اکاډمیسن پوهاند رشاد صاحب په قول د لرغوني افغانستان ډېره پخوانۍ معلومه جرګه د کنیشکا د زمانې ده، چې له نن څخه اتلس سوه کاله وړاندې جوړه شوې وه.(5) له دې جرګې څخه،

چې پوهاند صاحب د "بودايي دين د عالمانو لويه جرګه" بللې ده، مراد د بودايي دين د عالمانو هغه پنځه سوه کسيزه غونډه ده، چې د کنيشکا په حکم د ګندهارا د ستر عالم او د بودايي دين د اووم پېشوا وشواميتره په مشرۍ په يوه روايت په پېښور او په بل روايت د کشمير په سرينګر کې جوړه شوې وه او په هغې کې د زاړه بودايي دين "هينه يانه" پرځای نوی بودايي دين "مهايانه" رامنځ ته شو. دا غونډه يا جرګه د بودايي دين څلورمه جرګه بلل شوې ده. ددغه دين لومړۍ جرګه به غالباً د بودا په ژوند کې جوړه شوې وي، خو دوهمه يې د بودا تر مړينې وروسته (۴۸۳ق م) په باجاګره کې جوړه شوه او په هغې کې ددغه دين درو تنو حواريونو (اانده، يوپالی، کاسياپه) برخه اخيستې وه او د بودايي دين د قوانينو مجموعه يې تدوين کړه. دريمه جرګه د اشوکا په قيادت جوړه شوې وه او په هغې کې ددغه دين مذهبي لارښوونې سره تنظيم او ترتيب شوې او فيصله وشوه، چې بودايي مبلغين دې د نړۍ ليرو هېوادو ته ولېږل شي.(۶) دې جرګو يا غونډو مذهبي بڼه درلوده او د مذهبي موضوعګانو د څېړنې لپاره رابلل شوې وې. کله چې موږ ددغه دود پر قدامت ږغېږو، نو ددغو جرګو يادونه د مثال لپاره راوړلای شو. خو کله چې د جرګو پر سياسي او ملي اهميت خبرې کېږي، نو بيا زموږ مخې ته د حاجي ميرويس نيکه په مشرۍ رابلل شوې جرګې او د لوی احمدشاه بابا د تاجپوشۍ جرګه راځي. افغانستان ته د اسلام د مبين دين په راتګ سره د پښتنو دغه لرغوني دود د اسلامي

آیین تایید او ملاتړ هم وګاټه. د "وشاورهم في الامر" استناد جرګو ته د الهي امر او قانون بڼه ورکړه. د جرګو دود د افغانستان په راوروسته تاریخ کې د شاهانو له خوا پالل شوی دی، خو د هغو په شکل او محتوا کې د زماني په تېرېدو سره بدلونونه راغلي دي او د بدلونونو دا بهیر به همداسې روان وي، چې تفصیل به یې وروسته راوړم.

د جرګې کلمه په پښتو او پارسي ژبو کې مروجه ژوندۍ کلمه ده او ددغو ژبو د خپل مال په توګه کارېږي. له غیاث اللغات پرته، چې جرګه یې تورکي کلمه بللې ده، نورو ټولو مروجو قاموسو ددې کلمې د منشا په باب څه نه دي ویلي. پارسي قاموسو په "صف و حلقه،دسته، ګروه، عده ای از مردم که دور هم جمع شوند، عده ای سپاهی یا شکارچی که در صحرا شکار را محاصره کنند..." معنا کړې ده. سید راحت زاخیلي په لغات افغاني کې یې ورته کښلي دي "وه لوګ جو پنچایت کی لیی مقرر هوتی هین" ترجمه:(هغه خلك چې د پرېکړو یا مشورو لپاره ټاکل شوې وي).

وزیر محمد ګل خان مومند په پښتو سیند کې یې راوړي دي:"هیاتی یا جمعیتی که برای مذاکره در یك خصوص فراهم آید، مجلس، جمعیت، انجمن. علاوه بر آن هیات رسمیهء که در تحت ریاست یکنفر بجهت مذاکره در امور مملکت و ملت یا امور متعلق دولت و حکومت یکجا ګرد آیند، نیز اطلاق میشود. قومی جرګه=مجلس قومی، د پښتو جرګه=جرګهء افغانی که فیصلهء آن بر اساس اصول و قوانین ملی افغانی

باشد، سیاسی جرګه=مجلس سیاسی، د معارف جرګه=انجمن معارف."

میا بهادر شاه کاکاخېل په ظفراللغات کې وايي: "جرګه: د مشورې مجلس، مجلس مشاورت، ټولی، ګروه. جرګه په پښتو کښې ډېر اهمیت لري. ددې ځان له اصول دي. جرګه یا په حجره کښې او یا په جمات کښې راغونډېږي. د جرګې حکم هر څوك مني او مخالفت ترې نه کوي. څوك چې د جرګې مخالفت اوکړي، هغه ته د قام له خوا نه سزا ورکولی شي. دغې سزا ته ناغه وايي. جرګه د پښتونولۍ یو لوی اساس دی. لکه چې خوشحال خان وايي:

بې جرګې نه به هېڅ کار په لاس وانخلي
چې خبر وي د جرګې په برکت"

خو "لویه جرګه" هغو قاموسو نه ده راوړې، چې تر اماني عصر وړاندې تدوین شوي دي. تر دغه عصر وروسته لیکل شوو قاموسو راوړې ده. پښتو سیند یې په "مجلس بزرګ فوق العاده، بجای کلمهء کنفرانس که اصطلاح فرنګ است نیز استعمال میګردد..." معنا کوي. ظفراللغات د "مرکزي پارلمنټ، تمام ملك کې منتخب نمایندو پر مشتمل مجلس" معنا ورته کښلې ده.

د "جرګه ...ای بزرګ ملی افغانستان" لیکوال ښاغلي محمد علم فیض زاد لویه جرګه د "لوی جرګه" په بڼه ثبت کړې او په دې برخه کې یې عجیبه شانته فتوا صادره کړې ده. دی لیکي: "کلمهء لوی در پشتو به معنی بزرګ است. در متون

پښتو چون کلمهء جرګه که بعد از لوی می آید، مونث می باشد لذا لویه جرګه تحریر میشود. چون در تحریر دری مونث و مذکر مستعمل نیست و این متن به دری تحریر میشود لذا لوی جرګه تحریر ګردید."(۷) خو "ستره محکمه" يې بیا د خپلې فتوا برخلاف د خپل کتاب په دري متن کې "ستر محکمه" نه ده لیکلې! د اماني عصر د لویو جرګو په فرمانو او اسنادو کې، چې په فارسي (دري) لیکل شوي دي، هم "لویه جرګه" بلل شوې ده، نه "لوی جرګه".

لویه جرګه یو مرکب توصیفي پښتو نوم دی او د پښتو ژبې د صفت او موصوف له قانون سره سم تړل شوی دی، ځکه نو باید په پارسي (دري) لیکنو کې په هم دې بڼه ولیکل شي.(۸) د ښاغلي محمد علم فیض زاد د کتاب په سریزه (الف مخ) کې، چې د اروابناد استاد خلیل الله خان خلیلي په قلم لیکل شوې ده، لویه جرګه "مقلوب توصیفي ترکیب" بلل شوی دی. د استاد مرحوم نظر ته له درناوي سره سره باید ووایم، چې که د "مقلوب" پرځای "مغیره" راغلی وای، ښه به و، ځکه مقلوب ترکیب هغه ترکیب ته ویل کېږي، چې د مرکب د اجزاوو ځایونه سره وړاندې وروسته شوي وي. په مثال کې يې مقلوب اضافي ترکیب راوړلای شو. په دغه ترکیب کې د مضاف او مضاف الیه ځایونه سره لاندې باندې شوي دي. لکه "ژبه د پښتو" چې یو مقلوب اضافي ترکیب دی او سمه بڼه يې "د پښتو ژبه" ده. په "لویه جرګه" کې "لویه" د "لوی" مغیره شکل دی، چې د پښتو ژبې د صفت او موصوف د قانون له مخې يې

په بڼه کې د موصوف ښځينه توب اغېزه کړې ده او د "لويه" په شکل يې پکې بدلون راوستی دی.

لکه وړاندې چې اشاره ورته وشوه، د "لويې جرګې" کلمه له اماني عصر وروسته دود شوې ده. د ميرويس نيکه په مشرۍ، چې د ظالم صفوي حکمران ګرګين د له منځه وړلو او له صفوي حاکميت څخه د هېواد د خپلواك کولو لپاره د کندهار په کوکران او مانجه کې کومې جرګې جوړې شوې دي، د هماغه وخت په تاريخي اسنادو کې چې شمېر يې بيخي پر (نيست) حساب دی، د "لويو جرګو" په نامه نه دي بلل شوي. د ريدي خان مومند "محمود نامه" يوازينی داخلي سند دی، چې موږ ته د پټې خَزانې پر لاس رارسېدلی او ددغو جريانا تو يو کلي تصوير او په دغو جرګو کې د برخه والو نومونه يې راکړي دي. هورې لولو:

*حاجي مير خان وکا تدبير مصلحت*
*پښتانه ټول سول په ناموس او په پت*
*ټولو قرآن وکا چې ځان کا خوندي*
*له جور و ظلمه د ظالم ارمني*
*سيدال ناصر او بابوجان و بابی*
*بل بادر خان و د بادرو لمسی*
*مياجي هم راغی د مر خان په کومك*
*يوسف راټول کړله د سيوري هوتك*
*عزيز نورزی د دلارام پهلوان*
*ګلخان بابړ و و بل و نور پهلوان*

راغـــی نصــرو و الکـــوزي د جلـــدك
کـــا یـــې ځوانـــانو د لښکـــرو کومـــك
بل یحیی خان و بل یې زوی محمد خان
ټول سره یو سول چې کړې مر ګرګین خان.

(پټه خزانه، عکسي چاپ، ۷۷مخ)

د عبدالغفار هوتـك بیـان کـه څـه ډېـر مختصـر دی، خـو بیـا هـم ددغه روایت ملاتړ کوي. دی وایي:

نـــور یـــې وکـــا مصـــلحت
راځـــئ جـنـګ کـړئ پـه عـزت
نـــور یـــې ټـول کـړه مشـــران
همـــــه واړه عزیـــــــزان
دویـــه ټـول پـه مصـلحت شـوه
و کفـــار تـــه پـــه غیـــرت شـــوه
لـه کفـارو بـه مـوږ جـنـګ کـړو
چې خپـل ځان پـه وینـو رنـګ کـړو
یـــا بـــه مـــوږه شـــهیدان شـــو
یـــا بـــه پاتـــه پـــه امـــان شـــو.(۹)

پـــه دې دواړو معتبـــرو داخلـــي ماخـذو کـــې د مشـــرانو د راټولېـدو خبـره شـوې ده، چې مـراد یـې هماغـه سـره جرګـه کېـدل دي، خو په خاصه توګه یې د "لویې جرګې" په نامه نه ده بللې.

د لـوی احمـد شـاه بابـا د تاجپوشـۍ جرګـه یـا د شـېر سـرخ د زیـارت جرګـه هـم د هماغـه وخـت پـه لیکـل شـوو تـاریخو کـې "لویـه جرګـه" نـه ده بلـل شـوې. د احمـد شـاهي عصـر فاضـل مـورخ

محمودالحسیني، چې خپل کتاب (تاریخ احمد شاهي) یې د لوی احمد شاه بابا په لاربنوونه او د هغه تر مستقیم نظر لاندې کښلی دی، دغې جرګې ته د "مجمع عام" یا "جشن جلوس" نومونه راوړي دي.(۱۰) تاریخ سلطاني، چې د لوی احمد شاه تر وفات تقریباً سل کاله وروسته لیکل شوی دی، د شېرسرخ غونډې ته د "مجلس مشاورت" نوم ورکړی دی.(۱۱) تاج التواریخ بیا دا غونډه د "مجلس شورایی" په نامه بللې ده.(۱۲)

د امیر شېر علي خان د پاچاهۍ په دوران کې د شهزاده عبدالله جان د ولیعهدۍ له امله چې کومه جرګه په ۱۲۴۴ ش کال د دوو زرو تنو په ګډون د کابل ښار د مرنجان په غونډۍ کې راغونډه شوې وه، د هغه وخت د رسمي جریدې شمس النهار په استناد "جرګهء کبیر ملی" نومول شوې وه(۱۳). خو د امیر پخپله "وعظ نامه" کې، چې د قاضي محمد امین پېښوري له خوا ولوستل شوه، دغه غونډه (جلسهء بزرګ) بلل شوې وه. دا نومونه ټول د "لویې جرګې نامه ته د معنا او مفهوم په لحاظ ورته نومونه دي، خو په مشخصه توګه د "لویې جرګې" پښتو ترکیب د اماني عصر نوبت او بریا ده. ددغه نامه په ټاکنه کې ماته د "پښتو مرکې" لاربنوونه دخیله ښکاري.

## د اماني عصر لویې جرګې:

امیر امان الله خان د خپل خسر او سیاسي لاربنود علامه محمود طرزي له خوا د مدنیت له ارزښتونو سره اشنا شوی او

د مشروطیت سیاسي خوځښت ته دهمده له خوا تشویق شوی و. که څوك په سراج الاخبار کې د علامه محمود طرزي پر لیکنو او تبصرو او څېړنو باندې غور وکړي، ورته څرګندېږي، چې علامه مرحوم سره له دې چې پښتنو د ژوند و ژواك پر زیاترو اړخو باندې کلك انتقادونه کوي، هغوی ښوونې او روزنې ته رابولي، د مدنیت او ترقۍ په ګټو یې خبروي خو پرڅنګ یې پردې خبره هم ټینګار کوي، چې مدني ارزښتونه باید له افغاني دود و دستور سره واخښل شي. کله چې امیر امان الله خان د افغانستان پر تخت کښېناست او د هیواد د مدني کولو او د مشروطیت د هدفونو د پلي کولو لپاره عملي اقدامات پیل شول او د قوانینو د جوړولو او تعمیلولو اړتیا منځ ته راغله، نو ورسره سم د یوه داسې قانون ساز سازمان ضرورت هم احساس شو، چې په مدني نړۍ کې د "موسسان مجلس" په نامه یادېده. ددغې اړتیا د پوره کولو لپاره یې له پښتني جرګې څخه د یوې عالي موسسې په توګه کار واخیست او هغې جرګې ته یې، چې ددغه مقصد لپاره باید راوبلل شي، د "لویې جرګې" نوم ورکړ. د جرګې دود زموږ خپل و خو د هغو شکلي نظم و ترتیب د اروپایي پارلمانو په بڼه وټاکل شو.

د اماني خوځښت لومړۍ لویه جرګه د امیر امان الله خان د پاچاهۍ په څلورم کال یعنې د ۱۳۰۱ش کال د کب د میاشتې پر اوومه د یکشنبې په ورځ د ۸۷۲ استازو په ګډون د امیر په حضور کې په جلال آباد کې جوړه شوه او په هغې کې د

افغانستان اساسي قانون تصويب شو. دغه اساسي قانون د ۱۳۰۲ش کال د غبرګولي په مياشت کې چاپ او خپور شو[۱۴] څرنګه چې جرګه د ژمي په موسم کې رابلل شوې وه، ځکه نو په هغې کې د افغانستان د ټولو ولايتو استازو برخه نه وه اخيستې او يوازې له کابل او شاوخوا څخه او دغه راز له ننګرهار، لغمان او کونړ استازو، چې په هغه وخت کې د رسمي تشکيلاتو له مخې د "مشرقي" په نامه يادېدل، ګډون کړی و. د ولاياتو نمايندګي هغو وکيلانو وکړه، چې د دولتي شورا په مجلس کې يې غړيتوب درلود او په کابل کې اوسېدل. په جرګه کې فيصله وشوه، چې راتلونکې لويې جرګې دې په مناسب موسم کې د کابل په ښار کې چې " د افغانستان پايتخت او وسطي نقطه ده" جوړې شي[۱۵]. ددې جرګې رابللو د افغانستان د راتلونکو لويو جرګو لپاره يو راز نوی تاداو کښېښود. دا دود تر ننه پورې د ځينو معلوم الحالو افرادو او حلقو له مخالفت سره سره پالل کېږي او په نړۍ کې وروستيو بېخکې بدلونونو خو د "لويې جرګې" کلمه د نړۍ په ټولو خلکو وپېژندله او يا که دقيقه خبره وشي، نو لږ تر لږه خو د نړۍ په مطبوعاتو کې په ټولو ژوندیو ژبو کې د دخيلې کليمې په توګه خپره شوه. د جلال آباد ددغې لويې جرګې بشپړ جريان ثبت شوی نه دی، ځکه نو زه نور څه نه شم پر ويلای، خو تر دې وروسته چې کومه لويه جرګه په پغمان کې راوبلل شوه (۱۳۰۳ش) د هغې بشپړ تفصيلي راپور د يوه کتاب په شکل خپور شو دی، چې وبه يې څېړو.

## د پغمان لويه جرګه:

د جلال آباد د لويي جرګې په تعقيب امير امان الله خان د پغمان لويه جرګه راوبلله، چې د ۱۳۰۳ ش کال د چونګاښ له شلمې نېټې څخه د همدغه کال د زمري تر نهمې نېټې پورې يې دوام وکړ. ددغې جرګې پيل د پنجشنبې په ورځ و او دغه راز د پنجشنبې په ورځ پای ته ورسېده. د جرګې د زياترو غونډو مشري پخپله امير پر غاړه اخيستې وه. ددغې لويې جرګې تر پيل کېدو وړاندې د امير امان الله خان په لاسليك د ملت په نامه په پارسي ژبه يو اعلان خپور شو او په هغه کې د جرګې او مشورې د اهميت بيانولو په ترڅ کې داسې ويل شوي وو:

"... علاوتاً از چندی است که درين مورد مقصد ديگر بخاطرم می پرورانم که تشکيل يک مجلس (لويه جرگه) است که بايد لااقل در سال يکدفعه علی العموم و کلا و نمايندگان کلان شوندگان قومی و علمای ملت در ان مجلس اجتماع نموده همهء مسايل مهمه و افکاريکه در تعالی و ترقی مملکت خويش مدنظر داشته باشم مواجهتا بالمشاوره تصويب آراء تصفيه دهيم و بعد از استصواب مجلس مذکور در معرض اجرا گذاريم..."([۱۶]) دغه راز يې د لويې جرګې د استازو په نامه بېل بېل فرمانونه لېږلي وو. د جرګې د پرانېستلو مراسم د لوی اختر تر لمانځه وروسته، چې د کابل ښار په عيدګاه کې د امير امان الله خان په امامت وشو، د ارګ د سلام خانې په ماڼۍ کې سرته ورسېدل او امير خپله

وینا استازو تـه واورولـه. ددغې وینا پـه یـوه برخـه کې استازي و آزادو او لـه بیـري و واهمـې پرتـه وینـاوو تـه داسـې رابللـي وو: "...چیزیرا کـه دریـن روز افتتـاح بشـما ملت معـروض میـدارم و شـما را بطـور یاداشت میگـویم همـین است آنچـه بفکـر شـما بـرای بهبـودی ملت و ترقـی مملکت تـان بهـم رسـد محضا بـرای خـدا بگوییـد و بغیـر اظهـار افکـار حقیقـی خـویش لحـاظ و خـاطرداری هـیچ یکـی را نکنیـد، کـه فـلان کس اینطـور گفتـه مـن هـم بایـد چنـین گـویم! نـی! هـر کـدام تـان خودهـا را وکیـل قـوم و کفیـل مهمـات عمـوم پنداشـتـه فقـط رضـای ایـزدی و رفـاه و آسایش عمـومی را مـد نظـر گرفتـه آنچـه بفکـر تـان برسـد حقانـه بگوییـد، زیـرا کـه اگـر قـوم مـا بـه آسـایش باشـد خـود مـا نیـز آسوده حـالیم. چنانچـه افغانـان در مثـل میگوینـد (چـه خان یې پـه یـاران یې) بلـی! اگـر خـدا ناخواسـتـه قـوم مـا غریـب، بیکـار، بـی علـم، پریشـان، نـاتوان باشـد ضـرور مـا هـم پریشـان هسـتیم. بنـا بـرین محـض استرضـای خداونـد آنچـه دران فایـدهء عمـوم باشـد آزادانـه در مجلـس بیـان نماییـد..."([۲۷]) د سـلام خـانې مانـۍ تـر مراسـمو وروسـتـه د جـرګې اسـتازي پغمـان تـه ولاړل او نـورې غونډې هورې سرته ورسېدلې.

د لـويې جـرګې د غونـډې لپـاره پـه پنځلسـو مـادو کې يـوه لايحـه جـوړه شـوې او د غونـډو تـر پيـل دمخـه پـر اسـتازو وېشـل شوې وه. د لايحې مواد په پارسي ژبه ليکل شوي او داسې وو:

- د لـويې جـرګې غونـډې تـه هغـه کسـان ورتـلـلای شـي، چـې د "لويې جرګې" غونډې ته رابلل شوي وي.

ـ د کورنیو چارو له مامورینو څخه د سرکاتب تر رتبې پورې او له پوځي کسانو څخه تر کنډکمشر پورې په غونډه کې برخه اخیستلای شي.

ـ خبریالان چې د اجازې ټکټ ولري په غونډه کې یوازې د اورېدونکي په توګه ګډون کولای شي. د خبرو حق نه لري.

ـ په غونډه کې د ناستې ځایونه له نقشې سره سم ټاکل کېږي.

ـ د هرې غونډې په سر کې د غونډې رئیس په دې جمله باندې خبرې پیل کوي (د خدای په نامه شروع کوم) او وروسته د غونډې منشي د رئیس په اجازه د خبرو وړ لایحه لولي.

ـ د هرې غونډې په پای کې د راتلونکې غونډې د خبرو وړ مواد د رئیس له خوا د غونډې پر غړیو باندې د جلا پاڼو په شکل وېشل کېږي.

ـ کله چې یوه مسئله ولوستله شوه له دوو دقیقو سکوت وروسته هر هغه چاته چې پوښتنې ولري، د رئیس له خوا یا د رئیس په امر د مربوط وزیر له خوا توضیحات ورکول کېږي. له هغه وروسته که څوك اعتراض ولري، یا غواړي تر هغه ښه نظر ورکړي د رئیس تر اجازې وروسته دریږي، مدللې خبرې کوي او کنه سکوت کوي.

ـ د غونډې په سر کې پر ټولو غړو باندې دوې دانې سپینې و تورې مهرې وېشل کېږي. کله چې مسئله ولوستله شوه موافق کسان سپینه مهره او مخالف کسان توره مهره په هغو صندوقونو کې اچوي، چې د ټاکلو کسانو له خوا په غونډه کې

ګرزول کېږي. مسئله د رایو په اکثریت فیصله کېږي.

ـ هغه مسایل چې د رایو په اکثریت تصویب شي لیکل کېږي. په غونډې کې پوره اندازه کاتبان او د لیکنې وسایل شته.

ـ له هغو کسانو پرته، چې مخکې یې یادونه شوې ده، نور هېڅوك غونډې ته ننوتلای نشي. په هغو ورځو کې چې اعلیحضرت په غونډه کې تشریف ولري، د غونډې مشري همایوني ذات ته ورکول کېږي.

ـ په غونډه کې له اوبو پرته بل څه نه خوړل کېږي.

ـ ترڅو چې استازي خبرې پای ته رسولې نه وي، د نورو له خوا تصویب او تردید کېدلای نشي.

ـ هر څوك چې خبرې کوي باید رئیس یې مخاطب وي که څه هم د بل استازي جواب ورکوي.

ـ په غونډه کې له ټاکلو خبرو اترو پرته نور ناوړه الفاظ او تر موضوع دباندې خبرې کېدلای نشي. سپکې سپورې او بېځایه خندا کورټ منعه ده. که څوك داسې وکړي د رئیس له خوا اخطار ورکول کېږي، چې پټه خوله شي.

ـ کله چې خبرې پیل شي، شخصي مسایل او ځرګندونې کورټ منعه دي.

د غونډې لپاره په دې ډول نقشه جوړه شوې وه. په سر کې "تخت همایوني" و. د تخت ښي او کیڼ لاس ته منشیان او وزیران ناست وو او ورپسې په دوارو خواوو کې د استازو لپاره ځایونه ټاکل شوي وو. په ښي لاس کې تر استازو وروسته د

تمیز علماء او د غونډ مشر تر رتبې پورې پوځي منصبداران تر هغه وروسته د دولتي شورا غړي، کندکمشران او د وزارتو منشیان ناست وو. په کیڼ لاس کې تر استازو وروسته د تمیز د علماوو او د وزارتو د معینانو، مدیرانو او مرستیالانو او سرکاتبانو ځایونه وو. د "همایوني تخت مخې ته د غونډې رئیس، مرستیال او د منشي مرستیال ناست وو. د دوی تولو مخې ته د ولایتونو په ترتیب د لویې جرګې مشران، علماء، سادات، مشایخ، د شورا منتخب وکیلان او د مشورې د مجلس غړي حاضر وو.

په دې ډول وینو چې د لویې جرګې د تالار ترتیب و تنظیم د اروپايي هېوادونو د پارلمانونو تالار ته ورته و. امان الله خان له شکلیاتو سره ډېره مینه درلوده او همدغو شکلي بدلونونو ورته له اولس سره په اړیکو کې ستونزې پیښې کړې او دښمنانو یې له هغو څخه ددغه ملي او مدني خوځښت په ناکامولو کې استفاده وکړه.

دا خو د غونډې شکلي اړخ و. ماهیتي اړخ یې هم په ټوله معنا د ډیموکراسۍ او مدني آزادۍ پر بنسټ ولاړ و. امیر امان الله خان په مکرر ډول استازي آزاد جر و بحث ته رابلل. درنو لوستونکو خو د سلامخانۍ په ماڼۍ کې د امیر د پرانیستونکي وینا هغه برخه په همدې لیکنه کې وړاندې ولوستله، چې په هغې کې امیر پر آزاد جر و بحث ټینګار کړی و. په پغمان کې یې هم د لویې جرګې د منظمو ونډو د پرانیستلو په ورځ (شنبه ـ د چونګاښ اته ویشتمه ۱۳۰۳ش)

پخپله وينا کې پردې خبره بيا ټينګار وکړ او وې ويل:

"...اگر شما هيئت (لويه جرگه) درين مسائل مبحوثه آزادانه رای ندهيد و در مفاد ملت و دولت بذل مقدرت نورزيد همانا که نزد خدا و رسول و من عاجز که اولوالامر شما (هستم) و عموم ملت که شما نمايندگان حقيقی آنها ميباشيد، مسئول و جوابده خواهيد بود.

از برای خدا بکوشيد و بيدار باشيد و دقيقهء از دقايق خير خواهي و خير انديشی ملت و مملکت و حکومت متبوعهء تانرا فرو گذار نشويد که بدنام و دنيا و آخرت خواهيد بود. بايد که محض بلی! بلی نگويد و نه فقط بکلمات نافيه طرفداری کنيد بلکه هر آن چيزيرا که نسبت بترقيات ملت و مملکت خويش بفکر داريد آزادانه و حقانه بآواز صاف و بلند بيان نماييد." (۱۸) د جرګې د خبرو جريان وښودله، چې امير امان الله خان په عمل کې هم د ملت استازو ته موقع ورکړه چې په خلاصه خله خپل نظريات او انتقادات مطرح کړي. البته استازو خو خپل نظريات آزادانه بيانول خو د انتقاد ځای، چې زياترو منقدينو ورته ګوته نيولې دا دی، چې امير د خپلو وزيرانو د اعمالو عامه و تامه مدافعه کوله. که به چا دده پر وزيرانو انتقاد کاوه، جواب به يې تر وزير دمخه ده پخپله ورکاوه. ددغه راز چلند يو مثال به بيان کړو. په لويه جرګه کې پر کورنيو مسايلو خبرې روانې وې، په دغو شپو ورځو کې د ځينو مامورينو د ناوړو اجرآتو له امله په پکتيا کې د ناراضی او پاځون اور تازه کېده:. مولوی عبدالواسع (شهيد

جوزا ۱۳۰۸ش) د خپلو خبرو په ترځ کې څرګنده کړه چې وزیران باید د خپلو چارو مسئولیت پر غاړه واخلي. په دې برخه کې یې د اخله وزیر او د معارف وزیر پر اجراآتو انتقاد وکړ. د مولوي له دې انتقاد سره زیاتره استازي هم نظره وو، خو امیر امان الله خان دمخه تر دې، چې وزیران خپله دفاعیه واوروي، پر مولوي عبدالواسع باندې په سخته لهجه اعتراض وکړ او د مولوي انتقاد یې له دې امله وارد ونه ګاڼه چې نوموړی د معارفو له وزارت څخه ګوښه کړل شوی دی[۱۹].

دې ته ورته نور موارد هم وو خو په مجموع کې په لویه جرګه کې د نظر څرګندولو او تر یوې اندازې منلو روحیه حاکمه وه. د لویې جرګې ویناوې د امیر د حضور د "مخفف نویسانو" هر یوه میرزا محمد سرو خان، میرزا رحمت الله خان، میرزا عبدالسلام خان او میرزا محمد اکبر خان له خوا یاداښت کېدلې. دا کار په دغه کم و کیف باندې تر اماني عصر پخوا په افغانستان کې باب نه و. د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه د دورې په شورا او وروسته ولسي جرګه کې دا دود وپالل شو.

د خبرو په بهیر کې، چې کومې پښتو ویناوې شوې وې، ځینې یې په "رویداد" کې پخپله اصلي بڼه چاپ شوي دي. دا کار هم د اماني دورې ابتکار دی. په جرګه کې به ښایي ډېرې ویناوې په پښتو ژبه شوي وي، خو په "رویداد" کې د مخفي سرحدي او پادشاه ګلجان پښتو ویناوې او شعرونه خوندي دي. زه یې په دې نیامت دلته راوړم، چې ښایي په راتلونکي کې د بل چا په درد وخوري.

په دغه لويه جرګه کې مولوي فضل محمود مخفي سرحدي د امير امان الله خان په مدح کې دغه لاندې شعر ولوست([20]):

خادم د شريعت ساتونکی د ملت
خاوند د لوی عزت زموږ اعليحضرت
يو سوري د مولی په سر د ټول افغانستان
امير امان الله خان

د ملك په ننګ و نام هر ساعت بې آرام
خدمت کې د اسلام کړېږي هر مدام
پر موږ باندې دی زيات تر مور و پلاره مهربان
امير امان الله خان

ستا فکر ستا خيال بس دی زموږ په حال
خپل ځان لرې ملال چې موږه کړې خوشحال
ښښتن دې لرې تل خوشحاله تا په هر زمان
امير امان الله خان

ته يې زموږ مين ته يې زموږ بدن
ته ساه زموږ د تن ته روح يې د وطن
ناموس زموږ د ملك له ستا وجود دی نګهبان
امير امان الله خان

ته يې د ملك رښا ته يې د دين پناه
زموږه تکيه ګاه موږ فخر کړو په تا
څرګند دې نوم د قام زموږه کړه په ټول جهان
امير امان الله خان

زموږ نه و خپل واك د ېر ګران و داسې ژواك

ته پاڅېدې چالاك په فضل د رب پاك
آزاد دې قوم زموږه کړه له جغ د دشمنان
امیر امان الله خان

زموږ نه وه دستور په کارر وه دا ضرور
تیار که تا حضور موږ ټولو ته منظور
ساتونکی د دستور د دین زموږ له نقصان
امیر امان الله خان

تا جوړ کړه مکتبونه پکې لولي علمونه
د هر فن کتابونه زامن زموږ او وروڼه
رسېږئ دې هر چاته فیض د علم په هر آن
امیر امان الله خان

زموږ نه وه جرګه تا جوړه راله کړه
پرې کېږي زموږ ښه پادشاهه تا سره
مولاله تا رضا شه تا رضا کړه وطنیان
امیر امان الله خان

پادشاه، زموږه سر حاضر دی ستا په در
زموږ زړه او ځګر دی ستا په مدح سر
قربان له تانه موږه اې زموږ د ملك امان
امیر امان الله خان.

د مولوي فضل محمود مخفي نوم په دغه لویه جرګه کې د باجوړ د عالم په توګه ثبت دی.(۲۱)

پادشاه ګلجان ددغې لویې جرګې بل استازی دی، چې په جرګه کې یې پښتو وینا کړې او په "روېداد" کې ثبت ده. دی د

سمت مشرقي وکیل او د مومندو له مشاپخو څخه و او د لویې جرګې په بحثو کې یې فعاله برخه درلوده. دده د وینا متن د یوه تاریخي سند په توګه دلته راوړم.

د وینا متن:

"مغززو وروڼو!

هر کله چې د یونان فلسفې د خلفای بني عباسیه په زمانه کې د مسلمانانو په اخلاقو او په عقیدو باندې یو تباه کوونکی اثر پیدا کړ او د بغداد او د دمشق سر په فلک پاشاهي قصرونو کې د خلافت نبوي د ساتلو قابلیت پاتې نشو. دا نعمت له دغه مځکو نه د آخري عربي خلیفه معتصم بالله سره له دنیا نه تـه. نو خاورو د افغانستان په ډېر همت او مردانګۍ سره په خپل آغوش کې راتینګ کړه. د محمود غزنوي عزم او د شهاب الدین غوري همت چې کم خدمت یې په مځکه د افغانستان کې ادا کړه، بې شکه چې تمام مشرق او مغرب د هغې قایل دی. د هندوستان ترکستان اکثر قطعات د ایران د دوی د خاندان د کوشش او جهاد په خدمتونو سره د اسلام د برکته او د فیضونو نه ډك شو.

نن په عالم اسلام باندې بیا هغه زمانه راغلې ده. د دشمنانو ددین زور دومره ډېر شوی دی چې هر یو قوم د مسلمانانو د هغوی د دام تزویر نه ځان نشي خلاصولی، د اسلام خدمت به څه وکه.

خاندان د عثمان خان چې له یوې زمانې نه د خلافت اسلامیه او د خدمت شرعیه محافظین او خادمین وه، نن ورځ

د کفارو دلاسه دومره پرېشانه او بدحاله دي چې دغه حفاظت نشي ادا کولی. د یوناني فلسفې نه زیات نن ورځ د یورپ فلسفې جدیدې د اهل اسلام په عقایدو او په اخلاقو باندې بربادي راپرې یستلې ده.

زموږ ساده لوحي خلك په ځای ددې چې د یورپ د خلکو سره سیالي او ننګ وکه او د هغو په شان خاوندان د کمالاتو او د هنرونو شي د هغه تقلید شروع کي او تقلید هم بیا په فنونو او کمالونو کې نه، بلکې په ردي د اخلاقو او په خلاف شرع خیالاتو او عقایدو کې. نعوذبالله منها. قدرت د الله تعالی او مطابقت د واقعاتو د زمانې ته ګورئ چې نن هم په داسې نازك وقت او تباه حالت د اسلام کې شرف او عزت او حفاظت او خدمت د شریعت اسلامي هم دې زموږ خاورو د افغانستان له الله تعالی ورکړه. نه خو مصطفی کمال صدر د جمهوریت د ترکیه په خاورو د اناطولي کې دا ګران بار له عزته ډك د امانت قبول کړی شو، نه په خاورو د عربستان کې جاده شریف خدمت ته غاړه کېښودی شو، نه په آبادو لویو لویو شهرو کې د هندوستان ددې ځای پیدا شه، نه په مصر کښې او نه په بل وطن کې دا درونډ بار د حفاظت او د خدمت د شریعت چا پخپله ذمه کې واخیست. هغه زموږ د غریب افغانستان زړه ور او ځیګرور پاشاه زموږ مین او محبوب القلوب دین پناه اعلیحضرت شهریار غازي امیرالمومنین تولواك امیر امان الله دی. موږ پښتانه اوسېدونکي د افغانستان چې په دې خبره باندې هر څومره فخر وکړو، ښایيږي. هر څومره خوشحالي

چې ښکاره کړو په کار ده، خو فکر کول په کار دي چې زموږ ددې ټول فخر او د خوشحالی سبب اصلي محض ددې غازي پادشاه خوش خلقي ـ شرافت ؛ اتي ـ نیك خویي ده. خدای پاك دې دده سوری پر موږ باندې تل تر تله لري. آمین یارب العلمین.

زما معززو صاحبانو! زه حیران یم چې ددې غازي مهربان پادشاه خپله شکریه پخپله عاجزه ژبه سره په کومو الفاظو کې ادا کړم. شکریه ددې نعمت او بدله ددې احسان دا ده، چې موږ ټول ملت ددې خپل اولی الامر اطاعت او فرمانبرداري په ځانونو او په مالونو سره اختیار کړو. خپل ځانونه او مالونه دده په تابعدارۍ کې فدا کړو. هاله به دا د شریعت خدمت او ددین حفاظت پوره پوره ادا شي. هاله به دا امانت د رسول الله صلعم محفوظ پاتې شي. او که چیرې موږ په دې لاره کې پوره پوره فداکاري ښکاره نکړو نو ګویا که موږ ددې نعمت چې په برکت ددې خپل اعلیحضرت موږ ته عطا شوی ده شکریه ادا نکړی شو. په داسې حالت کې به خدای نکه موږ مستحق د عذاب الیم او د سزا دردناکې وګرزو. الله پاك دې دا ملت د افغانستان ددې عذاب الیم نه وساتي او توفیق دې راکي چې ددې غازي پادشا خپل او ددین او د شریعت او د وطن خپل خدمت همیشه وکړو. آمین یا رب العلمین"(۲۲)

امیر امان الله خان پخپله هم په پښتو ښه پوهیده. په ویناوو کې به یې زیاتره پښتو متلونه راوړل. په "رویداد" کې موږ دوه درې ځایه دده په ویناوو کې د پښتو متلونو راوړل وینو. د

لویې جرګې په پرانیستونکې وینا کې یې "چې خان یې په یاران یې" متل راوړی و، چې تاسې وړاندې ولوست. د جرګې د خبرو په جریان کې یوه استازي چې په ختمه سید و داسې وړاندیز کړ: "اعلیحضرتا! اگر برای سادات و آل رسول از خدمت عسکری معافی داده شود چقدر خوب خواهد شد تا به دعاگویی دین و دولت مشاغلت داشته باشند". ددې وړاندیز جواب امیر امان الله خان پخپله ورکړ او زیاته یې کړه: "جناب سید صاحب! آیا شما از تواریخ معلوماتی دارید؟ و کتب سیر را مطالعه نموده اید؟ و از کارنامهای جدامجد مبارک خود و آل بیت شان اطلاعی دارید؟... حضرت سید صاحب! ما امتیان جدامجدت که به تعظیم و تکریم شمایان میکوشیم ازینجهت است که شما در تایید دین مبین و اعلای کلمة الله مساعیات جمیلهء خودها را بانتهای فعالیت و جدیت بخرچ داده خار چشم دشمنان و سد آهنین بر روی اعدای دین و شریعت سیدالانس والجان باشید. هنگامیکه شما از جهاد و پیروی حقیقی دین محمدی پهلوتهی کنید پس ما چرا بشما عقیدت بپردازیم. "ما چې ته لالا بللې ما ویل چې ته ټکي به په ګوته راوکاږې".([۲۳]) دا متل هغه وخت کارېږي، چې یو څوک له بل چا څخه د ډېر سخت کار تمه لري او د همدې تمې له اسیته یې درناوی پرځان لازم بولي. امیر امان الله خان دلته ښه پرځای استعمال کړی دی، خو مرحوم کشککي چې کومه حاشیه پر کښلې ده، د تامل وړ ده.([۲۴])

د پغمان په لویه جرګه کې پر دغو موضوعګانو خبرې

وشوې او تصویب شوې.

_ د افغان او روسیې عهدنامه

_ د افغان ایټالیا معاهده

_ د افغان انګلیس عهدنامه

_ د افغان ترکیې معاهده

پر دې تړون باندې ښه ډېرې خبرې وشوې او د "خلافت اسلامیه" موضوع رامنځ ته شوه. امیر امان الله خان یې د خلافت ور وباله او ده پخپله دا موضوع د ټولو مسلمانو هېوادو په ګډه فیصله پورې وتړله.

_ د افغانستان او ایران معاهده

_ د افغان او فرانس معاهده

_ د افغانستان او المان معاهده

_ د افغانستان بلجیك معاهده

_ د افغان جاپان مناسبات

_ نظامنامهء اساسی (اساسي قانون)

_ د نکاح، واده او سنتې نظامنامه

_ د فاتحه دارۍ نظامناه

_ د سوداګرۍ نظامنامه

_ د مال مواشي نظامنامه

_ د للمي مځکو او مالیې نظامنامه

_ د نفوسو نظامنامه

_ فتوای امانیه (په دې فتاوی کې پنځلس عمده مبحثونه شامل وو)

ـ په ټول افغانستان کې د جمعیت العلماء تاسیس.

په لویه جرګه کې پر تعلیم او د وطني جامو پر اغوستلو ټینګار وشو. لویه جرګه د ۱۳۰۳ش کال د زمري پر نهمه نېټه د پنجشنبې په ورخ پای ته ورسېده.

د جرګې دود زموږ د لرغوني کلتور یوه برخه ده، خو د "لویې جرګې" عنعنه له اماني عصر څخه په منظمه توګه تر نن پورې پالله کېږي.

**بې جرګې نه به هېڅ کار په لاس وانخلي**
**که خبر وي د جرګې په برکت**

اوکویل ـ کاناډا
۱۶ جنوري ۲۰۰۴

## لمنلیکونه:

۱ـ لغتنامهء دهخدا

۲ـ رساله مزارات هرات، تصحیح، مقابله، حواشی او تعلیقات د فکری سلجوقی، ۳۹،۴۰ مخونه، کابل، ۱۹۶۷ع

۳ـ رویداد لویه جرګه دارالسلطنهء کابل، ۱۳۰۳ ش، ۴۰۳،۴۰۶ مخونه. په دغه کتاب کې د پغمان د لویې جرګې جریانات په اجمالي توګه درج دي. دا جریانات د مولوي برهان الدین کشککي له خوا ثبت شوي او د کتاب په بڼه په ۴۵۲ مخونو کې تنظیم شوي دي. کتاب د ۱۳۰۳ ش کال د لړم پر پنځمه د حربیه وزارت په سنګي مطبعه کې د یو زر ټوکو په تېراژ چاپ شوی دی. له دې وروسته به دغه کتاب یوازې د "رویداد" په نامه په لمنلیکونو کې وښوول شي.

۴ـ فرهنګ، میر محمد صدیق، افغانستان در پنج قرن اخیر، ۵۲۸/۲ مخ

۵_ ګوربت مجله، دريم کال، دويمه ګڼه (سلواغه_کب_ ۱۳۸۰ ش، ۲مخ

۶_حبيبي، عبدالحی، تاريخ مختصر افغانستان، ۴۸/۱ مخ، ۱۳۴۶ش، کابل

۷_فيض زاد، محمد علم، جرګه های بزرګ ملی افغانستان، ۱۲ مخ حاشيه، چاپ۱۳۶۸ش

۸_ ما (هوتك) تل پردې خبره ټينګار کړی دی، چې که په ژبه کې دخيل کلمات پر خپل حال پرېښوول شي، ښه به وي. دا کار ددغو کلمو د رنګارنګ ليکلو مخه نيسي او په ليکدود کې يو راز تجانس راولي. په دې لړ کې مې يو وخت د (آيينهء افغانستان) مجلې په ۳۲ ګڼه ۱۳۰ مخ کې د مرحوم پوهاند نګهت د هغې ليکنې په ځواب کې، چې غوښتي يې وو په دري ژبه کې دې د "پوهنځي" کلمه د "پوهنزي" په شکل وليکله شي، خپل دلايل وړاندې کړي وو. مرحوم پوهاند د "پوهنزي" ليکلو وړانديز له دې امله کاوه، چې په دري الفبې کې د "ځ" توری نشته او زما مخالفت پردې دليل ولاړ و، چې د تورو بدلول که د معنا التباس پېښ نکړي، لا به يې څوك ومني، خو که د کلمې معنا ته زيان رسېدی نو بيا د تورو بدلېدل سم کار نه دی. په "پوهنځي" کې که (ځ) په (ز) اليشه شي، معنا زيانمنه کېږي. زموږ مناظره د پوهاند هاشميان صاحب په حکميت زما په ګټه پای ته ورسېده. د پوهاند نګهت مرحوم دې هر هډ په جنت کې شي، لږ تر لږه خو يې د "پوهنځي" کلمه د ليکدود په لږ بدلون سره منله. اوس راشئ ننني وګورئ، چې ګرسره يې پر سرناګړه دي او دغه کلمات د "قبيلې د واکمنۍ" په معنا تعبيروي. فاعتبرو يا اولی الابصار.

۹_ هوتك، عبدالغفار، هوتکنامه، سريزه، سمون او سپړنې د حبيب الله رفيع، ۲۸مخ، ۱۳۷۹ش

۱۰_محمود الحسينی، تاريخ احمد شاهی، ۵۰/۱_۵۶ مخونه، د مسکو چاپ

۱۱_خالص، سلطان محمد، تاريخ سلطانی، ۱۲۲ مخ

۱۲_ايرج افشار سيستانی، سفرنامه و خاطرات امير عبدالرحمان

خان...، ۴۹۹ مخ، ۱۳۶۹مخ

۱۳_جرگه های بزرگ ملی افغانستان، ۴۴مخ

۱۴_ حبیبی، عبدالحی (پوهاند)، د افغانستان تاریخي پېښلیك، لومړی ټوك، ۲۴۳مخ، ۱۳۵۳ش، کابل.

۱۵_رویداد، ۸مخ

۱۶_ رویداد، ۷_۸ مخونه

۱۷_رویداد، ۲۴مخ

۱۸_رویداد، ۵۲مخ

۱۹_رویداد، ۱۳۱_۱۳۵ مخونه. دغه راز وګورئ: حبیبي، عبدالحی (پوهاند)، جنبش مشروطیت در افغانستان، ۱۷۷ مخ. د ۱۳۷۷ ش چاپ.

۲۰_رویداد، ۳۷۲_۳۷۴ مخونه. د پښتو لیکدود یې ګډوډ و، ما په اوسني مروج لیکدود وکیښ.

۲۱_فضل محمود مخفي د نور محمد خان ماموند زوی او په ۱۸۸۴ع کال په چارسده کې زېږېدلی او په ۱۹۴۷ع کال وفات شوی او د چارسدې په هدیره کې ښخ دی. مولوي مخفي په پېښور، هندوستان په اسلامیه دارالعلوم او دیوبند کې تحصیلات سرته رسولي وو. د حزب الله د تحریك غړی او د ترنګزو له حاجي صاحب سره یې اړیکې درلودل. د مل او هېوادپالو مبارزو له امله انګرېزانو څو پلا بندي کړی و. مولوی فضل محمود د امیر امان الله خان په وخت کې په کابل کې وو او ددغه امیر د اصلاحي پروګرامو پلوي یې کوله. د نادر خان په وخت کې هم کابل ته راروښتل شو او د انیس ورځپاڼې په اداره کې یې کار کاوه. وروسته بېرته خپلې ابایي سیمې ته ولاړ او هورې یې د تدریس چارې پرمخ بیولې. مخفي د پښتو ژبې شاعر او لیکوال تېر شوی دی. (وګورئ: زلمی، هېوادمل، فرهنګ زبان و ادبیات پښتو، لومړی ټوك، ۴۶۴مخ، ۱۳۵۶ش)

۲۲_رویداد، ۳۷۴_۳۷۷ مخونه

۲۳_رویداد، ۲۷۵مخ

۲۴_دې متل ته برهان الدين خان کشککي مرحوم مفصله حاشيه ورکړې ده او "ټاټکي" يې په "ژاوله" ترجمه کړې ده. او ليکلي يې دي، چې ټاټکي په ونوپوري کلکې نښتې وي او خلك يې په نوکانو يا د چاقو په څوکه له ونې راجلا کوي. دغه تشريح زما په خيال سمه نه ده. اول خو ټاټکه په ونو پورې نښتې نه وي، بلکې ټاټکه د کوچنې پټاټې په شان يو راز نبات دي، چې تر مځکې لاندې پرته وي او په پسرلي په دښتو کې پيدا کېږي. سربېره تور نری پوست لري او تر لاندې سپينه وي. دغه سپينه برخه يې خلك خوري. له نوکه يې د سپڼسي په شان يوه نری، څانگه شنه کېږي او دغه څانگه تر مځکې راوزي. خلك د همدغې څانگې په ليدلو سره پوهېږي، چې دلته ټاټکه شته. دغه ځای په لرگي يا چاقو او يا په کلنگ کېني او ټاټکه راباسي او خوري يې. دوهم دا چې پخپله ټاټکه ژاوله نه ده خو ما اورېدلي دي، چې کوچيان د ټاټکو له ريښې څخه د ژاولې کار اخلي.

**یوسف هیوادوست**

# فرهنګي شاه امان الله

څه دپاسه پنځوس کاله کېږي چې زموږ په ګران هیواد افغانستان کې د "امان پېژندنې" لړۍ یو څه په علمي او پراخه توګه راپیل شوې. په دغه ټوله موده کې هڅه شوې، چې د غازي امان الله خان د شخصیت په بېلابېلو اړخونو څېړنې، پلټنې او لیکنې وشي، خو له بده مرغه هغه شان چې لازه ده لاتراوسه هم زموږ د هیواد ددغه خپلواکۍ غوښتونکي، هیواد دوست او فرهنګي-سیاسي ممبارز، د کار او ژوند ډېر اړخونه تت پاتې دي.

امان الله خان پخپله یو ستر فرهنګپال، هنر دوست او ادب پروره پاچا و اودغه اړخ یو له هغو اړخونو څخه دی، چې تراوسه زموږ پلټونکو پرې کار نه دی کړی.

ما د خپلې مقالې لپاره همدغه سرلیك وټاکه او هڅه به وکړم د اسنادو او مدارکو په ملاتړ دا خبره روښانه کړم، چې

امـــان الله خـــان د هنـــر او ادبيـــاتو، ژورنـــالېزم، انځـــورګرۍ، موســـيقۍ او د فـــرهنګ د بېلابېلـــو اړخونـــو د پياوړتيـــا او پراختيا د لارې يو مبارز او فرهنګي شخصيت و.

ددې لپـــاره چـــې وکـــولای شـــم ددغـــه ســـتر ملـــي او فرهنګـــي شخصـــيت پـــه بـــاب همدغـــه کـړنې روښانـــه کـــړم ددغـــې څېـړنې لپاره لاندې واړه سرليکونه ټاکم:

- امان الله خان د هېواد نوی ولسمشر
- امـــان الله خـــان د وينـــا د خپلواکـــۍ او ژورنـــالېزم د پراختيا په برخه کې.
- امـــان الله خـــان د موســـيقۍ، هنـــر او ادبيـــاتو د ســـمون، علمي کېدو، پراختيا او لوړتيا په برخه کې.

## امان الله خان د هېواد نوی ولسمشر:

پـــه هغـــو شـــپو ورځـــو کـــې چـــې امیـــر حبیـــب الله خـــان د افغانســـتان د روڼ انـــدو او اوښتـــون غوښتونکـــو پـــه وړانـــدې ولاړ و (د ۱۹۱۷ز کـال څخــه تــر ۱۹۱۹ ز کــال پــورې) افغانــان د زور-زياتـــۍ، ښکېـــلاک، ترهګـــرۍ او ولـــږې پـــه اور کـــې سـوځېدل، لـه بلـې خـوا د افغانسـتان پـه شـاوخوا کـې داسـې انقلابـي خوځښتونـه راپيـل شـوي وو، چـې لـه هنـد نـه نيـولي بيـا تـر تاشـکند، بخـارا، مسـکو، اسـتانبول، تهـران او يـو شـمېر نـورو سـيمو پـورې د خپلواکـۍ او ولسـواک غورځنګونـو يـو پـه بـل پسـې سـر راپورتـه کـاوه او ددغـو غورځنګونـو د پيوسـتون لپـاره پـراخې هڅـې روانـې وې. پـه دغـه شـان انقلابـي شـرايطو

کې افغانان هم له دغه ستر پاځون سره یوځای کېدل. د امیر حبیب الله خان په وړاندې کرکه او د هغه په وړاندې د پاځون نښې، نښانې هغه وخت لا زیاتې شوې، چې امیر په لومړۍ نړیواله جګړه کې د انګرېزانو په اشاره او د هغوی په ملاتړ د افغانستان بې طرفي اعلان کړه (د ۱۹۱۴ کال د اګست ۲۲) د امیر دغه اعلان او د ترکیې او آلمان د هغه وړاندیز په ردولو سره چې افغانستان، ترکیه او آلمان د انګرېزانو په وړاندې یو ګډ پوځي-سیاسي پیوستون جوړ او اعلان کړل د آلمان هیات له ځان سره د هغه هېواد د امپراتور دوهم ویلهیم او د ترکیې هیات د هغه هېواد د سلطان محمد رشد خامس لیکلي پېغامونه له ځان سره امیر حبیب الله خان ته راوړي وو. دغه هیات د ۱۹۱۶ کال د می د میاشتې تر ۲۱ نېټې په افغانستان کې پاتې شو). په اصل کې په افغانستان کې د بدلون او پاځون هڅې ګړندۍ شوې. خلکو په ټول افغانستان او په ځانګړې توګه د هېواد په سهیل او ختیځ کې د پښتنو بېلابېلو قومونو د انګرېز په وړاندې د جهاد او پاځون ناره پورته کړه، خو امیر نه یوازې په کابل کې روڼ اندي او خپلواکۍ غوښتوونکي منورین او مشران وځپل، چې ورسره جوخت جهاد یې هم ناجایزه اعلان کړ. هغه د فرمان له مخې دا ځرګنده کړه، چې "جهاد د اسلام د پاچا له امر او اجازې نه پرته جواز نه لري او په دې باب یې یوه رساله د (د اولی الامر اطاعت) په نامه د کابل د عنایت په

چاپخونه کې خپره او په ټولو جوماتونو او پوځي چوڼیو کې وویشله..."(١) په دغو حالاتو کې افغانستان له یوې خوا د انګرېزانو د زورزیاتۍ سره مخامخ و او له بلې خوا د ماورالنهر په سیمه کې د اکتوبر د انقلاب پراختیا او د بلشویکانو یرغلونه ددې لامل وګرځېد چې بې شمېره ازبکان، تاجیکان، قزاقان، ترکمنان او د سیمې یو شمېر نور خلك افغانستان ته راواوړي او په اقتصادي لحاظ وران افغانستان د یو شمېر نابللو مېلمنو له هجوم او راتګ سره مخامخ شو. له دې خبرې څخه موخه دا ده، چې په دغه وخت کې د افغانستان ټول سیاسي سرحدونه د پردیو پرمخ خلاص وو. امیر په خپل عشرت اخته و او ملت د بدمرغۍ ډېرې ستونزمنې شېبې تېرولې. دغو ټولو لاملونو سره لاس یو کړ او د افغاني خپلواکۍ غوښتونکو لیکې یې لا پسې پیاوړې کړې. افغاني انقلابیونو برې ته د رسېدو لپاره د لومړۍ او دوهمې مشروطۍ بنسټ کېښود. د خپلواکۍ غوښتونکو د ټکولو، له منځه وړلو او له وطن نه د شړلو سره سره امیر حبیب الله خان ونشو کولای ځان خوندي وساتي، چې ددغه راز پېښو په لړ کې د ١٩١٩ کال د فبرورۍ په ٢٠ امیر حبیب الله خان د لغمان په کله ګوش کې ووژل شو او سره له دې، چې سردار نصرالله خان (د امان الله خان کاکا) او سردار عنایت الله خان (د امان الله خان ورور) یو په بل پسې وغوښتل د وژل شوي امیر ځای

ونیسي، خو امان الله خان د ملت او د دربار د ملاتړ له امله د خپل پلار ځای ناستی شو (د ۱۹۱۹ کال د فبرورۍ ۲۸) دا د خپلواکۍ غوښتونکو او د دموکراسۍ د لارې د پلویانو هغه ستر بریالیتوب و چې ان د سراج الاخبار د فکري انجمن نه مخکې هم راپیل شوی و او بیا د لومړۍ او دوهمې مشروطې تر وخت یې خپله لمنه په هېواد کې غځولې وه. امان الله خان د همدغه راز فکري غورځنګ تر اغېز لاندې پاچاهۍ ته ورسېد. هغه ددغه غورځنګ د هېواد پالونکو مشرانو او غړو سره په نږدې تماس او اړیکو کې و. همدغو کسانو وروسته له امان الله خان څخه ملاتړ وکړ. دوی ټول ددغه غورځنګ غړي وو چې د امیر حبیب الله د وژلو پلان هم همدوی جوړ او عملي کړ او په دې توګه په دربار کې هغه ډله حاکمه شوه چې د هېواد پالونکو افکارو له درلودلو سره په څنګ کې څه ناڅه ټول فرهنګیان او د هنر او ادب مینان وول.

ځینې څېړنې دا خبره په ځرګنده توګه روښانوي چې د امان الله خان زیاتره نږدې ملګري او دوستان یا شاعران وو یا ژورنالستان، یا لیکوال او هنرمندان او یا هم د ښکلو هنرونو لارویان. وګورئ ټوله هغه انقلابي او فرهنګي شخصیتونه لکه عبدالهادي پرېشان داوي، محمود طرزي (د امان الله خان خسر)، عبدالرحمن لودین (کبریت)، سید احمد لودین قندهاری، ولي محمد خان دروازی، شجاع

الدوله بابکرخیل، میر قاسم خان (د امان الله خان امنیت وزیر)، محمد ابراهیم خان جمشیدي، آدم خان (د ګرشک حکمران)، میر یار بیک خان دروازی، غلام احمد اعتمادي، غلام محی الدین افغان، سید حسن خان فرقه مشر، غلام جیلاني خان اعظمي (د کابل د ادبي انجمن مشر)، محمد سعید خان حبیبي مشهور په (لالا) ، انور بسمل، تاج محمد خان بلوچ، فیض محمد خان ناصري، عبدالحسین عزیز، مشهور هنرمند استاد قاسم افغان، پیاوړی هنرمند او انځورګر استاد فرخ افندي او یو شمېر نور... په اصل کې د هغوی ستر خپلواکي غوښتونکي غورځنګ مشران او غړي وو چې د فرهنګ او فرهنګي چارو له لارې یې خپله مشروطه غوښتونکې مبارزه پرمخ بیوله.

## امان الله خان د سیاسي، ټولنیزو او اداري بدلونونو په برخه کې:

امان الله خان چې کله د پاچاهۍ پر تخت کېناست، نو سمدلاسه د پلار له خوا بند ته اچول شوي ټول فرهنګي، سیاسي مبارزین یې نه یوازې له بندیخانو راووېستل، چې هر یو ته یې لوړ دولتي مقامونه هم ورکړل.

امان الله خان وروسته له دې، چې له بریتانوي هندي دولت سره خپل حسابونه تصفیه کړل، نو د ملت له غوښتنو سره سم د هېواد په دننه کې یو لړ هغو ټولنیزو، اقتصادي،

فرهنګي او سياسي بدلونونو او ريفورمونو ته مخه وکړه، چې له ډېر پخوا نه هم امان الله خان او هم "جوانان افغان" او د (دواړو مشروطيت غوښتونکو جنبشونو) او ټول ملت غوښتنه وه. د "تحولات و اصلاحات اجتماعی عصر امانی" ليکوال په دې باب داسې وايي: "...امان الله خان به منظور رفع پسمانی ها و ايجاد تحولات عميق اجتماعی در کشور که بتواند جامعه را بسوی پيشرفت و ترقی رهنمون شود دست به يکسلسله ريفورم ها زد که در دو مرحله مورد اجرا قرار گرفت. مرحله اول ۱۹۱۹ تا ۱۹۲۴ و مرحله دوم از ۱۹۲۸ به بعد."(۴)

ددغو بدلونو تر ټولو ارزښتناکه بېلګه د اساسي قانون يا د افغانستان د لوړ دولت اساسي نظامنامې جوړول وو چې په ۱۳۰۱ ل کال کې د جلال آباد په لويه جرګه کې تصويب شو. په دغه لويه جرګه کې ۸۸۳ تنو د ولس استازو برخه درلوده. ددغې لويې جرګې له برکته افغانستان د لومړي ځل لپاره د يو پرمختللي اساسي قانون خاوند شو، چې د ۱۳۰۲ ل کال په پيل کې د پاچا له خوا توشيح شو. تر هغه وروسته امان الله خان په دغو لاندو ريفورمونو او بدلونو لاس پورې کړ.

- په هېواد کې د قانون جوړولو جرګه ګۍ جوړول. دغه شورا يا جرګه ګۍ د دولت د شورا په نوم يادېدله. دغې جرګې چې نيمايي غړي يې انتخابي او نيمايي يې د پاچا له

ځوا ته اکل کېدل، په اصل کې ډېرې ارزښتناکې دندې په غاړه درلودې، لکه: د قوانینو پرله پسې جوړول او سمون، د دولتي لايحو برابرول، د قانوني پروژو څېړنه او د وزيرانو د غونډې له تصويب څخه وروسته د پاچا لاسليك كولو ته سپارل، د دولت د بودجې سمون او له بهرنيو هېوادو سره د افغانستان د اړيكو، تړونونو او چارو پرمخ بيول.

ـ امان الله خان ډېره مينه درلوده، چې يوه هېوادپالونكې او غمخوره اداره ولري. د هغه مرستيالان، وزيران، واليان او حاكمان د پوليسو او امنيتي چارو مسوؤلين، د گمركونو چارواكي او مامورين او د قانون جوړولو او پلي كولو ځانگې، دا ټول بايد هغه كسان وي چې د ملت د ځورولو لامل ونه گرځي. پاچا امان الله د دولتي دستگاه سمون ته ډېر ارزښت وركاوه. هغه له ۱۹۲۱ كال نه وروسته د دولتي دستگاه د اصلاح او بشپړتيا لپاره ملا وتړله. په دې برخه كې د افغانستان د بنسټيزو جوړښتونو د نظامنامې جوړول او تصويب د امان الله خان له سترو كارونو څخه بلل كېږي. دا په حقيقت كې د مشروطه غوښتنو دوهم ارزښتناك سند دى چې د هغې له مخې دولت به خپلې ټولې چارې د حكومت له لارې ترسره كوي او حكومت به د خلكو استازي ټاكي. دا يوه دموكراتيكه او ولسي بېلگه وه، چې امان الله خان د هغې په عملي كولو سره په اصل كې د خپل پلار نيكه ټول په فرد پورې تړلي

(پاچا پورې) ټول واك مات کړ او هغه يې ولس ته ولېږدوو.

امان الله خان په افغانستان کې د ديني او مذهبي آزاديو او برابرۍ ته هم ځانګړې پاملرنه وکړه او په اساسي نظامنامه کې يې دغه خپلواکي په ځرګندو الفاظو سره داسې وليکله:"د افغانستان په هېواد کې ټولو اوسېدونکو وګړو ته پرته له ديني او مذهبي توپير نه د افغانستان تبعه ويل کېږي"(٥)

غازي امان الله خان د بشر خپلواکۍ او د انسان کرامت ته زښت زيات ارزښت ورکاوه. هغه په افغانستان کې د هر وګړي خپلواکي اعلان کړه او مريتوب يې په افغانستان کې منع کړ. د جلال آباد په لويه جرګه کې د هزاره ورونو يو تن وکيل غلام حيدر د دايزنګي هزارو ځخه د امان الله خان ددغه ارزښتناك ګام په هکله مخامخ ده ته وويل:"دا چې په پخوانيو زمانو کې تر لس زره خلك، نر او ښځې د مسلمانانو د هزاره، جديدي، شغناني، بدخشي، چاصدې او داسې نورو طايفو د کنيزۍ او غلامۍ له نامه لاتدې، د ملت د نورو ورونو په کورونو کې اسير وو، نو موږ که په زرو ژبو تشکر وکړو د غازي اعليحضرت دا مرحمت او نوازش ادا کولی نشو چې د خپل ميمنت مانوس جلوس په اوله کې داسې خلك، د ملت نارينه او ښځې لومړی له خپله حضوره او د خپلې محترمې کورنۍ او بيا يې د ملت د ورونو له نورو کورنيو آزاد کړل او ويې فرمايل، چې د

اسلامیه نجیب ملت هېڅ یو فرد به د کنیز او غلام په نامه قید نه وي. ددې خلکو املاك، چې دېرش، څلوېښت کاله ضبط و، بېرته یې څښتنانو ته ورکړل شول او ټول یې د ملك، د هستۍ او شتو خاوندان شول..."(۶)

دغه راز د نوې نظامنامې په ۲۲ او ۲۴ ماده کې بیګار، شکنجه، ځورونه او زجر په افغانستان کې په بشپړه توګه منع کړای شو. د امان الله خان د ټولنیزو بدلونونو او سمون په لړۍ کې د ښوونې او روزنې سمون، پراختیا او لوړتیا هم لوی ځای درلود. د افغانستان د لومړني اساسي قانون د ۶۸ مادې پر بنسټ زده کړه تر لومړنیو ښوونځیو جبري شوه. په هماغه وخت کې څه دپاسه ۳۲۲ ښوونځي په کابل او نورو ولایاتو کې جوړ شو چې د څېړنو له مخې څه ناڅه یو پنځوس زره زده کوونکي په دغو ښوونځیو کې په زده کړو اخته وو. امان الله خان په دې څرګند حقیقت ډېر ښه پوهېده چې هېواد پرته له مسلکي کادرونو د پرمختګ لوړو مدارجو ته نه رسېږي، نو ځکه خو د امان الله خان په ځانګړې پاملرنې سره یو زیات شمېر زده کوونکي بهرنیو هېوادو ته د لوړو مسلکي زده کړو د ترلاسه کولو لپاره واستول شول.

تر ټولو مهم ټکی چې امان الله خان ورته ځانګړی ارزښت ورکاوه، هغه د ښځو د حقوقو په رسمیت پېژندل، پراختیا او منل وو. په دغه ستر امر کې د هغه مېرمنې ملکه ثریا د

یادونې وړ برخه او مرسته ترسره کړه. امان الله خان لومړی له خپل کورني چاپېریال نه راپیل کړه. د ځان لپاره یې د ژوند داسې ملګرې وټاکله، چې نه یوازې د یوې بې بې افغانۍ په توګه له حیا او عزته ډکه وه، چې یوه منوره او د وخت له علومو او پوهې څه ناڅه باخبره مېرمن هم وه. ملکه ثریا د هېواد د ژورنالېزم پلار او ستر ادیب علامه محمود طرزي دریمه لور ده. د طرزي کورنۍ د پوهې، ادب او تمدن سره آشنا کورنۍ وه. د طرزي مېرمن اسماء رسمیه چې یوه منوره ښځه وه لومړی یې د خپلو بچیانو لپاره په کور کې یو ښوونځی پرانیست او له دې لارې یې د شاهي کورنۍ د ټولو ښځینه برخې په فعالولو او په کار اچولو کې اغېزمنه ونډه واخیسته. وروسته بیا په ۱۹۲۰ز کال کې ملکه ثریا په یوې غونډې کې له وینا کولو وروسته د یو ښوونځي بنسټ کېښود، چې د مستوراتو ښوونځي په نوم یادېده او پخپله ملکې یې د څارونکې دنده پر غاړه واخیسته. دغه ښوونځی یو کال وروسته د مې په ۱۹ پرانېستل شو.

امان الله خان د پغمان په لویه جرګه کې کله چې د ښځو د حقوقو او زده کړو خبره رامنځته شوه، داسې دلایل وړاندې کړل، چې یو له هغو څخه د نبوي حدیث (طلب العلم فریضه علی کل مسلم و مسلمه) یادونه وه او هم دا چې ښځې ته نه ښایي د نادانۍ په تورو تیارو کې وساتل شي، ځکه هغه په کور کې د خپلو ماشومانو ښوونکې ده..."(۷)

دغه راز څه موده وروسته د کابل د چنداولو په سیمه کې د نجونو یو بل ښوونځی جوړ شو. دغه ښوونځی د سه دکان په نوم یادېده. د ښځو د بسیاینې په برخه کې دا ټول انقلابي ګامونه بلل کېږي. د امان الله خان او د هغه د خسر محمود طرزي په مخامخ هڅونه او ملاتړ مېرمن اسماء رسمیه (د محمود طرزي مېرمن) په کابل کې د ښځو د ګروهو، اندونو او لیکنو د خپرولو لپاره د "ارشادالنسوان" په نوم یوه خپرونه چاپ کړه، چې د هېواد په مطبوعاتو کې د یو ستوري په توګه وځلیده. (د ۱۲۹۹ کال د کب میاشت) د نورو تولنیزو بدلونو یوه غوره بېلګه د ۱۹۲۴ز کال د جنوري په میاشت کې د "مستوراتو" په نوم د یو روغتون جوړول دي، چې د ښځو د درمان او مور او ماشوم د پالنې او روغتیا لومړنی مرکز بلل کېږي. امان الله خان تل په دې خبره ټینګار کاوه، چې ښځې د افغانستان نیمايي برخه ده او لازمه ده، چې په ټولو هغو دولتي، رسمي او غیر رسمي غونډو، محافلو او اجتماعاتو کې برخه واخلي چې د ملت او په ځانګړې توګه پخپله د ښځو له برخلیک سره اړخ لګوي. د امان الله خان په پېر کې یو شمېر نجونې د مسلکي زده کړو لپاره له هېواد څخه بهر هم ولېږل شوې. له بده مرغه د امان الله خان دغه ټول له سمون او اصلاح څخه ډك اندونه د پردیو د نوکرانو او د جهالت د استازو د ناروا تبلیغاتو له امله له ناکامۍ سره مخامخ شول او کله چې د

سقاو زوی د غلو له یو شمېر ډلې سره پر ارګ حاکم شو، نو د لومړنیو فرمانونو په لړ کې د یو فرمان په پنځمه ماده کې د نجونو مکتب په دغو الفاظو وتړل شو: "له کور نه د ولي له اجازې پرته د بالغو نجونو او ښځو وتل او د مستوراتو مکتب مې موقوف کړ." (۸) د امان الله خان نه وړاندې او دا دی تر ننه هر هغه هېوادپال غورځنګ، د انسان د کرامت د درناوي مشر او هېواد پالونکو ډلو او حکومتونو که د ښځو د حقوقو د بسیا کېدو خبره کړې د پردیو د نوکرانو او د شر او فساد د عاملانو له خوا په کافر، ملحد او د هري تورن شوي دي. له امان الله خان سره هم همدا چلند وشو.

امان الله خان ډېره تلوسه درلوده، چې خپل هېواد له هر پلوه ښاېسته، ودان، سمسور او په متمدنه او پرمختللو هغو وسایلو او وسایطو سمبال کړي لکه چې په نوره نړۍ کې دود وو. هغه د برېښنا د فعالولو لومړني ګامونه واخیستل او د دولتي دوایرو او د خلکو د کورونو د روښانولو لپاره یې د برېښنا لېږدولو لومړني ګامونه پورته کړل. د تیلګراف دوه دستګاوې یوه له انګرېز څخه او بله دستګاه له شوروي اتحاد نه د سوغات په توګه د امان الله خان په وخت کې افغانستان ته راوړل شوې. دغه دستګاوې یوه یې په ارګ کې او یوه یې د باندنیو چارو په وزارت کې نصب شوې، چې د کابل، پېښور او تاشکند ترمنځ یې د تیلګراف چارې ترسره کولې. دغه راز په ۱۳۲۵ کال کې د

سيم لرونکي تيلګراف لين هم له کابل نه تر تورخم پورې وغځول شو. دا يو لينه غزونه وه. په دغه برخه کې دولت يو شمېر زده کوونکي لندن او روسيې ته د زده کړو لپاره واستول. دغه راز د امان الله خان په وخت کې د تيلفون يو زيات شمېر نومرې خلکو ته ووېشل شوې. د راډيويي خپرونو مرکزونه جوړ شول، د اورګاډي پټلۍ د کابل د شاه دو شمېره څخه د دارالامان تر قصر پورې وغزول شوه، چې د يو بخاري انجن په وسيله يې څو واګونونه له ځان سره وړل. دغه پټلۍ ۹۰۸ کيلومتره اوږده وه، چې وروسته د لومړۍ سقاوي په دوره کې دغه پټلۍ چور او ورانه شوه. هوايي ترانسپورټ هم د امان الله خان په وخت کې ځانګړې وده وکړه آن تر دې چې په دغه وخت کې د افغانستان د الوتکو شمېر له اوياوو څخه هم واوښت، په همدې توګه د چاپ د ماشينونو، مطبعو او خپرونکو موسساتو زياتوالی هم ددغې دورې ځانګړنې دي، چې په وياړ سره به هر وخت ياد يږي.

## امان الله خان د وينا د خپلواکۍ او د ژورناليزم د پراختيا په برخه کې:

"د آزادۍ يوه خوږه ثمره دا ده چې تاسې، عالمان، فاضلان، مشايخ، وکيلان او د ملت اعزه زما په حضور حاضر او خپلې آراوې او افکار په آزاده توګه بيانولی

شي..."(۹)

د امان الله خان حاکمیت په همدغه اصل راپیل شو. امان الله خان د ملت د آراوو، افکارو او اندونو د خپلواکۍ او د بیان د آزادۍ په ستر اصل باور درلود. هغه اصل چې دده د پلار او نیکه په پاچاهیو کې نه و. امان الله خان په دې ګروهه و، چې د بیان آزادي د ولس او پاچا ترمنځ سمون او بشپړتیا راولي، نو ځکه خو امان الله خان دغه اصل د هېواد په لومړني اساسي قانون کې خوندي کړ او تر ټولو مهمه دا چې د مشروطه نظام په اعلانولو سره یې مطلقه پاچاهي له منځه یووړه.

اعلیحضرت امان الله خان د فرد آزادي او د شخصي حریت ساتنه د خپلو موخو په سر کې راوړې وه. د جلال آباد په لویه جرګه کې ملت ته په خطاب کې هغه وویل: "مقصد له دې آزادۍ د محمدي غرا شریعت له مقرراتو او د حکومت له هدایاتو سره سمه آزادي ده، چې یو شخص د نورو افرادو له ظلمونو او غیر مشروع تېریو څخه آزاد وي، د خپل شخصي حریت خاوند وي ترڅو هغه خرابۍ او هغه تېري او تجاوزونه چې پخوا له دې د رعیتي اشخاصو پر مال، ځان، شرف او ناموس د دولت د مامورینو، د رسوخ د خاوندانو او د ملت اعزه و له خوا، هره ورځ اجرا کېدل رفع او دفع شي..."(۱۰)

او په دې توګه امان الله خان د هر ځانګړي افغان د کرامت، کار، ژوند او د ګروهو او اندونو د خپلواکۍ لپاره

لومړني پیاوړي ګامونه پورته کړل. د همدغو ښېګڼو پر بنسټ د افغان ملت هر ځانګړي فرد د خپل هېواد او دولت په چارو کې ځان شریك باله. نور نو هر چا کولای شوای آن مخامخ د دولت وزیرانو او پخپله پاچا ته مخامخ د انتقاد او نیوکو ګوته ونیسي او د چارو د سمون او سمبالښت لپاره هر فرد او یا د افرادو یوې ټولنې کولای شوای د ګروهو او اندونو بیان په آزاده توګه وکړي او خپرونې ولري. ددې لپاره چې د ملت دغه غوښتنه په ښه توګه ترسره شي، نو امان الله خان د مطبوعاتو او ژورنالېزم وده، لوړتیا او خپلواکه پراختیا د یو ارزښتناك عنصر په توګه ارزولې وه. پاچا په دې خبره ډېر ښه پوهېده، چې پر افغان ملت له کلونو کلونو راپه دې خوا استبداد او مطلقیت واك چلولی او اوس نو ددې وخت رارسېدلی، چې د خپلواکو مطبوعاتو دا لړه د ملت په واك کې ورکړل شي.

امان الله خان د خپل واك په لومړي کال د مطبوعاتو او ژورنالېزم خپلواکي او وده اعلان کړه او د یو ټولواکمن په توګه یې د خپلواکو مطبوعاتو له ودې څخه ملاتړ څرګند کړ. د هغه د واك په هماغه لومړي کال د "امان افغان" جریدې د "سراج الاخبار" ځای ونیو، چې د دولت رسمي خپرونه وه. (د ۱۹۱۹ د اپریل میاشت). د ۱۲۹۹ هـ ل په چنګاښ کې د "افغان" په نوم ورځپاڼه راووتله، چې مسؤلیت یې محمد جعفر خان کندهاري درلود. اوس نو

هغه وخت راورسېد، چې مطبوعات د دولت له انحصار نه راووتل او ملت ته ددې واك ورکړل شو چې خپلواکه او ملي ورځپاڼې، جريدې، مجلې او خپروني ولري. د "ارشاد النسوان" د جريدې په خپرېدلو سره مطبوعاتو د افغانستان د ښځو لپاره د بيان د خپلواکۍ پوره زمينه برابره کړه، چې مسوؤليت يې د امان الله خان خوابنې مېرمن اسما رسيمې او يوې بلې منورې مېرمنې آغلې روح افزا درلود.

ددې دورې په روزنيزو مطبوعاتو کې د (معرف معارف وروسته "آيينهء عرفان") د پوهې په رواجولو او دود کې پراخه ونډه واخيسته. دغه راز د "مجموعه عسکريه" په نوم يوه ځانګړې مجله د هېواد د وسله وال پوځ منسوبينو ته ډالۍ شوه، چې مسوؤل مديريت يې د ډګروال عبداللطيف خان پر غاړه و. پر افغانانو حقدار ژورنالېست او ليکوال محمد ګل خان منومند هم څه موده ددغې مجلې مسوؤليت درلود، چې وروسته دغه مجله د "اردو" په نوم تر ډېرو کلونو په ښکلې بڼه چاپېدله. د محمد حسن سليمي په مسوؤل مديريت د "مجموعه صحيه" په نوم يوه بله ځانګړې خپرونه د هېواد ډاکټرانو او د روغتيايي چارو کارکوونکيو ته ډالۍ شوه، چې نه يوازې د طب د برخې علمي معلومات يې وړاندې کول، چې د خلکو د روغتيا لارې چارې هم دوی ته ورښودلې. په همدغه وخت کې د "ثروت" په نوم بله خپرونه چې مسوؤليت يې علامه صلاح الدين سلجوقي

درلود، مالي خپرونو ته ځانګړې شوې وه (۱۹۲۵کال.)

د يادونې وړ خبره ده، چې امان الله خان په هېواد کې د بيان د آزادۍ او د ژورنالېزم د بنسټيز بدلون په موخه د لومړي ځل لپاره په ۱۹۲۴ کال کې د افغانستان د مطبوعاتو لومړنۍ نظامنامه يا د مطبوعاتو قانون نافذ کړ، چې په دې توګه د نادولتي او ملي خپرونو د خپرېدو لپاره يې لاره هواره کړه. په دې باب د "استقلال افغانستان و تاثير آن بر تحولات اجتماعی کشور" ليکوال داسې وايي:"تاسيس مکاتب، کتابخانه ها، سينما ها و تياتر بنوبه خويش نقش موثر را در تنوير اذهان عامه و پروسه بيداري ملت بازي نموده دولت با طرح و تصويب قانون اساسي و ساير نظامنامه ها در حقيقت راه را براى تحولات اجتماعی جامعه هموار ساخت تا جاييکه باانفاذ نظامنامه مطبوعات به تعداد ۱۳ جريده و مجله بمصرف دولت از قبيل جريده ارشادالنسوان، جريده اتحاد مشرقی، روزنامه افغان، مجله معارف، جريده امان افغان، مجله اردو، جريده اتفاق اسلام، جريده بيدار، روزنامه حقيقت، جريده انتقادی ستارهٔ افغان و جريدهٔ طلوع افغان نشر و چاپ گرديدند که يک تعداد ازين جرايد تا امروز بشکل روزنامه و بعضاً مجله نشر ميگردد از قبيل روزنامه اتفاق اسلام در هرات، روزنامه بيدار در مزارشريف و روزنامه اتحاد مشرقی در ننگرهار، روزنامه طلوع افغان در قندهار و مجله

اردو..."(۱۱)

د مطبوعاتو د قانون له انفاذ نه وروسته لومړنۍ خپرونه د "انيس" اخبار و چې غلام محی الدين انيس د ۱۹۲۷ز کال د مې په مياشت کې په کابل کې خپره کړه. انيس د يوې ملي خپرونې په توګه آن تر ننه خپرېږي. د غير دولتي مطبوعاتو بله بېلګه د "نسيم سحر" خپرونه وه چې مسوئل مديريت يې احمد راتب باقي زاده درلود. دغه خپرونه ډېره انتقادي او کينې لاسې وه، چې څه موده وروسته له چاپ نه پاتې شوه. د لوګر يو مخور شخصيت محمد نوروز خان د "نوروز" په نوم يوه بله ملي خپرونه چاپ کړه، چې په دې توګه د ملي مطبوعاتو شمېر ورځ په ورځ زياتېده. دغه راز زياتره څېړونکي دا خبره يادوي، چې امان الله خان د لويې جرګې د دود په راژوندي کولو سره په اصل کې د دموکراسۍ او د بيان د آزادۍ لپاره تر ټولو لوړ ګامونه پورته کړي، ځکه لويه جرګه په اصل کې د ولس د آزاد بيان ډېره غوره مرجع ګڼل کېږي او دغه وياړ هم امان الله خان لري.

لوی استاد پوهاند عبدالحی حبيبي دغه هڅې له خپلواکۍ ګټلو نه مخکې د هېواد د روڼ اندو، فرهنګي او سياسي مخکښانو او په ځانګړې توګه د "اخوان افغان" ګوند د غړو او مبارزانو د زيار او هاند پايلې بولي او داسې ليکي:"دغه فکري هڅې سره له دې، چې کورني او بهرني

خنډونه يې درلودل، پر ۱۳۲۹ق کال د سراج الاخبار افغانيه د بيا راژوندي کولو په واسطه د محمود طرزي له خوا ادامه وموندله. د "اخوان افغان" په نامه په کابل کې لومړی افغاني سياسي ګوند تاسيس شو، چې مرام يې "مشروطيت، خپلواکي او کورنی سمون" و، خو ددغه ګوند غړي پر ۱۳۲۵هـ ق کال يا ووژل شول او يا بنديان شول. تر ۱۳۲۹ق چې سراج الاخبار د محمود طرزي په واسطه بيا خپور شو، همدا د اخوان افغان ګوند هم بيا راژوندی شو. تر ۱۳۳۷ هـ ق پورې د افغاني روڼاندو په تنظيم او د پوهې په خپرونه کې يې زيار ويوست. د هېواد د بشپړې سياسي آزادۍ ګټلو او د خپلواکۍ د جهاد لپاره د ولس په سراسري پاڅون او د افکارو په تنوير کې ددې ټولنې زيار ګټور و او چې پر ۱۹۱۹ افغان ولس خپله خپلواکي بېرته وګټله ټولو روڼاندو دنيا ته د نوي، آزاد افغانستان د ورپېژندلو، د ادارې د نوي جوړښت، د مدني چارو په ترتيب، د ښوونځيو د تاسيس او مطبوعاتو د پراختيا په لاره کې زيار ويوست..."(۱۲)

امان الله خان د سيمې او نړۍ د متمدنه ژوند تر اغېز لاندې ډېره تلوسه درلوده، چې افغانستان د پرمختګ نويو پړاوونو ته ورسوي. نوميالی مؤرخ ظفرکاکاخېل په خپل کتاب "پښتانه د تاريخ په رڼا کې" يوځای په دې باب داسې ليکي:

"ترڅومره چې د خپل ملك د بهبودۍ او ښېګړې د خواهشاتو او ارادو تعلق و، د امیر امان الله خان په زړه کې د هغې څه کمی نه و، هغه دې خبرې ته لېواله و چې خپل ملك يې د ترقۍ په لاره په داسې رفتار روان کړي، چې په ډېره لږه موده کې د دنیا د متمدنو قامونو او ترقي یافته ملکونو سره سیال شي. ددې مقصد د حصول لپاره هغه د هرې وسيلې او ذريعه يې نه کار واخيست. د خپل حکومت د انتظامي شعبو تنظيم يې د متمدنو ملکونو په ډول کړو. د ملك لپاره يې اساسي قوانين تيار کړل. په ملك کې يې د اولس د تعليم لپاره مدرسې او مکتبونه پرانستل. د تګ راتګ د ذرايعو اصلاح و تعمير ته يې توجه وکړه، د غلامانو خريد و فروخت يې قانوناً بند کړو. زراعت او تجارت ته يې توجه وکړه او د دوی په حقله يې نوې نوې منصوبې جاري کړې. د ملك اهم مقامات يې د سړکونو او ټيلفون په ذريعه په خپلو کې وګنډل. د مطبوعاتو ادارې تاسيس شوې، غرض هغه په ډېرې تن دهۍ او دل سوزۍ د خپل ملك د تعمير او ترقۍ په کوششونو کې لګيا و..."(١٣)

امان الله خان په دې خبره ډېر ښه پوهېده، چې د خپلو ترقي غوښتونکو موخو لپاره تر هرڅه لومړی د ولس کتارونه ځان پسې مل کړي او ددغ ستر هدف لپاره يې مطبوعات او راډيو ډېره ښه وسيله ګڼله. د امان الله خان د واکدارۍ په زمانې کې د راډيو لومړني ستيشنونه هېواد ته

راوړل شول او لنډو مسافو ته د خپرېدو لپاره په کار ولوېدل. امان الله خان د راډیو له لارې ددغه شان ملي اهدافو د تبلیغ او بیان لپاره ډېر ارزښت ورکاوه. د لومړي ځل لپاره د پرودکاستنګ دوې ورې دستګاوې په ۱۳۰۴ هـ ش کال کابل ته راوړل شوې او په دیارلس سوه اووم هـ ش کال کې یې یوه په کابل کې نصب او په کار ولوېده. په دې وخت کې ددغو دستګاوو جوړې راډیو په اکثرو آسیایي هېوادونو کې نه وې. ددغې دستګاه قدرت دوه سوه ولټه و او امواج (څپې) یې د کندهار تر ساحې پورې د خپرېدو او اورېدو وړ وې.

د راډیو ودانۍ د هغه وخت په یو ډېر ښکلي ځای کې موقعیت درلود، چې "کوټی لندني" ورته ویل کېده. په هغه وخت کې د لومړي ځل لپاره پخپله د امان الله خان په هدایت لومړی دېرش او بیا زر پایې ورې بترۍ لرونکې راډیوګانې هم هېواد ته راوړل شوې او په خلکو ووېشل شوې.(۱۴) دغه راز په ښار کې د دولت له خوا په یو شمېر تاکلو ځایونو کې لوډسپکرونه کېښودل شول، چې خلک وکولای شي د راډیو خپرونې او موسیقي واوري.

په همدې توګه امان الله خان د سینما له لارې د ترقي غوښتونکو موخو د څرګندولو او په هېواد کې د سینما پراختیا او رواجېدو ته ځانګړې پاملرنه درلوده. "امان الله خان لا په یورپ کې و چې د هغه د مصر او انګلستان د

سیاحت د فلمونو نمایش د کابل ښار په مرکزي سینما کې شروع شو. ددې فلمونو په لیدو چې به د افغانستان خلکو د امان الله خان د ذات سره د کوم والهانه محبت او جوش اظهار کولو، د هغې بیان په الفاظو کې ګران دی..."(۱۵)

دا خبره په ډاګه څرګندوي چې د اروپا له سیاحت نه مخکې لا په کابل کې امان الله خان د سینما د رواجولو او دودولو په لړ کې یو شمېر سینمایي مرکزونه جوړ کړي وو. ښاغلی حبیب الله رفیع په دې باب وایي:

"په اماني دوره کې لومړی ځل سینما د ارګ د سلامخانې په برنډه کې د خلکو د تماشې لپاره په کار واچول شوه، خو بیا د امیر عبدالرحمن خان د وخت په سلامخانه کې د استقلال دلیسې ترڅنګ دایمي سینما جوړه شوه، چې د کابل سینما بلله کېده او د زرنګار پارک جوړېدو تر وخته (۱۳۴۲ المریز) ودانه وه... د کابل سربېره د پغمان سینما_تیاتر په نامه په پغمان کې هم یوه ډېره عصري ودانۍ جوړه شوه، چې د سوونو کسانو دناستې لپاره یې ځوکۍ درلودې. په دې ودانۍ کې پر فلمونو سربېره ډرامې هم ښودل کېدې او د جشن په شپو ورځو کې به یې د ډرامې او فلمونو بېلابېل نمایشونه درلودل... د پغمان سینما په سقوي اړودوړ کې وسوځوله شوه..."(۱۶)

او په دې توګه ګورو چې امان الله خان شخصاً په هېواد کې د ژورنالېزم، مطبوعاتو، سینما او راډیو د پراختیا،

لوړتیا او بشپړتیا لپاره اغېزمن ګامونه پورته کړي. امان الله خان د مطبوعاتو د لوړتیا لپاره د مطبعو او چاپخایونو زیاتېدو ته ډېر ارزښت ورکاوه. هماغه شان چې مخکې مو یادونه وکړه، د هغه وخت مطبوعاتو د خلکو د اذهانو په روښانولو کې پراخه ونډه ترسره کړه. د حبیب الله رفیع په وینا د افغانستان د خپلواکۍ ترلاسه کېدلو وروسته د هېواد پر مرکز کابل سربېره په ګڼو ولایاتو کې هم مطبعې جوړې شوې وې.

او دا ټول روښانوي، چې امان الله خان او د هغه ملګرو په ټینګه په هېواد کې د بیان د آزادۍ اصل ته عقیده درلوده. ددغه بحث د پای لپاره ښه به وي، چې په دې باب یخپله د امان الله خان هغه په ټینګار وینا واورو، چې د جلال آباد په لویه جرګه کې یې د ملت استازو ته وکړه. هغه په یوه برخه کې وایي: "د خدای ج لپاره هڅه وکړئ، ویښ اوسئ او یوه دقیقه هم د ملت، مملکت د حکومت د خیر او د نیکۍ له فکر څخه غافل مه اوسئ، چې د دنیا او آخرت بدنامي به مو په برخه وي. تاسې باید بلې! بلې! ویونکي ونه اوسئ او نه هرڅه د نې په ویلو رد کړئ. بلکې هرڅه مو چې د ملت او مملکت د ترقۍ په برخې کې په فکر کې ګرځي، په آزاده او حقاني توګه په لوړ او صاف آواز بیان کړئ... زه! هر کار چې کوم غواړم چې د ملت په مشوره وي..."(١٧)

## امـان الله خـان د موسـيقۍ د پراختيـا، علمـي کېـدو او لوړتيا په برخه کې:

لومړی خـو دا خبـره بايـد څرګنـده کـړم، چـې امـان الله خـان پـه اصـل کـې پـه يـوې موسـيقۍ پـروره کورنـۍ کـې زېږېـدلی. د هغـه نيکـه (اميـر عبـدالرحمن خـان) پخپلـه لـه موسـيقۍ سـره ډېره مينـه درلـوده او پخپلـه اميـر عبـدالرحمن خـان د موسـيقۍ ځينـي آلات ډېـر ښـه غـږول. هغـه لـه نورسـتان نـه دوه ښځـې، چـې د هغـې سيمې ښکلـې او د ښـه غـږ هنرمنـدانې وې خپـل دربـار تـه راوسـتلې (ګلشـاه سـول او ديتـو). دغـه راز اميـر لـه هندوسـتان څخـه هـم دوه ښکلـې هنرمنـدانې خپـل دربـار تـه دعـوت کـړې (کاکـل او ګـورا) چـې تـل بـه يـې دربـار کـې د موسـيقۍ لـه بېلابېلـو سـازونو سـره سـندرې ويلـې. د هغـه پـه دربـار کـې پـه دغـو هنرمنـدانو سـربېره د موسـيقۍ او پـه ځـانګړې توګـه د افغـاني موسـيقۍ ډېـر غـوره اسـتادان لـه يـو لـوړ مقـام او ښـه نـوم څخـه بـرخمن وو. هغـو تـه معـاش ورکـول کېـده او څـه ناڅـه هـره ورځ او شـپه بـه د دربـار ه يـو اړخ نـه د موسـيقۍ انګـازې خپـرې وې. د "ګلـو ځولـۍ" ليکـوال اروابنـاد مصطفی جهاد په دې باب يوځای داسې ليکي:

"... آن تـر دې چـې ويـل کېـږي اميـر عبـدالرحمن پـه خپلـه هـم ډېـر ښـه ربـاب وهـلای شـو او د موسـيقۍ پـر ځينـو اسـرارو يـې هم لږه او ډېره پوهه درلودله."(۱۸)

دغه راز د هغه زوی او د افغانستان پاچا امیر حبیب الله خان هم د خپل پلار په شان له موسیقۍ سره خورا ډېره مینه درلوده. هم امیر عبدالرحمن خان او هم امیر حبیب الله خان د افغاني موسیقۍ او کلاسیکې موسیقۍ د پراختیا او ودې لپاره د یادونې وړ خدمتونه کړي. هغوی له هندوستان څخه د کلاسیکې موسیقۍ یو شمېر پوهان، استادان او هنرمندان افغانستان ته راوغوښتل او هغوی ته یې په افغانستان کې د موسیقۍ د سمون او پیاوړتیا دندې ورکړې. امیر حبیب الله خان د خپل پلار په هڅونه او د دربار د موسیقي پوهانو په مرسته د پیانو غږول زده کړل. هغه ډېره ښه پیانو غږوله.

د افغانستان د راډیو تلویزیون پخوانی او تکړه هنرمند او مشهور طبله غږونکی استاد محمد آصف وایي:" امیر حبیب الله خان په خپل وخت کې خانقاګانې هم جوړې کړې. زما پلار محمود خان هم ددې ترځنګ، چې د دربار یو ښه او مقرب هنرمند و، د خانقا ډېر مینه وال و. هغه نه یوازې طبله وهله، بلکې د موسیقۍ نور آلات لکه سارنګ هم ډېره ښه غږوله او هم د هارمونیې ښه استاد و او پخپله امیر حبیب الله خان د هغه او د نورو هنرمندانو ډېر ښه مشوق و. په همدې ډول باید ووایم، چې په هغه وخت کې ښځو او نارینه هنرمندانو یوځای او په ګډه سندرې ویلې..."(١٩) امیر حبیب الله خان د "خرابات" د سیمې د ودې او په خلکو کې د

موسیقۍ د پراختیا په ستر امر کې خورا اغېزمنه برخه واخیسته. د هغه په وخت کې موسیقي د خلکو کورونو، ودونو او د خوښیو نورو غونډو ته هم لاره وکړه او امان الله خان دغه ځوان او تنکی شاهزاده په دغه شان یو هنر پروره دربار او کورنۍ کې رالوی شو.

"د امان الله خان په دوره کې د لومړي ځل لپاره موسیقي د مرکز د دریو سترو ښوونځیو یعنې اماني (چې بیا د نادر خان له خوا یې نوم په نجات بدل شو)، حبیبیې او دارالمعلمین په درسي پروګرام کې د یوه مضمون په توګه داخله شوه. استاد قربان علي د استاد نتو پلار د اماني په ښوونځي، استاد پیر بخش په دارالمعلمین او په خپله استاد نتو د حبیبیې په ښوونځي کې د موسیقۍ د مضمون د ښوونکو په توګه مقرر شول. دغو استادانو په یادو شویو ښوونځیو کې په هره اونۍ کې دوه ورځې شاګردانو ته د موسیقۍ تدریس کاوه."(۲۰)

د امان الله خان د دربار یوه پیاوړې برخه د افغاني موسیقۍ برخه وه. دا لکه یوه ټولنه او یا لکه یو هنري مرکز له ځانګړي اعتبار او ټاکلو مقرراتو څخه برخمنه وه. ددغه هنري مرکز حارنه او پالنه پخپله امان الله خان کوله. د افغاني او کلاسیکي موسیقۍ استادانو، پوهانو او هنرمندانو ته ځانګړې درناوی او ځانګړي امتیازات موجود وو. استاد قاسم افغان یو له دغو نامتو هنرمندانو څخه و،

چې د امان الله خان تر لارښووني او څارنې لاندې یې د افغاني موسیقۍ او کلاسیکې موسیقۍ د ودې او سمون لپاره نه هېرېدونکې خدمتونه کړي. په ځینو اسنادو او مدارکو کې راغلي، چې امان الله خان به کله کله شوقي سندرې هم ویلې او پیانو یې ډېره ښه غږوله " لکه څنګه چې څرګنده شوې ده غازي امان الله خان په خپله هم له افغاني موسیقۍ سره خورا زیاته مینه درلودله او آن تر دې حده یې دا ظریف صنعت خوښ و، چې د خپلې شهزادګۍ په زمانې کې یې له خپل پلاره پټ د استاد قاسم تر نظر لاندې او د هغه په لارښوونې یې پیانو زده کړه، چې په زیات مهارت سره یې غږولی شوه، څکه نو کله چې واکمنۍ ته ورسېد، نو خپل پوه استاد او د اوسنۍ افغاني موسیقۍ بنسټ ایښودونکي ته یې د افغاني موسیقۍ د اصولي احیا کولو لپاره پوره صلاحیت ورکړ...(۲۱)

امان الله خان د څان او د خپلو انقلابي ملګور هغه کرکه چې د ښکېلاګرو انګرېزانو په وړاندې یې لرله، کله کله د موسیقۍ له لارې څرګندوله او په دې برخه کې د هغه هنرمند ملګري همدا استاد قاسم افغان او استاد فرخ افندي و.

که په ژورنالېزم او مطبوعاتو کې ددغه سنګر ملګری محمود طرزي، مولوی صالح محمد خان کندهاري او نور وو او که د ادبیاتو له سنګر نه د عبدالهاي داوي، غلام

محی الدین افغان او یو شمېر نور لیکوال او شاعران د هغه ملګري وو، نو د موسیقۍ له دغه هېواد پالونکي سنګر څخه امان الله خان د استاد قاسم افغان، استاد فرخ افندي او یو شمېر نورو هنرمندانو ملګرتیا له ځان سره درلوده.

" د خپلواکۍ په جګړو کې تر بري وروسته چې لا د خپلواکۍ معاهده نه وه لاسلیك شوې، نو د انګرېز یو عالیرتبه شخصیت د خبرواترو لپاره کابل ته راغی دغه سړي ته چې (مستر داپس) نومېده، رسمي مېلمستیا وشوه او استاد په دې مېلمستیا کې د سندرو بللو لپاره راوغوښتل شو، خو کله چې استاد په دې پوه شو چې دا سړی د انګلیس نماینده دی، نو څنګه چې د هغه سترګې شنې وې، استاد حسب الحال په سندره کې داسې یو بیت ووایه:

میزند چشم کبود تو به مژگان ناخن

ترسم ای شوخ میان من و تو جنگ نشود.

(داپس) چې په دري ژبه هم پوهېده، نو ویې ویل چې ماته دې وویل؟ استاد وویل، چې هو! او بیا یې دا بیت هم ووایه:

همینجا صلح کن با ما چه لازم

که در محشر زما شرمنده باشی.

که څه هم چې (داپس) د استاد پر دې وینا خواشینی شو، مګر غازي امان الله خان ته یې خورا خوند ورکړ، نو (داپس) د مجلس د نزاکت لپاره څه ونه ویل او خبره یې بله خوا

بوتلـه او اسـتاد تـه يـې وويـل: د موسـيقۍ کـومې آلـې پـه مهارت سره غږولی شئ؟ استاد ځواب ورکړ، چې ټولې يې. (داپس) وويـل: آيـا پيـانو هم؟ اسـتاد وويـل: هـو! نـو بيـا (داپس) داسـې وويـل: آيـا د افغـاني خاصـې موسـيقۍ هغـه طـرز چـې تاسو پـه خپلـه ترتيـب کـړی ماتـه هـم رازده کـوئ؟ اسـتاد وويـل: هـو! خـو پـه دې شرط چې کومـه نغمـه مـا د پيـانو لـه يـوه سـره راشـروع کـړه، نـو تـه بـه يې هـم لـه بلـه سـره لکـه زمـا پـه شـان غـږوې. (داپـس) ومنلـه او اسـتاد د پيـانو سـره يوځـای پخپـل خواږه غږ دا ترانه شروع کړه:

مـکتب ماست جای استقلال

درس ما نکته های استقلال(۲۲)

او پـه دې توګـه زمـوږ د خلکـو د خپلواکـۍ غـوښتنې ترانـه • اسـتاد قاسـم پخپلـه پـه انګرېز داپـس وويلـه. "وروسـته اسـتاد د ملـي غـرور يـو شـعر، چـې شـاعر يـې مرحـوم مسـتغني دی هـم پـه دې مېلمستيا کې وبولـه، چـې پـه هـر بيـت سـره يـې خلکـو لاسـونه پـرکـول او د اسـتاد پـه موقـع پېژنـدنې يـې شاباسـونه ويلې، چې دلې به يې د سر څو بيتونه وکاږو:

کيسـت افغـان؟ در زمـان ګيـر و

دار

مـی نترسـد از نهيـب کـار زار

اشـك رسـتم غيـرت اسـفنديار

کـی بـود از خصـم رو ګـردانيم

گـــر نـــدانی غیـــرت افغـــانیم
چـــون بـــه میـــدان آمـــدی
میـــــــــــدانیم"(۲۳)

غـازي او فرهنگـي امـان الله خـان خپـل اسـتاد او د افغـاني موسـيقۍ دغـه خـدمتگار هنرمنـد تـه د (اسـتقلال) مـډال پـه خپلو لاسونو ورکړ. دغـه راز هغـه استاد قاسم افغـان تـه د سرو زرو يـو بـل نښـان د (مسـرت) پـه نامـه هـم ډالـۍ کـړ او د (موسـيقۍ د لمر) ستر لقب يې هغـه تـه وروباښـه.امـان الله خـان يـو شـمېر هنرمنـدان پـه ځينو بهرنيـو هېـوادو کـې د موسـيقۍ پـه برخـه کـې د مسـلکي زده کـړو د ترلاسـه کولـو لپـاره واسـتول، چـې پـه دې لـړ کـې يـو زيـات شـمېر زلميـان د هندوسـتان، تـرکيې، شـوروي اتحـاد او يـو شـمېر نـورو هېـوادو هنري مرکزونو ته واستول.

دغـه راز امـان الله خـان پـه بهـر کـې ټولـو افغـاني سفارتخانو تـه هـدايت ورکـړی و، چـې د موسـيقۍ او ښکلـي هنرونـو پـه برخـه کې د يـو شمېر پوهـانو پـه لټـه کې شي، چـې وروسـته بيـا افغانسـتان تـه راوبلـل شـي او دلتـه زده کوونکـو تـه بـه درسـونه ورکـوي. پـه دې لـړ کې پـه پـاريس کـې افغـاني سفير او د هېـواد د ژورنـالېزم پـلار محمـود طـرزي لـه يـو تـن خـورا غـوره او تکـړه هنرمنـد اروابنـاد محمـود فـرخ افنـدي سـره آشـنا شـو. اسـتاد فـرخ يـو بـې جـوړې انځـورگر او موسـيقي پـوه و. د دوی پېژندنـه

هم د افندي د يو انځور د پيرېدلو په وخت کې وشوه او محمود طرزي د افندي په لاس دغه رسم په ۱۰۰ فرانکو واخيست. څه موده وروسته يې افغانستان ته رادعوت کړ، چې په دربار کې او د هېواد په ښوونځيو کې د موسيقۍ او انځورګرۍ درسونه ورکړي. استاد فرخ چې کله افغانستان ته راغی، نو تر هرڅه دمخه د امان الله خان له تودهرکلي سره مخامخ شو. د امان الله خان په هڅونه استاد فرخ هم په دربار او هم د هېواد په بېلابېلو روزنيزو مرکزونو کې د موسيقۍ او انځورګرۍ د اصولو په زده کړې اخته شو. يو ليکوال د هغه په باب داسې ليکي:

"محمود فرخ افندي د پغمان له سيما_تياتر څخه بيا د کابل تر سينما پورې کله چې ساکت يا بې آوازه فلمونه ښودل کېدل، نو د پيانو او ويلون په غږولو سره به يې د مرحوم استاد قاسم او مرحوم استاد غلام حسين سره يوځای د سينما متحرکو اشباحو ته ژوند باښه..."(۲۴)

استاد فرخ افندي د لومړي ځل لپاره د غربي موسيقۍ په اصولو سره زمونږ د هېواد د موسيقۍ د تنظيم او ودې ورکولو لپاره د وياړ وړ خدمتونه ترسره کړل. استاد فرخ د امان الله خان په مستقيمه هڅونه او تشويق درې زره ملي او فکلوري سندرې چې زمونږ په ولس پورې اړه لري، راټولې او د نوټېشن په وسيله يې ثبتې کړې. نوموړی چې يو ښه رسام او انځورګر هم و او کله چې د امان الله خان د کورنۍ يو تن

ورځخه د یو رسم غوښتنه وکړه، نو هغه انځور یې وکېښ او په یوه لویه کوړنۍ غونډه کې یې په داسې حال کې، چې امان الله خان هم ولاړ و، وروسپاره. دی پخپله وایي:

"...ما څو ورځې پر رسم کار وکړ، کله چې تکمیل شو اعلیحضرت په داسې حال کې چې طرزي صاحب، ملکه ثریا او د اعلیحضرت مور حاضر وو د طرزي صاحب مېرمن، څهره وغوښته. په دغه وخت کې اعلیحضرت ماته وویل:"اوس ته زما ورور یې.... په دغه وخت کې اعلیحضرت د خپلې خور په لاس یوه خوانچه پتنوس چې اصل وریښمین دسمال پر اوارو و، ماته په دواړو لاسو تقدیم کړ او زه یې په دغې خوانچې وویاړلم. کله چې ما د شاپسته پتنوس څخه دسمال پورته کړ، چې دوه سوه اماني طلاوې پکې پرتې وې..."(۲۵)

امان الله خان په پټه او ښکاره د هنرمندانو پالنه، تشویق او له دوی سره هر راز مرسته خپله دنده ګڼلې وه. د ډنمارك د Fjord تلویزیون سره په مرکه کې تکړه هنرمند او مشهور طبله غږونکي استاد محمد آصف محمود یوځای داسې وایي:

"امان الله خان او د هغه کورنۍ هنرمندانو ته ځانګړې پاملرنه درلوده. زما پلار اروابناد محمود موږ ته دا کیسه کړې وه، چې زما (د استاد آصف پلار) واده و، کورنۍ د واده په سمبالښت لګیا وو، ځکه سبا ته واده و. ماښام

ناوخته زمونږ د کور دروازه وټکول شوه، هغه وخت خو په کوخه کې څراغ نه و، نو ځوك دروازې ته ورغلل او مېلمنو وويل: دا د محمود خان کور دی؟ هغه وويل: هو! بيا يې هيله وکړه، چې محمود خان دروازې ته راشي. مېلمانه دوه کسه وو، چې په سپينو کاليو کې يې ځان پټ کړی و، زه چې دروازې ته ورغلم نو يو تن مېلمه چې مخ يې پټ کړی و، راته وويل، چې زه هماغه ځوك يم، چې ستا څخه څو روپۍ قرضداره وم، نو واخله دا پيسې. ما چې پيسې اخيستې، نو د دغه مېلمه له غږ نه وپوهېدم، چې دا اعليحضرت غازي امان الله خان دی، چې مهرباني يې کړې او په دغه شان يو وخت کې يې پر مونږ شفقت کړی."(۲۶)

ادب پروره او فرهنگي پاچا امير امان الله خان ډېره مينه درلوده، چې د موسيقۍ ترڅنګ افغاني ادب، هنر او په ځانګړې توګه ډرام په افغانستان کې لاپسې وده وکړي. ددې کار لپاره امان الله خان هم د دربار په فرهنګي برخه کې او هم د کلتوري چارو په مرکزونو کې دغه اصل ته ډېره پاملرنه درلوده. آن تر دې چې له دغې مهمې لارې يې د انګرېز پر ضد مبارزه خپله کړې وه. په يو سند کې راغلي، چې "قاضي رحيم الله خان په کال ۱۹۲۸ کې "نوې روښني" په نوم ډرامه (چې بيا امان الله خان د افغانستان پاچا هم دا ډرامه کابل ته وغوښته)..."(۲۷)

په همدغه اثر کې يو ځای لولو: "په افغانستان کې په

۱۲۹۹ هـ ش کال د اعلیحضرت امان الله خان په سلطنت کې ځینې وړې وړې تمثیلي ټوټې (پارچې) د ښوونې او روزنې په چوکاټ کې د پوهنې شاګردانو له خوا ننداريې ته وړاندې شوې."(۲۸)

او په دې توګه ګورو، چې امان الله خان د یوې ملي او فرهنګي څېرې په توګه هم د هېواد د فرهنګ په ویاړلي تاریخ کې ځان راڅرګند کړی او د افغان کلتور او هنر په وده کې یې په هغو حساسو، اورنیو او کړکېچنو شېبو کې هم خپله ونډه اخیستې ده.

***اخځونه:***


۱ـ وګورئ: ر، ای. اولیانوفسکي، د ملي آزادۍ بخښوونکو مبارزو په هکله مقالې. پروګرس، مسکو ۱۹۸۳، ۳۲ مخ نه وروسته.
۲ـنفتو لاخالفین د انګلستان د افغانستان پر ضد، ۱۷۹ـ۱۸۰ مخونه.
۳ـ // // // // //
۴ـ وګورئ: بررسی اوضاع اقتصادی، اجتماعی وسیاسی افغانستان طی سال های ۱۹۰۱ـ۱۹۱۹ میلادی و شرایط بین المللی استرداد و استقلال. مولفان کاندید اکادمیسین محمد اعظم سیستانی، و محقق عبدالله مهربان. چاپ مطبعه دولتی، ۱۳۶۸، ۳۹ مخ.
۵ـ د اساسي نظامنامې اتمه ماده.
۶ـ ورځ مجله، لومړی کال، شپږمه ګڼه، ۱۹۷۹، (لویه جرګه) د پوهاند قانونپوه ډاکټر محمد طاهر بورګي.
۷ـ وګورئ: افغانستان په شلمه پېړۍ کې، د پوهنیز سیمینار د لیکنو ټولګه، جرمني کولن ښار، د صالحه خالقي د مقالې ۱۳۶ مخ.
۸ـوګورئ: په افغانستان کې د ښځینه زده کړو تاریخي سیر ۳۲ مخ، ۱۳۷۵ کال، پېښور، د حبیب الله رفیع لیکنه.

۹_ورځ مجله، لومړی کال ۶مه گڼه، د (لويه جرگه) په نوم د قانونپوه ډاکټر محمد طاهر بورگي ليکنه، ۱۶مخ.
۱۰_ هماغه مجله، ۱۶ مخ.
۱۱_ اوضاع اقتصادی، اجتماعی و سیاسی افغانستان طی سال های ۱۹۰۱_۱۹۱۹م و شرایط بین المللی استرداد استقلال، چاپ مطبعه دولتی، ۱۳۶۸، ۴۳ مخ.
۱۲_ د افغانستان لنډ تاريخ، ليکوال علامه عبدالحی حبيبي، ۳۴۰ مخ.
۱۳_ پښتانه د تاريخ په رڼا کې، ليکوال ظفر کاکاخېل، ۸۴۱ مخ.
۱۴_ د راډيويي ستېشنونو په باب د اطلاعاتو او کلتور وزارت رساله.
۱۵_وگورئ پښتانه د تاريخ په رڼا کې، د ظفرکاکاخېل ليکنه، ۸۴۵مخ.
۱۶_ د تمدن سوغاتونه، ليکوال، حبيب الله رفيع، ۳۰مخ.
۱۷_وگورئ: ورځ مجله،" لويه جرگه" د پوهاند بورگي ليکنه، ۷ مخ.
۱۸_ د گلو ځولۍ، ليکوال مصطفی جهاد، ۴۱ مخ
۱۹_ د ډنمارك له Fjord تلويزيون سره د استاد محمد آصف تلويزيوني مرکه، مرکه کوونکی يوسف هېواد دوست. د ۲۰۰۴ کال د جولايي ۲۰مه.
۲۰_د گلول ځولۍ، ليکوال، مصطفی جهاد ۴۱ مخ.
۲۱_ همدغه اثر // // ۴۲ مخ
// // // ۸۸ مخ
۲۲_ // // // ۸۸ مخ
۲۳_ // // // ۸۸ مخ
۲۴_ ژوندون مجله، ۲۱ گڼه، ۱۳۳۷ کا د اسد گڼه.
۲۵_ افغاني موسيقي، مولف: څېړنمل محمد دين ژواك.
۲۶_ د ډنمارك له Fjord تلويزيون سره د استاد آصف مرکه، مرکه کوونکی: يوسف هېواد دوست، ۲۰۰۴ کال د جولايي ۲۰.
۲۷_ وگورئ: د ډرامې تاريخ او فن، مولف شهسوار سنگروال، ۶۶ مخ.
۲۸_ هماغه اثر، ۶۸ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



*Prof. Dr. Aslam Syed*

# The Man who Liberated Afghanistan

# Ghazi Amanullah Khan

There is hardly any other country in Asia except Afghanistan which has played a very significant role in shaping the events in world history despite its meager resources, landlocked location and constant threat to its unity as a nation. The Mughals rode on its shoulders to their glorious rule in India. The mighty British power had to resort to all sorts of conspiracies, aggressions, and sanctions to ensure that the Afghans stand between the Russian Empire and their possessions in India. The Afghans lives and territory have been used to win the last battle of the Cold War. Now, the Americans are using it as a launching pad not only to ensure it loyalty in their global agenda but also to have

access to the enormous gas and oil resources of Central Asia. When we reflect on the importance of Afghanistan in world affairs, we are created the world and blessed different areas with reiv4rs, mountains, green and fertile valleys, mineral and other resources, those elements of nature that were left were thrown in Afghanistan!

In order to appreciate this pearl of wisdom, we have to understand that despite the apparent poverty and lack of resources in Afghanistan, it has the middle of the confluence of the four great civilizations of the world: the Indian, the Chinese, the Iranian, and the central Asian. Any visitor to Afghanistan. If these features of the Afghan . existence show its strength, unfortunately, they are also the cause of its prolonged misery. But has there been any moment in its history when it proved to the world that if left alone it has the potential of being in the world not as a page of medieval history but Muslim nation? At present, we are concerned with that moment when Afghanistan, under the most difficult circumstances emerged as the master of its own fate. This happened only in one decade under the rule of Ghazi Amanullah Khan, the 17th Amir and the first kind of Afghanistan.

Amanullah was born on June 1, 1892 at Paghman. He was the third son of Amir

Habibullah and Sarwar Sultanah, the Ulya Hazrat (queen). At the time of his birth, Amir Abdul Rahman, his grand-father, was the ruler of Afghanistan. As stated earlier, the British were apprehensive of the Russian advances towards Central Asia and thought that Afghanistan would be their next target; and if they were successful in their plan, they could very well threaten the British Empire in India. Therefore, after the second Afghan War, the British had placed Abdul Rahman on the throne of Kabul with the clear instructions that the Amir was not free in his foreign contacts. In other words, the foreign policy of Afghanistan was in the control of the British. Afghanistan was not independent in establishing diplomatic relations with the rest of the world without the prior permission of British. This was the political reality when this infant grew. He must have realized the state of affairs in a different way than his grand-father or his father. To be born in a society that values freedom more than anything else but is shackled is an enigma in itself. The young Amanullah must have pondered over this situation and must have thought of different ways as to how to rehabilitate the honor of the Afghans that had been compromised by the earlier rulers.

Amanullah came to power in February, 1919, when his father was assassinated during a hunting trip. At that time, he was governor of Kabul and in charge of the military arsenal and

the treasury. He became the new Amir despite the claim of his uncle to throne whom he accused of the complicity in his father's murder. We will not go into the detail of this episode as to who killed his father and why but will concentrate on what followed after he came to power. It was easy to have the military on his side because of his position. After that he convened the Loyal Jirga. He put before this grand assembly of the Afghan elders the prevalent situation in which he found his country particularly the British influence and how it had compromised the freedom of Afghanistan. The Loya Jirga approved his call for Jihad against the British. Before we discuss what happened as the result of this call, it would be relevant to quote a few passages from his address to this assembly. After showing the Jirga that his brothers, Inayatullah Khan and Hidayatullah Khan had sworn allegiance ant that even his uncle had accepted him as the Amir, he said:

"O my Nation with a glorious sense of honor,
O brave Army.

When my great nation was putting the Crown of the Kingdom on my head, I had said with a loud voice that I would accept the Crown and the throne only on the condition that all of you should co-operate with me in my thoughts and idea. These I have explained to you earlier and I repeat here a summary thereof:

Firstly, that the government of Afghanistan should be internally and externally independent and free, that is to say, that all right s of Government that are possessed in their entirety by our nation.

Secondly, you should unite with me with all your forces in avenging the assassination of my late father.

Thirdly, our nation should be free, that is to say, that no individual should be subjected to any high-handedness of tyranny by any other individual. Of course, we are proud of the prophet Muhammad (PBUH) along with our civil and military laws." After this, he abolished the forced labor system (begaar) and vowed that he would place Afghanistan amongst the civilized countries of the world.

With these ideas and vision for the future of Afghanistan, Amanullah began his tenure. He had to face two problems: the external pressure of the British power and internal conditions of the economy, social reforms and educational program. Let us see how he overcame the British problems. As stated earlier, Afghanistan was literary capitulated by the British. They allowed some freedom to the Afghan rulers in their internal affairs but in foreign policy matters they dictated the terms. Afghanistan was not

allowed to establish diplomatic relations, trade agreements, or any other economic or cultural activities with the other nations of the world. Therefore, the most important task before Amanullah was to change this status and seek full freedom for his country.

The British were exhausted because of their heavy involvement in the First World War. Moreover, a new force had emerged in Moscow. Two years before his coming to power the Bolsheviks had replaced the royal family of Russia. Lenin, disappointed at the reaction of the European powers towards the revolution, was looking forward to seeking friendly relations with the Asian countries particularly those which had been the victims of imperialism and colonialism.

Amanullah made a judicious use of this situation. He wrote a letter to the British Viceroy expressing his intention of rejection the British interference in the foreign affairs and declaring Afghanistan fully independent. Almost simultaneously, he sent his emissary top Moscow who was warmly received by Lenin. The Soviet Union responded by sending a representative to Kabul and offering aid to Afghanistan. This was partly to embarrass the British and partly (perhaps, more importantly) to secure the friendship of a Muslim country which could be used by the Muslims of Central Asia in order to counter the Soviet advances in their

area. Amanullah knew it and skillfully exploited the situation by allowing the Indian Muslims to cross into the Central Asia and help the freedom fighters. Nonetheless, the Soviet thought that Afghnanistan's friendship would make some difference. Thus securing his position in the north, Amanullah was now ready to face the British.

After their victory against the Axis powers, the British had initiated a series of repressive measures in the territories of present Pakistan. Rowlett Act was one such measure which was to curtail whatever liberty the British had extended to this part of India. There was unrest in the border areas of Afghanistan. The Muslims of India had declared the British territory as the land of war (dar-al-harb) and a movement known as the Hijrat had been launched. This brought many disgruntled people into Afghanistan. The British Viceroy did not even care to look into the Afghan grievances. Amanullah suddenly attacked the British positions across the border in May 1919. He was helped by the Pashtun tribes form both sides of the border. The British had to face some initial humiliations in this war which history remembers as the third Afghan War. But soon they were able to recover when they started air attacks on Kabul and Jalalabad. The Afghans could not face this new menace as they did not have a single combat plane. At the same time,

the British were unwilling to wage a war in the tribal areas. Both sides agreed to sit around the negotiation table. The result was the 1919 Rawalpindi Agreement which did not grant what Amanullah had asked for but some leverage was granted by the British. The Negotiations continued and finally a treaty was concluded in 1921. Even the final treaty was inconclusive on the border issues but in foreign affairs, Afghanistan did emerge as an independent country. The two years of negotiations witnessed Afghanistan signing treaties of friendship with the Soviet and Iran. There is hardly any diplomatic triumph.

After securing the independence of his country Amanullah embarked upon established diplomatic relations with other countries. Relations with the Soviet were more complicated than with any other country. Amanullah never trusted the Soviet for the simple reason that they were cruelly suppressing the Muslim states of Central Asia and wanted Afghanistan's regain the oases of Merv and Panjdeh, the Soviets repulsed these attempts. Relation between the tow countries, however, improved in this twilight of expediency a suspicion. After the initial gestures of 1919, the Soviet gave money, planes, pilots, and experts to develop Afghanistan's communication and transport system.

The British had no choice but to keep on appeasing the Afghan ruler in the wake of the Soviet presence on the other side. Though sometimes, they would resort to such cheap tactics as not addressing the ruler as 'your majesty' or refusing the transit goads to Afghanistan through their territory. Amanullah also responded in his own way how to keep the British engaged. He allowed many Indian nationalists like Subhash Chander Bose easy transit to contact the other revolutionaries in the world who wanted an end of the British Imperialism in India. In addition, he established diplomatic relations with the major European powers and the neighboring Iran. In 1927, he toured the capitals of Europe including Britain and established relation s with Turkey, France, Germany, and Italy. For the first time in history, Afghanistan had reached out to the world for its recognition as an independent state.

Amanullah had emerged as a national hero. The Afghans loved him as he had won for them the most cherished honor the freedom. In 1926, he assumed the title of kind, thus burying the old legacy of being an Amir. Now, he wanted to transform Afghanistan and initiated as series of reforms. As stated earlier, he abolished the system of forced labor.

Very soon, like Raza Khan of Iran, he came under the spell of Mustafa Kamal Ataturk. He invited advisors from Turkey and started a series

of reforms that he believed would transform Afghanistan. His father-in-law, Mahmood Beg Tarzi, a pro intent intellectual of Afghanistan understood the Kind's zeal for undertaking radical measures in the social, economic, political, and educational fields. He adopted the solar calendar, discouraged the veiling and seclusion of women, introduced the Western dress in Kabul and a few other areas, opened schools for secular education, encouraged the girls' education, and started a program for adult and nomad's education. His political and judicial reforms included the first constitution for Afghanistan universal franchise, and creation of a court system with secular penal, civil, and privileges for tribal chiefs and the royal family. In the economic field, he corruption. Eager to put Afghanistan on its feet, he wanted to introduce and effective system of taxation and ordered the budget (1922), introduced the metric system which didn't take roots, gave his people a new currency, the afghani (1923), and established the Bank-i-Milli in 1928.

This was a revolutionary agenda for any country in Asia. In order to bring his ideas into practice, he sent his officers in the military and civil administration to Turkey, Italy, and France for training, opened English, German, and French schools and sought assistance from different countries to help transform the Afghan society. We can imagine where Afghan society.

We can imagine where Afghanistan would be today if all this that he dreamed for his country would have been materialized. In order to implement such an agenda, he needed a centralized government and a loyal army. Mahmood Tarzi warned him and asked him to go slow an understand the dynamics of the Afghans society. He insisted that unless he has an infrastructure to support his policies, these measures would not succeed. But Amanullah was more of an enthusiast than a realist. He listened to the advice of his Turkish advisors and undertook such measures that were going to fire back.

The foreign advisors work on the agenda that is given to them and this has been, and still is the problem of the third world leaders that they listen more to their foreign advisors that to their own people who understand their society. Anamullah also listened to his foreign advisors than to the people like Tarzi who knew his people. The King had come to power because of the support of the army, but under the influence of these advisors, he tried to change the structures of his army by reducing the salaries and minimizing the influence of the tribal chiefs. He promised benefits to the soldiers but these benefits were never realized. He changed the recruitment methods to prevent the tribal leaders form exerting their influence and increased the period of conscription form two to three years.

He also retired the old officers who had supported him. He quest for a professional army in Afghanistan alienated even the solders who could have provided him the help that he needed desperately. He didn't listen to even his war minister, General Nadir Khan asked him to keep in view the sensitivities of the tribal structure of Afghanistan and no to alienate the tribal chiefs. But Amanullah was under the influence of his foreign advisors and ignored these advices. General Nadir Khan left his position in the army and opted for the ambassadorship of France.

Amanullah did not anticipate what could happen in the wake of his reforms. He had dealt with the British and the Soviets effectively and achieved what he could under the circumstances. But he ignored the dynamics of his people. Like many third world leaders, he was happy that his country was on the road to Westernization and was happy to see his daughters and wives and many of the prominent citizens of Kabul dressed like Europeans but did not realize that Afghanistan was not Kabul. Huddleston's remarks must have sounded like music to him who wrote in 1928 the following remarks about Afghanistan.

"It is becoming a modern state. Its road communication has been transformed. There is a well-trained army. There are excellent schools

....in the center of Asia what is almost a new country is in the process of birth or at least, the old country is being metamorphose."

Roads and school are indeed important and we have to give Amanullah credit for bringing about these important changes in his society. But what he missed was the sensitivities of his tribal society. The changes that he brought in the army were too radical to be sustained. He should have gone slowly in understanding that he was transforming a society which was proud of its culture and the sense of honor. Moreover, he thought that the British had adjusted to the new developments in Afghanistan and had accepted him as the kin of his country. It is usually believed that his program of Westernization alienated the clerics and his reforms in the army turned the tribal chiefs against him. But if we see the people who were really affected by his reforms were the urban dwellers mostly. Those who lived in the areas awry from the cities had neither benefited nor were wronged by him except the chiefs who were not happy at seeing their influence being eroded. The British encouraged the religious leaders against him and the result was that in the winters of 1928, the Shinwari Pashtuns revolted in Jalalabad. When they advanced towards Kabul, many of the king's troops deserted and joined the rebels. Then another menace appeared and that was in the form of a

Tajik, who called himself Habibullah but is remembered in history as Bacha-i-Saqqao (the son of a water carrier). He moved his tribesmen form the north and attacked Kabul. Amanullah had no option but to abdicate the throne in the favor of his brother, Inayatullah and leave the country. He went into exile in Italy and died in 1960 in Zurich.

This was the fate of one of the most enlightened ruler of Afghanistan. He had the right vision for Afghanistan and loved his county. He wanted to make it a modern and progressive nation in the word. But his enthusiasm lacked that realism which is the most important element for any ruler to be successful. Afghanistan faces the same situation today. The man who is running the show is a former employee of an American oil company and is he is also under the influence and to some extant dictation of his advisors and former bosses. Will he be able to keep in view the social dynamics of his society in carrying out his agenda or will he face the same problem like many of his predecessors, is something that future will unfold.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# انځــورونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شهزاده امان الله خان

(c) ketabton.com: The Digital Library



امیر امان الله خان




امیر امان الله خان په ترکستانی جامه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



امیر امان الله خان په فرانسه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاچان امان الله خان په روم (ایتالیا) کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملکه ثریا په روم (ایتالیا) کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د امیر امان اله خان او ملکه ثریا عکسونه د هغې د زوی د مېز پر سر

(c) ketabton.com: The Digital Library



امان الله خان او ملکه ثریا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملکه ثریا

(c) ketabton.com: The Digital Library

Samstag/Sonntag, 13./14. Dezember 2003 NACHRICHTEN Süddeutsche Zeitung Nr. 2

# Schwören auf die „arische Bruderschaft"

Nicht erst seit dem Einsatz der Bundeswehr am Hindukusch fühlen sich die Afghanen – den Deutschen besonders verbunden



*Glanzvoller Staatsbesuch: König Amanullah (links) 1928 in Berlin bei Reichspräsident Hindenburg.* Foto: Scherl

امیر امان الله خان په برلین کې (۱۹۲۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Ghazi Amanullah Khan
# Star of Independence
# of Afghanistan.

*Collection of Articles*

د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه ــ جرمني

VEREIN ZUR FORDERUNG DER
AFGHANISCHEN KULTUR E.V

د خپرونو لړ (۷۲)

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**